# پښتو مثنوي

مرحوم مولوی صالح محمد کندهاری

مهتمم : غلام محمد تره‌کی


دافغانستان اکادیمی

دپښتو دانکشاف او تقویې ریاست

کابل

۱۳۵۰

خپروونکی

حبیب الله حمدالله صحافان او کتب فروشان

دارگ بازار کندهار افغانستان

دوهم چاپ ۱۳۶۸ لمریزکال


Download from:aghalibrary

# پښتو مثنوي

مرحوم مولوی صالح محمد کندهاری

مهتمم : غلام محمد تره‌کی

دافغانستان اکادیمی
دپښتو دانکشناف اوتقویې ریاست

کابل
۱۳۵۰

PROPERTY OF ACKU
2337

خپروونکی

حبیب الله حمدالله صحافان اوکتب فروشان
دارګ بازار کندهار افغانستان

دوهم چاپ ۱۳۶۸ لمریزکال

# بسمه تعالی

دمرحوم مولوی صالح محمدکندهاری داخوږ ادبی او فکری اثر چی زموږ دمعاصر ادب یوخوږ اوګټه‌ور او روان شعر دی، دافغانستان اکاډیمی دپښتو دانکشاف اوتقویت دځانګی له‌خواپه احترام تاسی‌ښاغلو لوستونکو ته وړاندی کیږی .

موږ غواړو چی پښتنو ګرانو لوستونکوته ځنی ادبی آثار او علمی ترجمی اوداسی کتابونه تقدیم کو،چی‌دښاغلو لوستونکولپاره په‌ژوندانه کی‌مفید وی .

له خدایه په‌دی‌لارکی توفیق‌غواړواودا ادبی‌اثر لوموړی تاسی ته‌وړاندی کوو .

محمد ابراهیم (خواخوږی)

دپښتو دانکشاف اوتقوی رئیس

# فهرست


| | |
|---|---|
| سرلیك | مخ |
| مولوی صالح محمد | الف |
| پښتو مثنوی | ۱ |
| زما عرض | ۲ |
| بیلتون | ٤ |
| حضرت انسان وایی | ۷ |
| خیراوشر | ۱۰ |
| حکایت | ۱۰ |
| دصحابې نا جوړتیا .... | ۱۲ |
| دمجنون عشق دلیلاسره | ۱۳ |
| دعشق پسترګه | ۱۵ |
| خلورغله او یو دباغ څښتن | ۱٦ |
| دزمری اودسوی قصه | ۱۸ |
| سوداګر او طوطی | ۲۲ |
| سپینه ږیره اوتورمخ | ۲٥ |
| ګناه اوغرور | ۲٦ |
| اخلاص | ۲۷ |
| حکایت | ۲۷ |
| سیال اوناسیال | ۲۹ |
| حکایت | ۳۰ |
| د ناجنس آشنایی | ۳۱ |
| دبنلبه هیله | ۳۳ |
| ژړا | ۳٥ |
| حکایت | ۳٦ |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| قضا | ۳۸ |
| تینګ عزم | ٤٠ |
| برخه | ٤٢ |
| زړه اوبدن وساقي | ٤٤ |
| عشق | ٤٧ |
| طلب | ٤٩ |
| ذکر | ٥٠ |
| دحیات دورونه | ٥١ |
| مناجات | ٥٣ |
| شاعر اوچنجي | ٥٣ |
| جهان | ٥٧ |
| ژوند اوجهان | ٥٨ |
| اولیا | ٦١ |
| دقرآن شکایت | ٦٣ |
| اسلام | ٦٤ |
| علم | ٦٧ |
| دنس غم | ٦٩ |
| مثال | ٧٠ |
| پښتو ژبه اومحاوري | ٧١ |
| ددنیا مثال | ٧٢ |
| ژمی اوپسرلی | ٧٥ |
| ژبه اوخبري | ٧٨ |
| دلویانو نظر | ٧٩ |
| دجامعي کارونه | ٨١ |
| بزګر وایي | ٨٢ |
| بنا (خټګر) وایي | ٨٣ |
| ترکاڼ (نجار) وایي | ٨٣ |
| جولاوایي | ٨٤ |
| پوونده وایي | ٨٥ |

| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| سوداگر وایی | ۸٦ |
| خرکار اوپارو کښ وایی | ۸٦ |
| نانوای وایی | ۸۷ |
| خارکښ وایی | ۸۸ |
| کلال وایی | ۸۹ |
| کنی‌باف وایی | ۹۰ |
| طبیب وایی | ۹۰ |
| جناب ملاصاحب وایی | ۹۱ |
| عسکر وایی | ۹۲ |
| حاکم اومامور وایی | ۹۳ |
| پاچا وایی | ۹٤ |
| جناب پیراومرشد وایی | ۹۵ |
| زاهد اوگوښه نشین وایی | ۹٦ |
| معلم وایی | ۹۷ |
| مهندس وایی | ۹۸ |
| ادیب وایی | ۹۹ |
| نتیجه | ۱۰۰ |

# مولوی صالح محمد قندهاری

## کور نی او روز نه :

دقند هار دښار دکابل بازار دملاګلداد اخوند په کو څه کی د هو تکو یوه کور نی اوسیده ،چی ددوی کارسودا ګری وه ، خودادبی او علمی ذو ق خا وندا ن هم وو .

ددیر لسم هجری قرن په اواخروکی ددی کور نی یوه سړی حا جی محمد اکبر دپښتو ادبه سره ډیره‌مینه در لوده ، ده دپښتو خطی او چاپی کتابو نه سره ټول کړی وو،اوپه دی ژبه یی لیك او لوست کاوه . اودا هغه وخت و، چی دافغا نستان‌په‌خلکو کی دامیر شیر علی خان دپا چهۍ په وخت کی یو دوپښتابه‌غور څنګ پیدا سوی‌و ، او په دی تر خ کی دپښتو ژبی ور سمیت او‌پرور ښت ته هم مخه سوی وه .

په دی کورنۍ کی‌په ۱۳۰۸ ق کال‌مو لوی صا لح محمد وزیږ یدیء، چی دپلار نوم ئی فیض محمدو ،اودی دخپل مور نی نیکه مو لـــوی عبدا لرؤف‌اود خپلو ماما ګانومولوی‌عبدا لو اسع‌شهیداومو لوی‌عبدالرب ترپا لنی لاندی په قند هار اوکابل‌کی وروز لی سو ، او په څلورو ژبو پښتو ــدری ــ عــر بــی اواردوپو هیدی ء .

دی پنځلس کلنی زلمی ؤ، چــی‌له قند هاره‌کابل‌ته راغیء ،اودچوب فرو شۍ په شا هی مدر سه کــی‌دخپل نیکه مو لوی عبدا لروف سره اوسیدیء ، چی هغه د شا هی‌مدرسی‌مدرس اود قا ضیانو ممتحن اودپاچا دحضور ملاو .

دی دلته په یوه علمی محیط کــی‌وروزل سو ، او کله چی حبیبیــــه مدر سه (او سنۍ لیسه ) په کابل‌کی‌جوړه سوه ، نو دی د محصل پـــه توګه پکښی داخل سو ، او څکه چی‌کورنۍ زده کړی ئی د مخه بشپړی کړی وی ، نو ژر په دغه مد رسه کی‌لومړی دپښتومعلم سو .او پښتـــو دمد ر سی په نصاب کی په۱۳۳٤ ق داخله سوه .

## دمامورېت دوره :

مولوی صالح محمد د۱۳۳۵ ق کال په شاو خوا کی د کابل دابتدایی مکتبو دمدیر مرحوم مولوی عبدالرب سره دنائب مدیر په ډول مقرر سو ، او هغه وخت چی ابتدایی مکتبو نه په کابل کی ډیر یده ، نو دغه مدیر او نائب مدیر په دی کار کی ښه خدمتونه کړی و.

دافغانستان دبیا استقلال موندلو په وخت کی چی نوی حکومت او کابینه جوړه سوه، نو ددی حکومت داتګ لاره وه ، چی معارف په ټول مملکت کی خپاره سی، نو هغه وخت چی مولوی صالح محمد په ۱۲۹۹ ش کال د قندهار دمعارفو په مدیریت وټاکل سو ، او ددرسی کتابو او تعلیمی سامانه سره قندهار ته ورغیء .

په هغه وخت کی د مکتب تاسیس اود خلکو منل کوم اسانه کار نه و، مولوی صالح محمد دقندهار په ښار کی پسله ډیرو تبلیغاتو اودښار دمشرانو سره د مفاهمی او خبرو په وسیله و کړای سوای چی هلته یو لومړنی مکتب جوړ کی.اود قندهاردسوداګرانو څخه ددغه مکتب لپاره دګمرك په محصول کی اعانه واخلی، نو څکه دغه لومړی مکتب د«مکتب تجار» په نامه په ۱۲۹۹ ش کال دقندهار په ښاله مار کی جوړ اوپه ۲۰ حمل ۱۳۰۰ش رسما افتتاح سو.

مولوی صالح محمد لس کاله په قندهار کی د معارفو مدیر او مؤسس و، او تر ۱۳۰۷ ش پوری یی دقندهار په ولایت او کلو کی ډیر مکتبو نه جوړ کړل ، او ډیر هلکان ئی په دغو مکتبو کی په ډیره توجه او خوا خوږی وروزل ،او دی دیوه مربی په ډول دافغانستان دمعارفو په تاریخ کی یو سابقه لرونکی سړی و چی دقندهار خلك ئی تراوسه په ښه نامه یادوی .

## دطلوع افغان تاسیس :

مولوی صالح محمد دمعارفو دخدمته سره یو بل مهم کار په قندهار کی داوکیء، چی هلته ئی یوه هفتګی جریده دطلوع افغان په نامه تاسیس کړه ، او ددی جریدی لومړی شماره یی په (۱۵ سرطان ۱۳۰۰ش ۶ جولائی ۱۹۲۱م) له قندهاره په ډبرین چاپ په پښتو او دری ژبی خپره کړه، چی په دی ډول نو دقندهار په مطبوعاتو هم ده پیل کړیء دیء .

دمو لوی صالح‌محمد دغه‌خدمتونه‌دهغه وخت حکو مت هم په ښه سترگه لیدل ، لکه په ۱۳۰٦ ش‌کال‌چی دهغه وخت مر حوم پاچا معارف او مکتبونه پخپله و کتل ، نو ئـــی‌مو لوی صا لح محمد ته دستـــوری نښان ور کیء .

## دده ادبی کا رونه :

مرحوم مولوی‌دمعارفو اومطبوعاتودعملی خد متو سره په ژبه او قلم هم دپښتو لپاره ډیر ښه‌کار کړیء . کله چی په سرا جیه دوره کی په حبیبیه لیسه‌کی دپښتو معلم و،نوده‌دغه تدر یسی‌کتا بونه کښلی اوچاپ کړی وو :

۱ـ دپښتولو مړنی تدریسی‌کتاب
۲ـدپښتو دو هم تدر یسی‌کتاب
۳ـ دپښتو دریم تدریسی کتاب
٤ـ دپښتو صرف ونحو په دری‌ژبه

علاوه پر دی دمو لوی صالح‌محمدله‌خوا په سراج الا خبار ا فغانیه‌کی هم ځنی پښتو منظومی خپریدلی ،چی دپښتنو دو یښو لو لپاره ډ یری گټور ی وی ، مثلا په ۱۳۳۵ ق‌کال‌چی ددنیا لو مړی جنگ په شـــدت جاری و ، دافغا نستان زلمو اوپوهوخلکو غوښته، چـــی ددی ځـــا ی حکو مت داستقلال دبیاموند لولپاره‌اقدام وکی ، او په دغه مطلب‌مرحوم محمود طر زی‌دسراج‌الا خبارافغانیه‌سر مقاله دحی علی الفلاح په‌عنوا ن و کښله ( غره ربیع‌الا و ل ۱۳۳٤ ق ۱٦ جدی ۱۲۹٤ ش) خودا مقا لـــه دسنسر په حکم له نشره پا ته سوه، نودا بل کال هم دغه مطلب په یوه رمزی ډول ښا غلی‌عبدا لهادی داوی(دهغه وخت پر یشان) په دری ژبه د(بلبل گر فتار) تر عنوان لانـــدی‌منظوم او په‌سراج الا خبار کی‌خپور کیء (ربیع الثانی ۱۳۳۵ق) چی‌عین‌هغه منظو مه ښا غلی مو لوی پـــه پښتو منظومه او خپره کړه ، اودادافغا نستان دخلکو د آزا دی‌غوښتلو لو مړی ښکاره تر جما نی وه ، چی‌په پښتو او دری دو اړو نشر سو ه.

په ۱۳۰۹ ـ۱۳۱۰ ش کال چـــی‌دمر حوم محمد گل مهمند په مشری دقند هار ادبی مجلسو نه تاو ده‌وو،مو لوی صا حب ددغو مجلسو یوسر گرم غړی و، اوډیر اجتما عی اوگټور پښتو اشعار یی‌ویل ، او په مشاعرو کی‌یی گډون کاوه ، او اشعار ئی‌په‌طلوع افغان کی خپر یدل ، چی‌ددغی دوری یو فکری او ادبی اثرئی یو ه‌اوږده پښتـــو منظو مـــه ده چـــی

«دجا معی کارو نه»تر عنوان لاندی دطلوع افغا ند(۱۳۱۲ ش) په کالنی گنه کی خپره سوی ده ، او په دی‌خوږه منظو مه کی په سا ده اوروانه پښتو داجتماعی ترون اود چــــاروډویشننگ ضرو رت او گټی ښو ولی سوی دی .

په ۱۳۱٦ ش مو لوی‌مرحوم دکابل دادبی انجمن غړی سو ، او دلته یی یو دپښتو خود آموز اوبـل کتاب « پښتو ژبه» دتد ریسی مقصد و لپاره تالیف کړه ، چی دپښتو ژ بی‌لومړی‌توك په ۱۳۱٦ ش په کابل کی چاپ سو، او هم یی د(زیری) په نامه یوه‌پښتو هفتگی جر یده دپښتو د تعلیم اوزده کو لو لپاره تا سیس کړه .

بیا غلی مو لوی تـر ۱۳۱۷ ش‌وروسته دشا هی دارا لتحر یردپښتو غړی‌و، اوپه‌همدغه‌وخت کی‌حج‌ته‌ولاړ،اوچی له هغه سفره راغیء ، نوپه قند ها رکی او سیدیء ،اوپه ۱۳۳۵ ش کال ددی‌ښارد خلکو له خوادملی شوراء دنهمی دو ری په وکا لـت‌وټا کل سو ، چی په دغه دوره کـی دشورا لو مړی معین هم‌و، او بیاپه‌لسمه دوره کی هم دقند هار دښار له‌خوا په ملی شو را کی و کیل و ،اودشور ای ملی په پار لما نی ډله کی داتحاد شو روی په سفر هـــم‌تللی و .

## دمو لوی و فات :

مولوی صالح‌محمد د۱۳۳۹ش‌کال‌دسنبلی د میا شتی په څلر مه کلـه چی د قند هار له خوا د ملی شو راغړی‌و ، په کابل کی او یا کلن‌وفات سو، او حکو مت دده جنازه په یوه‌مخصو صه الو تکه کی قند هار تـه ولیږ له، اوهلته پخـپله پلار نـی‌هدیره کی حضر تجی ته نژ دی‌ښخ سو .

مر حوم ملك الشعرا بیتاب کابلی‌شا عر دده مر ثیه اودو فات تاریخ داسی ویلی دی :

مو لوی صالح محمد آن و کیـل قند هار
خیرخواه‌شاه وملت در نهان و آشکا ر
دو ستدار حرف‌حق‌بود ونگفتی‌غیر راست
از ملمع‌کاری و تلبیس بو دی بر کنار
خدمت‌شایان نمودی‌در معارف‌سا لها
گا ه درکابل‌مدیری داشت‌گه‌در قندهار

کرده در عهد سرا جیه بـــه پښتو خد متی
اندر ین‌مضمو ن‌نبو ده کس چــواوآ مو ز گار
کارو بار آخر ینش را اگرپرسی زمن
مجلس‌شورای ملی را معین بوده است یار
چون بهر کس اونکو کردار وصا لح بوده است
هم بهرکاری که‌بوده‌باصدا قت کرده‌کار
خاطر ش بگر فت چون ازو ضع‌دنیای دنی
دل‌ازینجا کندسوی‌آخرت‌شد رهسپار
عمر او هفتاد و پنجا هش‌بخدمت‌گشته صرف
اجر آن‌راز برای او دهد پرو ر دگا ر
سر نو شت ماچو در دنیـــای‌فانی مرد نست
مرگ با ایمان‌به است از ز ند گی مستعار
در ربیع او ل از بیتاب‌پر سید م ســنـــه
گفت‌بوده سه‌صدوهشتادازبعد هــزار (۱۳۸۰)

**دده کړه وړه اوخویونه :**

مو لوی صاحب لږ خــه جگ ،سپین پو ستی ،بشاش اوږ دمخی او ډیوی میانه ږیری‌خاوند او نیک‌خویه له‌بدوخخه بیزاره‌سړی‌و،ده‌پاك‌اوسپین کالی اغو ستل سپینه کو چنی‌بګړی‌یی تړله ، له‌هر چا سره یی په ادب اونرمی خبری کولی ،اودجا مــعــی‌مختلف طبقات ځنی راضـــی وو ، بیطر فی او بیغر ضی اوپه ور یـــن‌تندی د هر چا سره خبری کول دده ښه خو یو نه و .

دده مجلس هم ډیر خوږو ، ساده‌اونر می خبری ئی دهری طبقی‌ذکتی وړوی،پر لاری‌هم کرار کــرار تــی‌ءلکړه ئی ور سره گر زولــــه ، او کو ښبښ یی کاوه ، چی په ژوند کی‌خوك ځنی ازار نسی ، او خپـــل شا گردان یی په خورا خوا خـــوږی‌روزل ، اودقندهار خلکو دی دمکتب دهلکا نو پلار باله .

مو لوی صا حب په خپل وطن کی‌ډیری تجر بی کړی اود خــلکو او حکو متو په روحیه بلدو ، په هنــدــعر بستان ــایران ــعراقــ شوروی اتحاد کی هم گر زید لی‌و، نو ځکه‌یوپوخ صاحب رأی سړی‌و، داسلام او قر آن سره یی ټینګه عقیده‌درلوده،داسلامی علومو او تفسیراو اخلاقو او تصوف کتا بونه یی لوستل ، اواجتماعی عقیده یی پر اسلام اوملیت

اودو طن پر ښىيګړو ولاړه وه ،معتدل‌سړی و، په هيڅ کار کی افراط نـه خو ښا وه .

نه‌يی ظلم کاوه اونه يی ظلم‌پرځان‌مانه ، او کله چی دافغا نستـــــان داغتشا ش په دوره کی دده استاداوماما مو لوی عبدا لوا سع د ۱۳۰۷ ش دجوزا په اواخر کی دبچه سقـاوپه حکم په توپ کی وا لوزو لـسو، نومو لوی به ددی ظلم دليدو سر ەدابيت ډير وايه :

دظا لمانو ظلم‌زور دی خدايه‌ليری‌يی که !

نه‌کوم‌ظلم،نی منمه خدايه خيری يی کـه !

**دمو لوی آثار او اشعار :**

لکه چی تاسی ولو ستل دمو لوی‌صالح محمداکثر کتابونه او ليکنی تعليمی او تد ريسی‌وی، او دی‌پخپل‌وخت يو موفق‌معلم‌اود معار فودکارو چلو ونکی و . اود يوه غښتلی‌اوپوه‌مربی په ډول خلکو هم پيژند لیٔ و، اودده تر بيوی مفکوره هم پر دين–مليت او نوی مدنيت بناوه ، يعنـی اوسنی ژوند يی له تاريخ او پخوانوروا ياتو سره نښلا وه ، او ددغـــو دوو‌ترمنځ‌يی اعتدال او ارتباط مانه.

بيله تدر يسی آثارو دی ډيــــرشا عرانه منظوم ادبی تخليقات هـم لری، چی‌ده په يوه کتاب کی سره‌راټول کړی دی ، دا کتاب دوی‌برخی دی .

**لو مړۍ بر خه :** په پښتو لنـــډمثنوی کی دمولا نا جلال الدين بلخی له مثنوی څخه ځنی مطالب په آزاده‌توګه نظم سوی دی .

مولوی صالح محمد دمو لانا بلخی‌له مثنوی سره ډيره مينه در لـوده او هغه به‌يی تل لوست ، اود مولاناله فکره به يی الهام اخيست او هغه به‌يی په‌پښتو نظم کاوه ، او خـپل‌فکری واردات به‌يی ددی عصر لـــه جريانه سره پکښی زيا تول ، چی‌دغه‌بر خه يی موږ ګرده په دی کتاب کی چاپ کړی ده .

**دوهمه بر خه:** ده پخپله دپاشلی‌ويناوو په نا مه بللی ده ، اودا هغه مختلف ادبی‌آثار دی، چی په‌عروضی‌وزن او مفهوم دواړو کی متنـــــوع ښکاری ، او له د غو څخه هم مو ږهغه اوږده منظومه دلته راو ړی ده، چی داجتماعی ژوند دو ظا يفـــودو يشنی بحث کوی ،اوخلکوته د اجتما ع‌اوټولنی‌يواصولی‌فکرورکوی

دمو لوی دغه اشعار او منظو می‌دوی ښیگړی لری :
لومړی دا چی دده دشعر او نظم الفاظ او ترا کیب او تعبیرو نه تړول ساده ، خواږه او روان دی ، په‌ویناکی‌یی ابهام، پیچیدگی اوتکلف نسته هره طبقه ښه په پوهید لای سی ،خو شعری او ادبی خوږ توب هم‌لری اوسهل ممتنع گڼل کیداسی ، اوداو سنی پښتو په ښو او خوږو منظو ماتو کی در یدا ی‌سی .

دوهمه داده چی دمو لوی صاحب‌اشعار دمو ضوع له پلوه هم ښه اجتما عی اوحیاتی‌ذخیره لری ،یعنی‌هغه څه وایی ، چی په ژوندانه ا و اجتما عی کړاو کی دلو ستو نکی‌په‌کار ور ځی ، دینی مفکوری ، اخلاق اجتماعی ښیگړی په رو ښانه وینـابیا نوی ، دبشر د او سنیو مفکورو څخه هغه منی چی زموږ دتو لنـی‌ژوند لپاره مفید ورته ښکاری ، اما دمد نیت ځنی مفاسد او کر غیـړن‌شیان ردوی ، او له هغو څخه پنا ه غواړی ، نو ځکه دده آثار ز مـوږدمعتد لی طبقی لپاره یوه پانگه‌کیدای سی .
دده اجتما عی تلقین په دا سـی‌سا ده ژبه دی‌ء .

چی هم **انسان** و ی جا نه — هم **مسلمان** وی جا نـه !
بیا هم **«افغان»** و ی جا نه — او زموږ په شان‌وی جانه !
نو دزړه سرییی بو لـــه — نور البصر یـی بو لـه !
دغه دی ورور د ی نـو — هم ستا د کو ر دی نــو

دمو لوی په شا عری کی افادی تلقینی خوا تر شا عرانه تکلف ا و غټ بازی ډیره ده ، دی ډیر غټ‌غټ‌الفاظ او گران او له پا مه لیـری خبری نلری ، خپل مطلب مستقیماپه‌سا ده الفا ظو او خوږو تر کیبو ادا کوی ، او داسی وینا کوی ، چـی‌لو ستو نکی ژر ورو لو یږی ،او د مطلب په پو هیدلو کی په‌هیڅ کـړاو اخته نسی .
دافغانستان اکاډیمی دا عقیـده ده‌چی اوس ز موږ په ملی ادب کی یـو نوی حر کت را تلو نکی دی ، چی‌دشعر په ظاهر او معنا با ندی اغیزی کوی ، او موږ هم دی ته اړیو ، چی‌دا نوی ادبی غورځنگ‌ومنو ، اودخپل نوی ادب هم ظاهر هم باطن ورنوی‌کو ، خو دلته داهم لازمه ده ، چـی دپخوا نی ادب سره زموږ داو سنی‌ادب اړ یکی ونشلیږی .

دمو لوی صالح‌محمد د غه آلـاردپخوا نی او اوسنی ادب تر منځ‌یوه داتصال حلقه‌اودنبنلو نی مزی‌دی، نو ځکه یی چا پول او خو ندی کول یو مفید کار دی ، او زموږ اوسنـــی‌ادب باید له دغی مر حلی څخه هـــم پرمخ ولاړسی ،او ډیر له او سنی‌ژونده سره وصل سی ،او دار تقا لار یی خلاصه وی ،مگر دنبنلو نی‌په مزی له ماضی سره هم اړ یکـــی و لری .

(ع،ح حبیبی)

# پښتو مثنوی

زموږ په پښتو کی دیوانونه اوغزلی خورا ډیری دی ـ البته دشعر او شاعری آن تمام سوی او شعراؤ یی پوره حق ورکړیدی . هر چاهرڅه ویلی دی . دخال او خط څه ندی پاته چی ویل سوی نــه وی خصوصاً دخوشحال خان کورنی، اونور لکه حمیدـ رحمن باباـ ملا پیر محمد ـ میرزا حنان ... داسی پوره لــوړاشعار لری چی دا وظیفه یی په ښه پیمانه اجرا کړیده .

زما مقصد پدی مثنوی کی دادی چی څه روحانی حظوظ او لذات چی په مثنوی شریف کی پراتــه دی ،موږ پښتانه دی هم له داسی خوندو څخه محروم نه سو پاته . البتـــه دمولانای بلخی رومی (رح) له برکته او دده دقصو او اشارو او نکتوڅخه امید دی چی یو څه برخه او حصــه واخلو . که څه هم ـ بیت

څه نسبت زما خوار کی          او دلو ی لو ړ مثــنو ی

خو بیا هم دلویانو له برکتـــه هیله ده چی څه نه څه خوند او حظ موږ هم ځنی وا خلو پدی هیلــه اوامید جرئت وسو او دا مثنوی ولیکل سو .

ډیرجرئت دی چی لیکمه          زه خپل ځان ښه پیژنمه

خو په هر صورت له خاونـــدتعالی څخه امید واریم چی دا وینــا می قبوله سی ، او پښتنو وروڼــوته خوند ورکی . او مزی ځنی واخلی او دکتابو په فهرست کی یاد سی اومفید ولویږی .

انشاء الله تعالی

صالـح محمد

۱۳۱۸ ش

## بسم‌الله الرحمن الرحیم

# زماعرض

زما عرض دی په پښتو
ډیر می خوښ دی مثنوی
مثنوی ښه ښه کتاب دی
مولانا خو لوړ جناب دی
دعرفان سین دی بهیږی
د هر چا سره ږغیږی
په دریاب کی مرغلری
مثنوی کی ښی قصی دی
شپه ؤ ورځ مثنوی لوله
مثنوی لوله دلبره
چی دمینی اور لرینه
که پاچا وی که گدا
که زاهد وی که صوفی
که عاشق وی که معشوق
که پرسد که لیونی ؤی
که د عشق په اور وی سوی

ای ښاغلو پښتنو
مثنوی دمولوی
چی گویا د عشق په باب دی
مثنوی یی لوی دریاب دی
ډیر عالم په سیرابیږی
وهر چا تې فیض رسیږی
مثنوی کی ښی خبری
تر شکر ولا خوږی دی
دریاب لوی چمچه دی خپله
که خوند غواړی دزړه‌سره!
مثنوی یی ورلړینه
که امی وی که ملا
که عارف وی که ولی
که امام وی که مسبوق
او که گاړی که خوندی‌وی(۱)
یا دمینی بحر وړی

---

(۱) گاړی او خوندی دپښتنودوې قبیلې دی .

چې ولولې مثنوي
هم به پوهه هم به دا نا سي
غوښت مي زړی ښه ترجمه کړم
مثنوي که په پښتو سي
پښتانه به عارفان سي
مجازي او حقيقي
محبت به ور پیدا سي
هر سړی به سترګو رسي
ډیر افسوس چې ګرفتاریم
په دربار کې د پاچا یم
ظاهرشاه خوښه زلمی دی
په ظاهر که څه زلمی دی
دپښتو مینه لرینه
غواړي نن پښتو جاري سي
خدای دی دا خیال کي ترسره
په پښتو که دین بیانسي
دا خبره او زده کیږي
نو به وایم لنډی دا
دپښتو خدمت کومه
نو خو پاته ترجمه سوه
نو پر خیال دمولوي
مثنوي خو دی لوی بحر
پر نیک فال می دی نیولی
اقتداء د مولوي کړم
څه نسبت زما خوار کې
مو لانا خو مولانا دی
مقتدا دی ، مقتدا دی
مولوي خو لوی استاد دی
زه چې هر بیت جوړوم

د سر سترګه به مومي
بختور به په عقبی سي
دا پښتو په ده خوږه کړم
بخت به لوړ د پښتنوسي
د با دار به عاشقان سي
عشق به دوی و پیژني
په پټ سر به آشنا سي
هر پښتون به په لکه لمرسي
ګرفتار په کار وبار یم
په حضور د ظاهر شاه یم(۱)
ډیر ښاغلی بریالی دی
په باطن کې لوړ سړی دی
چې په مینه یې روزینه
هم علمي او هم رسمي سي
دا ښه خیال دی پر ثمره
پښتانه به عالمان سي
زما مطلب را نه پاتیږي
په حضور کې د پاچا
شپه و ورځ یې زه لیکمه
انځیر کله زما لقمه سوه
زه لیکم یوز مثنوي
دغه زما دا کچنی نهر
مولوي مې ننګولی
پیروي دمثنوي کړم
او د لوی لوړ مولوي
لوی عارف هم په رشتیادی
مولانا دی مولانا دی
زما پرده ښه اعتقاد دی
مولوي پر ننګوم

---

(۱) دا مثنوی په ۱۳۱۸ ش‌نظم سوی و .

مثنوی په پهلوی دی(۱) — په پښتو زما مثنوی دی
توفیق غواړم له باری — کړم و خدای و ته زاری
چې قوت را ته عطا کړی — ښه جاری زما وینا کړی
دا وینا می را خوږه کړی — محبت هم ورسره کړی
چې دمینې ښې خبری — تل لیکم لکه شکری
چې ښه خوند را کی و ما ته — او ښه پند ورکی هر چاته
هر زلمی په خوند ورسی — هر سړی په بهره ورسی
هم قبول د پاك مولا سی — هم مقبول د مصطفی سی
د هر چا خوښ په دنیا سی — هم منظور ه په عقبی سی
خدایه تیز زما قلم کړی — نفس شیطان می په کړم کړی
مبارك دا مثنوی کړی — هم یی خوښ د هر سړی کړی
ستا دمینې په دریابه — زما کښتی مه کړی کویابه
د لویانو کړم پیښیږی — نه می لاس سته نه می پښی
پخ قلم تیره وینا ده — هم رعنا ده هم زیبا ده
ډیر جرئت دی چه لیکمه — زه خپل خان ښه پیژنمه
تی را پاکه کړی باداره — دا زما د زړه هینداره
چه خپل خان شانه ورانه کړم — او پښتون په ننداره کړم
برکت می پر قلم کړه — نازك خیال می ښه راسم کړه
هم په روی د مولوی — قبول کړی زما مثنوی

دغه خیال می را تر سر کړی
دغه باغ می پر ثمر کړی

# بیلتون

دا دنله حکایت دی — له بیلتو نه شکایت دی
دا زه نه یم مولوی دی — په پښتو ښه مثنوی دی
دا پرتو د بلی خوا دی — که څه هم آواز زما دی
دا آواز د شاه دی — که د خولي د عبدالله دی

---

(۲) دلته دغه پارسی بیت ته اشاره ده :
مثنوی مولوی معنوی — هست قرآن در زبان پهلوی

په پښتو اسرار ليکمه
چه یې زه یمه پری کړی
وطن پاته سو جلا سوم
دا زما او ښکی دی تویېږی
شوم پر دیس پدی وطن کی
زه ولاړ په ښه چمن وم
شنه خوله تللی په خندا وم
اوس فریاد کوم هر گوره
چی را پری سوم له خپل کوره
دغه مارو که شیطان ور
چی یی بیل کړم له بوستانه
چی نصیب می جدا یی سوه
او ښکی وینی گډی ژاړم
دا دعشق بل سوی اور دی
چی د عشق اور نه لرینه
دادعشق د خولی آواز دی
د آشنا سره همراز دی
لکه نل دوی خولی لرمه
یوه خوله ښکاره دلیده
چی څه وایی واره دی دیء
شین طوطی یم ږغیدلی
خپل می هیڅ نه زده وییڼم
پورته کښته واره دی دیء
آدمی څه خوار کی دی
آدمی دده پیدا دی
دا خندا خو هم دده ده
څه ناری که غلبلی دی
د آئینی تر شا طوطی یم
هر چه وایی هغه وایم
په اختیار کی بی اختیار یم
یو عجیب رنگه وینا سوه

دخپل عشق رباب وهمه
پر هر لوریم ژړیدلی
ځکه زه په واویلا سوم
شنې ولې خنی بهیږی
په اور سوځم په گلخن کی
خوشحال ناست په ښه گلشن وم
بیا په څه نازو ادا وم
او ناری وهم په زوره
تل ناری کړم چی زما وروره
که طاوس وکه انسان و
را جدا له گلستانه
نو را پیښه لو خواری سوه
خپل وطن له خدایه غواړم
چی یی نور پر هره لور دی
خدای دی دی هم نه لرینه
دا نل ندی دا بل ساز دی
که زما عرض و نیاز دی
په جهان اور لگومه
بلنه خو له پته هوری ده
وییدونکی آدمی دیء
زه بلچا یم پوهولی
زه پدی سر نه پوهیږم
ښوریدونکی آدمی دیء
هیڅ شی نه بلکه لاشی دی
په ژړا که په خندادی
ژړا هم پیدا له ده
پر جهان له بلی خولی دی
په قفس کی هم بندی یم
هر چه غواړی هغه ستایم
هم اسیر هم خود مختار یم
پیچیده څه معما سوه

په دریاب کی تخته بند یم      مستمند هم دردمند یم
لا لهانده حیران پاته      حال و یلای نسوای چاته
هیڅ لار نسته بلی‌خوا ته      هدایت راکړی وماته
څنګه لویه لوخدایی ده      ماته پیښه حیرانی ده
په حکمت یې نه پوهیږم      په قدرت یې نه رسیږم
چه را پیښه لو خواری سوه      مناسب ماته زاری سوه
په ژړا ژړا به ژاړم      هدایت به له خدا غواړم
«احدنا» تا را ښوولی..      «مستقیم» ته دی بللی ..
که دا ستا هدایت نه وی      او ستا خاص مرحمت نه وی
او رشو ده را څخه ورکه      ډوب یم تللی نظرو که!
ستا ښه لوی کرم هم‌ډیردی      پر جهان باندی چارپیر دی
په حرمت دمصطفی ستا      په عزت دمجتبی ستا
چی احمد او محمد دی      ښه بنده دپاك احد دی
نازولی دبادار دیء      تل دده عزت پکار دیء
دده روی ر. پیدا رومه      بیا خپل عرض تاته کومه
چی نصیب می هدایت کړی      هم روزی می شفاعت کړی
لار می ورکه سرګردان یم      هیښ پیښ تللی خوارحیران یم
دغه عشق که لیونتوب دی      هلکتوب که سړیتوب دی
دا جنون دی که سودا ده      تاریکه ده که رڼا ده
دا پرسد او که بیهوښ یم      دا بی‌سده که پرهوښ یم
دا رضا ده او که زور دی      دا قضاء که د عشق اور دی
دا د عشق ناری سوری دی      تر شکر و لا خوږی دی
چه عشق نه وی سرکډو دیء      سره ګرزی تش لا ډو دیء
محبت دا یمان نور دی      خوار عاشق پدی مسرور دی
چی دمینی اور دی بل سی      پر دښمن چپه غوبل سی
چي د عشق لمبه سوه بله      غوړه وه د غم کمبله
خوشحالی او هوس دواړه      عشق خوږیو وړه له تاواره
دا خبر سوه خورا ګرانه      ته یی مه ګڼه آسانه

ژاړه ژاړه رب ته ژاړه
خپل وطن له خدا یه غواړه

# حضرت انسان وایی

زه په اصل شهزاده یم
خورا لوی صاحب زاده یم

زه آدم د آدم زوی یم
تر هر چا په نسب لوی یم

مشرف په «کرمنا» یم
مخلع په «علمنا» یم

په لاسو نو د قدرت
رب جوړ کړی زما صورت

دملکو زه مسجود یم
چه بنده دخپل معبود یم

زه پر مځکه خلیفه یم
زه د پاك الله بنده یم

زما عزت هم خورا ډیر دی
زما هیبت هم خورا ډیر دی

تول له ما ته مسخر دی
که پر مځکه لر که بر دی

مځکه ما لره خوانچه ده
ما ته جوړه مایده ده

غر هم ما ته په فرمان دی
ډك د زرو زما کان دی

چرنده که پرنده دی
تول له ما نه په لړزه دی

زه بادار دوی نوکران دی
زه آغا دوی چاکران دی

تول ولاړ زما په خدمت دی
ډیر له ما نه په هیبت دی

زه له کمه یم را غلی
هیچا نه یم پیژندلی

څه نسبت څه می نسب دی
څه عزت څه می لقب دی

څه مطلب او څه می کار دی
څه مقصد څه می روزگار دی

خلیفه یم حکمران یم
په نامه حضرت انسان یم

نه سهیږم په جهان کې
نه ځاییږم په آسمان کې

لوړ می شان لوړ می عزت دی
په عالم کې می هیبت دی

دلولاك تاج می پر سر دی
پر فلك زما گذر دی

فلك ما ته مسخر دی
زما پلاس شق القمر دی

اور وما ته گل گلزار دی
پر خلیل باندی سوړ نار دی

زما د لاس همسا ښامار دی
پر فرعون باندی گذار دی

نوح ښورا کاندی بارانسی
عالم تول غرق په طوفان سی

عیسی دواکی مړ ژوندی سی(۱)
هم خوږمن جوړ روغ رمی سی

د صالح وار چه بیا راسی
له ډبری اوښ پیدا سی

دسلیمان تخت په هوا ؤ
دی پر جن وانس پاچا ؤ

---

(۱) دوا = دعا .

زه انسان انسان زاده یم
آدم زی اصیل زاده یم

ژوندی ناست یم په جنت کی
ادریس غوندی په عزت کی

مرګ می نسته تل ژوندی یم
خضر غوندی ګړندی یم

په آسمان کی یم عیسی یم
پر طور زه کلیم موسی یم

جبریل پاته زه تیریږم
پر آسمان باندې لوړ ځیږم

پر رفرف باندی سپریږم
تر سدره لا هم تیریږم

خاص مقام ته ورسیږم
په حضور مشرفیږم

زه انسان دا می مقام دی
د عرش لار زما یو ګام دی

په خلوت کی زه همراز یم
په عزت او په ښه ناز یم

آسمانونه ، دریابونه
توله مځکی او لوړ غرونه

زما د پاره پیدا سوی
په خدمت مهیا سوی

شنی ولی که شنی باغچی دی
ښی میوی که څه غلی دی

څه ګلان که بلبلان دی
پر جهان چی ښه شیان دی

توله ما ته پیدا سوی
آماده مهیا سوی

شهزاده یم نازولی
پاك الله یمه ستایلی

نو به څنګه ناشکری کړم
نو به ولی بی فکری کړم

نو به ولی ناروا کړم
نو به ولی د بل غلا کړم

ځان به ولی سپکومه
ځان به ولی ورکومه

تل به حفظه دا عطا کړم
تل به ذکر دمولا کړم

دا خپل قدر به ساتمه
ځان به نه بربادومه

دنعمت شکر به کړمه
لوی احسان به یی منمه

چه منصب می ضایع نسی
چه لقب می ضایع نه سی

باید ماله داسی هاسی
چه مولا راضی له ما سی

دا متل دی په پښتو کی
مروج په پښتنو کی

په اصیل کی خطا نسته
په کم ذات کی وفا نسته

زه اصیل یم وفادار
هم ښاغلی لوی سردار

زه به څنګره جفا کړم
بیا به ولی ناروا کړم

خو هوښیار او لوی سړی یم
حیوان نه یم آدمی یم

دا دنیا که آراسته ده
زما په سترګو خو ورسته ده

د رسول دا مقوله ده
چه دنیا یوه جیفه ده

نو ددی که طالبان دی
سړی ندی خو بیا سپیان دی

ارو پا کـه نن نـا ز یـږ ی
که څه هـم ښه جو لایا ن دی
دا صنعـت یی حیوا نی د ی
د ز ړ ه ستر گه یـی ړ نده ده
نو بیا کلـه انسا نا ن سـوه
سړیتو ب خو لا بـل شی‌دی
سړ یتـو ب خو نن عنقـا دی،
که سړ ی چیر ی پیـدا سـی
سړ ی نور د ی چې ځلیږ ی
دا جها ن چې سو نسکور ه
نن چـه تو ر ه در بیله د ه
دا نیستـی د ه د سـړ و
چـه سړ ی و ی دا سی وایی
شا ها نه فرا میـن ما تـه
دبـا دار لخـوا یـا دیـږ م
صحا یف کـه کتا بو نـه
سپین قر آ ن ما تـه را غلـی
مـا پر ستـر گو د ی منلـی
احمـد ی یـم محمـد ی یـم
عثما نـی یم حیـد ر ی یـم
ستا ره دا ره یـم هر گو ره
غـرو ابـا و کـړ ه مـا نکړ ه
نـن را غلـی سـبا ځمـه
زه امیـن امـا نت دار یـم
محبـت لـر م هـر گـو ره
دعشـق او ر لـر م‌په زړه کی
زړه او خولـه مـی دواړه‌یودی
کـه مو ستـر گـه و میند له
هغـه خدا ی هغـه جهـان دی
هغـه ژو نـد هغه انسان د ی
هـا قبـله هغـه کعبـه د ه

تـپ ړا نده د ی نه پوهیږ ی
او یـا ښـه آ هنـگرا ن دی
جـل و بـل یی شیطا نی دی
د بخـت خو نـه یی چپـه ده
چی خور و ړی شر مښان‌سوه
هر سړ ی کلـه سـړ ی د ی
وجـو د نلـر ی فـنـا د ی
ټـو ل جها ن به پـه ر ڼا سی
ښه انـوار ځنـی توئـیږ ی
دسړ ی نیسـتی د ه و رو ر ه
پر جـها ن را غلـی شپه ده
د ا نیستـی د ه د مـړ و
او خپـل ځا ن به داسی‌ستایی
نا ز ل سو ی ز مـا وخواته
پـه خطا ب سر فـرا ز یـږ م
ټو ل و ما تـه خطـا بو نـه
پـا ك اللـه را استـو لـی
محمد ښـه را ښـو و لی
صدیقـی یـم فا رو قـی یـم
پـه مذ هـب هـم حنفی یم
هـی تو بـه ز ما لـه زو ره
ما قبـو ل تـا و ده ساړه کړه
امـا نـت بـه ر سو مـه
را لیږ لـی خپـل بـا دار یم
رسـوم بـه یـی تـر گو ره
دد ه ذ کـر مـی په خو له کی
دوه جهـا نـه مـی په دو دی
نو مـو هلتـه و گـټلـه !!!!
هغـه مځکـه هـا آ سما ن د ی
هغـه د یـن هغـه قر آن دی
هـا مکـه ها مـد ینه د ه

ستر گی و مو ږه و گوره — څه همت و کړه و ښوره
هغه آش هغه کاسه ده — ستا و مخ ته ښه پرته ده
چی ستا ښنده اشتها سوه
نو بیا دا گناه د چا سوه ؟

# خیر اوشر

## عسی ان تکرهوا شیء وهو خیرلکم

ته په ښان نه یی خبر — چی دا خیر دی او که شر
ته بی خیر بولی ها شروی — ته بی عیب گنی هنر وی
ته بی بد بولی ها ښه وی — ته بی ښه بولی واښه وی
خوار انسان کله پوهیږی — پدی سر کله رسیږی
په دریاب کی چه کښتی — سوری کوله پوهیدیء
د ظاهر په ستر گو شر وُ — خو خضر پدی خبر وُ
چی دا گته ده هر گوره — تی زما په ستر گو گوره
مثنوی کی حکایت دی — مولانا نه روایت دی

# حکایت

یو سړی وُ مین سوی — ډیر په زړه وُ خوږ من سوی
پر لیلا یی زړه بایللی — د مجنون په شان نتلی
معشوقه یی بی پروا وه — ډیره دا په استغناوه
هیڅ یی لار نه وه دوصل — او تر مینځ یی وُ لوی فصل
دعاشق خوتل زاری وی — دمعشوق بی پروایی وی
خوار عاشق خوتل نالان وی — او معشوق پر ده خندان وی
خوارعاشق وی په اور سوی — معشوق نه وی خبر سوی
اوه کاله سر گردان وُ — په ژړا سره نالان وُ
لاړی نه وه معشوقی ته — تل به تیء ددی کوڅی ته
محروم پاته په فراق وُ — د لیلا په اشتیاق وُ
د لیلا د عشق له اوره — یوه شپه و وت له کوره
پر ده پیښه لو گزمه سوه — نو پر جوړه دغم شپه سوه
کوتوال لږغ وکیء پر ده — دی خوړا و بیریده

مخامخ یی کړه لا　　　کوتوال سم دده ترشا
دا سی ځغاست لکه هوسی　　　په هیڅ شی نه بندیدیء
خوراوا وښبت تر دیوال　　　باغ ته راغی په بد حال
گوری باغ ندی جنت دی　　　او خورا هم ښه خلوت دی
دی لنه عشقه لیونی ؤ　　　له گزمې نه تللی ؤ
شاو خوا یی وکتله　　　معشوقه یی ولیدله
حیران پاته سو ودی ته　　　و دی جوړی مایدی ته
دغه خوب وینم که خیال دی　　　څه عجب رنگه احوال دی
چیری تلم او چیری وم زه　　　چیری را غلم څه کوم زه
معشوقی تی تعظیم وکیء　　　هم د دی یی تکریم وکیء
ویل دا خنگه خلوت دی　　　په خلوت کی بیا جنت دی
ته زما ښه معشوقه یی　　　ته زما ښه محبوبه یی
زه پر تا یمه شیدا　　　زه مجنون ته می لیلا
اوه کاله سرگردان یم　　　تل په تا پسی پویان یم
نن کوتوال یم را وستلی　　　ستا حضور تی رسولی
دا کوتوال ؤ که رحمت ؤ　　　دا وبال که سعادت ؤ
دا گزمه نه وه مژده وه　　　چه دوصل ذریعه وه
دا عسس نه ؤ هوس ؤ　　　دغه زما فریادرس ؤ
دا عسس نه ؤ دوی بار ؤ　　　دی رهبر زما د یار ؤ
دا عسس نه ؤ قاصد ؤ　　　دی د لیل زما د شاهد ؤ
دا عسس نه ؤ خراغ ؤ　　　دی مشل زما تر باغ ؤ
وگوره دغه قدرت!　　　د بادار دا لوی حکمت
خوار عاشق ؤ سرگردانه　　　لیونی او پریشانه
چه ده غم گانه ښادی سوه　　　هم ورپیښه خوشحالی سوه
ددنیا غمونه تولله　　　دعقبی ښادی و بوله
موږ یی به بولوهاښه وی　　　تر شکرو لا خوازه وی
په هیڅ غم مه غمجن کیږه　　　په نقصان مه خوږ من کیږه

په هر غم کی لو ښادی ده
په خفگان کی خوشحالی ده

# دصحابي ناجوړتیا او دپاك رسول پوښتنه

هم پدې باب کې زما وروره    دغه بل حکایت گوره
مشنوي کې دې لیکلي    مولانا ښه دي ويلي
سو ناجوړه صحابي (رض)    صحابي دپاك نبي (ص)
ډېر رنځور خوار اضعیف سو    ډېر زهیر او ښه نحیف سو
پاك رسول ؤ قدردانه    پر اصحابو مهربانه
و پوښتني تي رهي سو    مخ پر کوز د صحابي سو
عیادت د مریضانو    عیادت د دناجوړانو
عبادت دی عبادت    دی د پاك نبي سنت
پاك نبي چه ور روان سو    صحابي صاحب قران سو
صحابي باندې اختر سو    چې حاضر ور پیغمبر سو
آنحضرت چې ور حضور سو    دده کور تموله پر نور سو
په قدوم د آنحضرت    صحابي مونده صحت
ول داځنگه سعادت دی (۱)    نن پر ما ښه کرامت دی
ویل داځنگه احسان دی    پر ما سوی دسبحان دی
کشکي زه وای تل ناجوړه    پاك نبي راتي تر کوره
ناجوړي نه وه روغتیا وه    دا دپاك الله عطا وه
دغه خه د ښادی رنځؤ    دغه رنځ نه ؤ دا گنج ؤ
دا غم نه ؤ دا ښادي وه    دا د رب مهرباني وه
ما چه غم باله ښادي سوه    زا ته جوړه خوشحالي سوه
که ترخه وه خوخواږه سوه    چه زیږه وه بیا پاسته سوه
که ترخه وه که تروه    ما ته سوه تر قند خواږه
ما زحمت باله راحت سو    آخر کار مي سعادت سو
که زه نه وای ناجوړ سوی ء    خو به نه وای دي را غلیء
دی چه راغي صحت راغي    دي چه راغي عزت راغي
دغه خو نه سعادت دی    دغه خومره لوی رحمت دی
چه زما غریب و کورته    او زما عاجز و لورته
سلطان راغی ددارینو    زه یې جار سم تر نعلینو
زه پدې حال نه ارزېږم    ترخپل ښه خدای بهجاریږم

---

(۱) ول = ویل .

شکر شکر چه ناجوړ سوم دنبی په دید نموړ سوم
شکر شکر چه بیمار سوم مشرف یی په دیدار سوم
شکر شکر چه علیل سوم چه د پاك رسول‌خلیل‌سوم
شکر شکر چه عیبی سوم چه په یاد دپاك نبی سوم
دا علت نه ؤ عزت ؤ پر ما د یر درب رحمت ؤ

په هر رنځ پسی جوړتیاده
په ژړا پسی خندا ده

## دمجنون عشق‌دلیلا سره

مثنوی کی دی لیکلی مولانا ښه دی ویلی
د لیلا .د عشق له زوره مجنون وو تیء له‌کوره
او ښي راوسته پرسپورسو د لیلا دکور پر لور سو
دها او ښی یو جونکی ؤ پاته سوی خوار کی ؤ
ددي زور دکور و خوا ته دمجنون دا و لیلا ته
چی نز دي د لیلا کور سو پر مجنون باندی‌بل‌اورسو
په هوا یي د لیلا هر خه هیر سوه ماسوا
دی فنا هم په لیلا سو په نارو او واویلا سو
او ښي هیره مهارهیرسو د لیلا عشق پر چار پیرسو
او ښی مخ را گرزولی مجنون ندی پوهیده لی
د دی عشق خو دجونگی ؤ چه تر شا پاته بغدی ؤ
او ښه بیرته را غله ژر مجنون خوار ندی خبر
چه مجنون راغی و کور ته فکر یی سو دجونگی‌مورته
بیرتی دا وگرزوله او خورا یی و هله
د لیلا پر خوار هی سو په تیزی او چابکی سو
د لیلا کور چه نزدی سو مجنون خوارله عقله پری‌سو
تول یی هیر سوه ما سوا هوب په عشق کی د لیلا
او ښی بیا خپل وار پیداکی مخ یی ژر د کور پر خواکی
د جونگی د عشق له زوره راغله بیا تر خپله گوره
مجنون بیا وگرزوله ښی محکمه و وهله
د مجنون مخ و لیلا ته او ښه گوری تل و شا ته

# دعشق سترګه

تا به هم وی او رید لی
چه مجنو ن سپی مچا وه
شا و خوا پر کړ یده
یو چا و ویل مجنو نه !
دا خوسپی دی اومردار دی
تا له نه ښا یی چه سپی
مجنو ن و ویل د لبر ه!
ته یی زما په سترګو ګوره
دا خو طلسم د مولا دی
د لیلا د کو خی سپی
ده چې خو ښه کړ ه لیلا
دا سپی ندی دا سړ ی دی
دمجنو ن په ستر ګوسپی
چی دعشق‌سترګه روڼه سی
د عشق سترګه کړه‌روښانه
د عشق ستر ګه محبت‌دی
د عشق ستر ګه پیروی ده
د عشق لار ده زما و ستا
محمد عا شق د ر ب د ی
عشق خو عشق دمدینی دی
که د عشق سترګه پیداسی
احمد ی عشق ږ غو مه
شور دمینی لټو مه
د لیلا د کو خی سپی سه
مدینی ته په ژ ړا ځه
د لیلا کو خه هو ر ی د ه
دنیا یی کار ونه پر یږ ده

مثنو ی کی د ی لیکلی
پر خو له خو له یی ښکلا وه
هم و ده ته و ییده
ولی ته کړ ی دا جنو نه
به حیوان د ی نا پکار دی
ښکلو ی او یی سر ی
ای زما د ز ړ ګی سر ه!
قدر من پر ما هر ګو ره
او پا سبا ن بیا دلیلا د ی
زما په سترګو ښه سړی
نو زما خو ښی سو تر هر چا
چې زما د لیلا سپی د ی
دا سی د ی لکه سړ ی
شپه ؤ ورځ پر ده‌یوه سی
وبه ګو زی دوه جها نه
دا لله ښه اطا عت د ی
پیرو ی بیا احمد ی د ه
پیرو ی دمصطفی (ص)
د د ر ګا ه ښه مقر ب‌دی
چه در ب معشوق هوری‌دی
تا ریکی به ټو ل رڼا سی!
محمد ی عشق لټو مه
په جها ن او ر لګو مه
سر لو یی پریږ ده‌کمکی‌سه
په ژ ړا ؤ وا ویلا ځه
د مو لا خو ښه هو ری‌ده
لو نګی ټوله پرسر کښیږده

ژر را خه په اتڼ کښېوزه	دخپل خره‌خخه‌راپرېوزه(۱)
پر لمبه دعشق پتڼ سه	ژر را خه گډ په اتڼ سه
څو را گډ په اتڼ نسی	او پر سره اور پتڼ نسي
اوم سړی یی‌نه پخیږی	و مطلب ته نه رسیږی
و مطلب ته عاشقان
رسیدلی په ښه شان

## څلور غله اویو دباغ څښتن

### «حکایت»

دا قصه د مثنوی ده	ما ښنتو کړه دا فارسی‌ده
وه څلور تنه سړی	یو ؤ چټ بل عسکری
یو سید و بل ملا	باغ ته را غله دوی‌په غلا
څلور پلنډی و تړلی	هم څلور سره یی وړلی
ها دباغ‌څښتن پریشان‌سو	یو و زړیء خوارحیران‌سو
چه زه یو یم دوی‌څلور دی	بی له شکه پر ما زور دی
نو تدبیر به چلومه	زور و لافه به پر یږدمه
په تدبیر زمری ښکاریږی	په تدبیر پیلان رامیږی
په تدبیر غرو نه نړیږی	په تدبیر ښار آبادیږی
ویل ښه را غلاست یارانو!	خدای مو را وله ځوانانو!
دغه باغ دی ترتا جار سی	هرڅه وړی چه موپه‌کارسی
اما هو یو عرض کومه	زه خپل ځان‌په پوهومه
چه ملا خو مو لانا دی	او سید زما آغا دی
عسکری هم حق لرینه	چه پر مونږ پېهره کوینه
دغه چټ د کمی څوا دی؟	چه راغلی زما په غلا دی
هیڅ حق نلری پر ما	ناروا کړی ناروا

---

(۱) په دغو دوو بیتو کی‌داتڼ‌دغه ناره په لږ تصرف تضمین سوی ده :

مستانی ! لونگی غوټه پر سر کښېږده
را خه په اتڼ کښېوزه
مستانی ! دنیا یی کارو نه‌پرېږده

دده بر خه حق د ه ستاسی      دی مو خوشی خطا با سی
د ی بـه و تـړ و د لـی      بر خـی و اخلی تا سی دری
ددوی خوښه سوه هرگوره      چټ یی وتړیء په زوره(۱)
بیایی و و یل بـا غـوا ن      چی زه کـړ م یوبل بیا ن
دا مـلا زمـو ږ امـا م د ی      سید خو ښی دخاص وعام‌دی
نی تنخواه نی تجارت سته      نه یی کښت نی زراعت‌سته
پر هر چا هم حق لر ی نو      چـه هر څوك څه ورکوی‌نو
داعسکرخو تنخواه خو رینه      خلك و نـډ ه و ر کـو ینه
بیا یی کار پهره داری د ه      در عیـت نـگهـدا ری د ه
دی څه حق‌لـری چی غلاکه      او بیا غلا له ما و تا کـه
که مو خو ښه و ی دی هـم      وتړ ی خـو را محکـم !
پلنډ ی ستاسی برخه‌کیږی      هم وتاسـی تـه رسیـږ ی
دوی و ل ښه وایی ولا (۲)      پر حمله یـی کـړ ه دو را
ښـه یـی و تا ړه محـکـم      پلنډ ی کش کړه دوی‌په‌چم
بیا نو وویـل بـا غـوا ن      و سیـد تـه پـد ی شـا ن
ته سید ز مو ږ بـا دار یی      پر مو ږ ته لو ته‌حق داریی
ته آغا مو ږ نو کـرا ن یو      تـه با دار مو ږ غلا مان یو
ستا خو حق دی پر موږډیر      تر هرچا یی تـه را تیـر
تـه او لا د د پا ك رسول‌یی      زمو ږ پر سرسترگوقبول‌یی
دا مـلا د ی کـه بـلا      چی کو ی د ی دبـل غـلا
ده بـه مو ږ ته نصیحت‌کا      ده به مو ږ ته هدایت کـا
چی را غلی زما په غـلا د ی      نـو مـلا نـد ی بـلا د ی
دی مدا م خو ری ز کا تونه      و ر کو ی خلـك خیرا تونه
هم دمړ ی سر خاکی خوری      د ژو ند و غم و ښادی‌خوری
دی څه حق لری پـر مـا      چه تـه یـې سید آ غـا !
د د ه پلنـډ ه یی هم ستا      را شـه و تـړ و مـلا !
دا هـم خـو ښـه دآغا سوه      و مـلا و تـه پرخوا سوه
دوا ړو و تـړ لـه مـلا      نو را غـو زار یـې کـی ملا

---

(۱) وتړیء = وتاړه .
(۲) ول = ویل .

ملا خوار یې و تـا ړه       پـه بلا یـې و لا ړ ه ا
آخر پا ته یـو آغا سو       با غـوا ن ده ته په ویناسو
ویل ښه تـه خو سید یې       لیو نی نه یې پر سـد یـې
سید کله غلا کـو ینـه       دبل مـا ل به څنګه وړینه
ته او لا د د پیغمبر یې       په هر ښـه او بـد خبر یی
ای نا ترسه و لی غلاکړی؟       یی سید او نا روا کـړ ی
ستا سزا ده خو را ډیـر ه       نو ور پو رتـه سو د لیـره
پر سید ژ د ی غښتلـی       د ی با غـوا ن هاناز و لی
نو یـی وتـا ړه محکـم       با غـوا ن سوکا میاب په‌چم
دا څلور سر ه څوانا ن       په چـم و تړ ل بـا غوا ن
تد بیر داسی کړ ی کارونه       پر دښمن کـو ی وا رو نـه
با غوا ن یو سړ ی ۋ ورووه       څـه کار ونې ، وکړه ګوره
په حکمت او ښـه تد بیـر       څلور غله یې کړ ه اسیـر
بد ن با غ عقـل با غوا ن دی       حوا س غله مل‌یې‌شیطان‌دی
تړه یو یو که عـا قل یې       و ژنه یو یو کـه کا مل یې
که تد بیـر نه ۋ د لبـر ه       په زور نسی د ز ړه سـر ه
دښمنا ن سر ه جـلا کړه       پـه دو ی خپله مـد عا کړه
په حیله حیله څا ن ژ غو ره       ددی نفس‌کا فر لـه او ره
غله پر تا باند ی چاپیر دی       ته خو یو یې د و ی‌څلوردی
څا ن سا تـه د دو ی له اوره       نو تد بیر کوه ای و رووه
کـه تد بیر نـه ۋ د لبـر ه       غلـو د ی با غ کی بی ثمره
که دعقل با غوا ن نه و ی       با غ به لاښ‌حاصل یی‌نه‌وی
که عاقل یې ښه تدبیـر کړه       دښمنا ن دی په څنځیر کړه

## دزمری اودسوی قصه

### « تدبیر »

حکا یت یـې دی لیکلـی       مـثنو ی کی د ی را و ړ ی
حیوانـا ن ډیر په عذاب‌وه       دزمر ی په اور کبـا ب وه
ناګها ن به زمر ی را غـی       نو به دو ی ته مر گی راغی
څوک بی‌مړه کړه‌اوڅوک‌خیری       څوک بی‌کړه له رمی لیر ی

خوك زخمي شوك بې كرم كړه — تول بې بنه ككړ په غم كړه
دظالم زمري له زوره ! — په عذاب وه ډير هر گوره
تل پر دوى دغم نا تار ؤ — هر يو بيل بيل په چغار ؤ
آخر دوى يو صحبت وكى — هم يى دا مصلحت وكى
مصلحت كى بر كت دى — مصلحت خو لوى نعمت دى
مشكلات تول په خلاصيږى — دهر كار چاره په كيږى
چه زمرى ته به زارى كړو — عرض به ډير په عاجزى كړو
په شيوه زمرى خوږ كيږى — او په زور كله متيږى
تيتهه غاړه نه پرى كيږى — چاړه كله پر چليږى
چه ستا ښكار به در ليږو — هيڅ بې نه ناغه كوو
موږ را يت ته موږ پا چا يې — موږ منلى په رشتيا يې
ته بيا مه را زهير يږه — دلته بيا مه را خوار يږه
داخبره ده ومنله ! — عهد يې وكى يو له بله
دوى وفا په عهد كو له — دده بر خې ور ليږله
چې وعده دى وكړه وروره ! — تل وفا په كړه هر گوره
يوه ورځ واردیو سوى سو — سوى گو يا په گفتگوى سو
چې داځه نار وا كار دى — دغه څه دغم روز گار دى
خو ترخو به پر موږ غم وى — خو تر څو به دا ستم وى
چې پخپلو پښو بهگورته — رسوو ځان و سره اور ته
ددى كار چاره دى وسى — زما له لاسه و رتگ نسى
تهو لو و يل و ده ته — ولى نه ځى بيا پر څه ته ؟
ژر څه ژرڅه چې زمرى — اوس به راسى كړندى
موږ به تول سره تاړاك كى — دا اميد به مو هلاك كړى
زور مو ندى برا بر ! — موږ كمزور دى زوروور !
ژر څه ژر څه مه پا تيږه — خو شي خوشي مه كه يږه
ده و ل بنه دى اى يا رانو — دا دى خم برا درانو !
زه بې نن يو چار وكم — مړ بى كړم د خداى په حكم
نور هى سو په تدبير — هره خوا گورى خير خير
ځو سو پيښى پر يولوى شاه — ول دا دىء زندان د شبا ه
دزمرى پر خوار هى سو ! — په تدبير او په زارى سو
پر لار و ځند يده دى — بى طاقته سو زمرى

چې دا ولی نه راځې نوا
چې دلیری سوی پیدا سو
زمري خاوري با دوی نو
ویل ولی خندیدلی
ته زما یوه گوله یې
نه مړیږم زه په تا
ده ول زما یو پاته سوی
په دا لارکی بل زمری دی
مو ږ ؤ دوه سویا ن را غلی
یو زمری وگرزاوه
وایی : زه یم نن پا چا!
پس لدې ما ته را ځیء
زمری ډیر سو په غضب
و ل دا څه وایی ای سو یه!
بل پا چا نه پیژنمه
تې را وښیه ای سو یه!
چې زه ورسم کار یې وکړم
زمری سوی دوا ړه رهی
سوی له مخه د زمری ؤ
څو را ورسیده ځا ته
سوی ول د لته دی استیږی
ته ما و نیسه بیر یږم
زمری سوی ونیو په څنگ
سر یې کښته کی و خاته
خپل صورت یې ولیده
سوی یې و غور څاوه شاته
په او بو کې ښه ډو ته سو
داو بو پر سر پا چا
په حیله د سوی زمری
خا طر جمع را رهی سو
چې را و رسیده ځای ته

زما ښکار نه را کوی نو
په زاری په وا ویلا سو
ښها نه پی جو ړ وی نو
بیا یوازی یی را غلی
ته زما یوه لقمه یې
را کړه ژر څوا ب زما
بل پاچا دی پیدا سوی
خورا لوی او گړندی دی
ستا حضور تې استو لی
ما ځان تا ته رسا وه
بل څوك نسته بې له ما
زما خوراك به را کوی
سوی ولاړ په ډیر ادب
پا چا زه یم دروغ گو یه
او که وی زې نه منمه
که رشتیا یی رشتیا گویه
او نو کان توله په سره کړم
سوه پر لور دبل زمری
زمری سم پسی رهی ؤ
دها بل زمری وخوا ته
تلودی شاه ته ورلو یږی
ډیر مهیب دی زه تر هیږم
له غضبه په غور ځنگ
چې وگوری بل پا چا ته
پخپل ځان وغو لیده
دی ور و لو یدی و ځا ته
یو څو پلا را سته چپه سو
را وا وښت پر سپینه خوا
مړ سو۔ سوی پاته ژوندی
په خندا په خو شحا لی سو
شکر یی وکیښ وخپل خدای ته

چې موږ خلاص سولدی غمه        اوس به ناست یو ښه بی غمه
حیوانانو تـی قصه کړ ه        دا قصه یی ښه خو ږه کړه
تول دده سو لـه ممنو ن        دتد بیر یی سوه مر هـو ن
په تدبیر دی تول آزاد کړه        خپه زړونه مو دی ښاد کړه
هر یـوه دد ه ثـنا کـړ ه        هر یوه د ه تـه د عا کـړ ه
چې ای سو یه که کچنی یی        په تدبیر لکـه ز مر ی یـی
له بلا دی خلاص کړ ه کلی        پر آرام دی کړ ه و کړ ی
ستا تدبیرخوموږژوندی کړو        خلاص‌دی‌موږله‌شنه‌زمری‌کړو
تل مدا م به دی ممنو ن یـو        شا مدا م به دی مرهون یو
دخپل قوم خدمت دی وکړ        خورا لوی همت دی و کړ
ته لایـق د ډیر عز ت یـی        تـه خاوند د کرا مـت یـی
موږ به تول ستا عزت کړ و        هم د زړه به دی خدمت کړو
چې په قوم کې‌څوك پیداسی        خو د تو لـو رهنـما سـی!
تد بیر ښنگه ښه وسلـه ده        ښه تد بیر خو ښه وسله ده
په تدبیر جها ن جو ړ یږی        په تد بیر جها ن نـړ یږی
مو لا نا ښه را تـه وا یـی        ما و تا لـر ه دا ښـا یـی
چې تد بیر د لاری مل کړو        نو پر هغـه بیا عمل کـړ و
که دسو ی ښه تد بیرنوای        دخوارانو حال به څه وا ی
په تدبیر دسوی‌خو ندی‌سوه        گویا مړه وه بیا ژوندی‌سوه
نفس ظا لم لکه زمر ی‌دیء        هم حریص خروړی‌سپی‌دیء
تل حملی کـو ی پر نو رو        خپل حواس به څینی‌ژغورو
چې مو کلی تا ړا ك نـه کی        او مو غر ق و هلاك نه کی
انگلسـتان لکـه ز مـر ی        پر ایشیا یی دی غـر ږ ی
کال په کال‌څه‌څینی غواړی        چې په پای‌کی یی ونغاړ ی
دغه ښه ژوندی مثال د ی        ما نیو لی پر ښه فا ل د ی
ور خر مه د عقـل سوی که        آ مو خته یی په ښه خوی که
ځان که خلاص په ښه تدبیر        چې دنفس نـسی اسیـر
که دنفس پر خوار هـی یی        تل به پیښ پرلوخواری یی
نفس‌دښمن ظا لم‌سر کښ‌دی        ستا په‌کمه‌خورا خوښ دی
شپه ؤ ورځ به ته بیدار یی        دنفس چـم ته به تیار یـی
چې فرصت د ی کی پیـدا        ور ته جو ړ کـه ژو رښا
په حیله حیله یی مـړ کـه        په خواری یی هـم ککړ که
دنفس جنگ جهاد اکبر دی        داحدیـث د پیغمبـر د ی

لوی جهاد جهاد دنفس دی — تل یی وژنه خو دی‌وس‌دی
دی له مخه تر خپل ځان که — جهان ته له گلستان که
څه عالم دی نفس وژلی — و سره اور ته یی اړولی
نفس شیطان ستادښمنان‌دی — تل له تا دست وگریوان‌دی
غواړی غوزار دی‌کی‌ای‌وروره — تل بیدار اوسه هر گوره
اروپا و تا ته غله ده ! — پر ایشیا باندی حمله ده
سوی د عقل ورته پټ که — نو یی بیا په اور مکوټ که
ها د عقل سوی دی څه‌سو — ها دموری زوی‌دی څه سو
نن دی واردی نن‌دی واردی — تل پرښو باندی تلوار دی
له خپل عقله اخله کار — نو د ښمن که په را غوزار

# سوداگر اوطوطی

دا قصه ده د طوطی — ده راوړی مثنوی
سوداگرتیء هندوستان‌ته — هندوستان تاجر ستان ته
داجهان د تجارت دی — دا جهان دمنفعت دی
دا جهان دازمویښت دی — دا جهان جهان دکښت دی
دا جهان جهان د گټی — دا جهان جهان د وتی
گټی خو رازه دی جانه — ځینی گټی وی نقصانه
په ظاهر وی ځینی گټی — په باطن کی سری‌سکروټی
وایی مه راځی تر کوره — چی دی گټه کړه له وروره
گټه ها چی درسره وی — او ستا زاد هم دی‌توښه‌وی
پسله مرگه دی پکار سی — او منظوره د بادار سی
در وه او درب ته وی پکښی — چپ او لپ ته وی پکښی
نه قسم وی او نه چم — وی پر شرع باندی‌سم
تجارت کی منفعت دی — تجارت کی برکت دی
پاك رسول تجارت کړی — دی و شام ته پسی تللی
تجارت خو سعادت دی — سیاحت هم زیارت دی
نن دنیا د تجارت ده — نن سودا د تجارت ده
سیاست پر تجارت دی — تجارت پر سیاست دی
تجارت باندی نن‌جنگ‌دی — تجارت باندی نن ننگ دی

PROPERTY OF ACKU

اروپا که امریکا ده
که روسیان که جرمنیان دی
فرانسیان که ایطالیان دی
تجارت با ندی جنگیږی
دا خبر را څه اوږدیږی
سوداګر ښه بو الهوس ؤ
دا طوطی ډیر دده خوښ ؤ
سوداګر ویل و کورته
څه شی غواړی سوغاتونه
چی زه دا غواړم اودا
و طوطی تی و کتله
ته څه غواړی ای طوطی
شین طوطی سو په ژړا
زما سلام پر شنو طوطیانو
چی مو ولی یم هیر کړی
تاسی تل یاست په هوس کی
سوداګر و لاړ هندوستان ته
مال یی خرڅ ګټه یی وکړه
یو وخت تللی صحرا ته
سیل یی و لید د طوطیانو
زما طوطی سلام ویلیٔ
هغه ټول بیان یی وکیٔ
یو طوطی و ریږدیده
دی خبر اثر پر وکه
سوداګر و رته حیران سو
دا طوطی یی مګر خپل ؤ
کشکی ما نه وای ویلی
را رهی سو دی له هنده
رهی سو د وطن لور ته
وهر چا تی سوغاتونه
طوطی و ویل ـ آغا

افریقا که آسیا ده
که انګریز که جاپانیان دی
که چینیان که نورشیان دی
یو له بله نه جوړیږی
سوداګر طوطی پا تیږی
چی طوطی یی په قفس ؤ
چی یی ساز په ده نفس ؤ
خپل اولاد او هم یی مور ته
هر یوه کړه بیانونه
بلبل دا غواړم او هما
بیا یی ده ته و ویله
چی یی راوړم سوغاتی
دا یی و وی په خندا
وایه د یر زما پر یارانو
تر نظر مو اچولی
زه بندی په تور قفس کی
ورغی و یو دوکان ته
سوغاتونی وړ په زړه کړه
و ښه سیل او تماشا ته
ویل ای ښو شنو مرغانو
هم پر تاسی را لیږلیٔ
چی طوطی خپل کور پرده کیٔ
او خوږا و سر پیده
سوږ پوږ ولویده پر مځکه
او خورا ډیر پریشان سو
دفراق اور پر ده بل ؤ
یا ده نه وای اوریدلی
هم را پری سو دی له سینده
خو را ورسیدیٔ کور ته
ورکړه ښه ښه انعامونه
زما دا څه سو، سوغات را



PROPERTY OF ACKU 2337

زما سلا م د ی و وایــه
سو دا ګر و کــی بیــا ن
ستــا سلا م مــی و وایــه
ویل څه ویل طو طیا نــو
زی بیا ن نسوای کــو لای
طو طی بیا ده تــه خطاب کړ
ول طو طــی و رین د یــده
طوطی پو ه سو پــه بیــان
زین د یــد ه او سر پیده
سو دا ګر سو پــه ژ ړا
چی دا څه و سو ه عا لمــه
دا طو طی خو زمــا هو سۍ
دا طوطــی خو زما سا ز ۍ
څه می و کــړ ه ا ی طوطی
طو طی پروت دی بوړی بوړی
قفس مات طوطی یی خلاص کړ
طوطی وا لوت په هوا سو
سوداګر ویل دا څــه ۍ ؟
دا دی څه و کړ ه و وایــه
ول اثــر زمــا د سـلا م ۍ
دا تعلیــم یــی عملــی ۍ
ځا ن که مړکه حیات مومی
که ځــا ن مړ نکړ ی آغـــا
سو دا ګر ویل دا پنــد ۍ!
رو ح طو طی بد ن قفس دی
مراد له مرګــه عا جزی ده
څه دغم سو دا ګــر ی د ه
چی جر س پکښــی د غیړی
دما می پر ین د ه د لبــر ه
عا جز ی فرو تنــی کــړ ه
چی تر ننه د ی هــو س ۍ

په جوا ب د ی څــه لیــده
ها بیــا ن دهنــدو ستان
ستــا پیغــا م می ر سا وه
هغه زما ښو آشنا یا نــو
کا شکی مانه وای لیدلا ی
بیا یی سوال دخپل ځواب کړ
بیا نو سو ړ پوړ و لویــده
ژر سو دی خو را لــړ زا ن
بیا نــو سو ړ پوړ و لویده
پــه ژړا پــه وا ویــلا
وی ء لــه داسی لوی ما تمه
دا طو طــی خو زما نفس ۍ
دا طو طــی زمــا همــراز ۍ
ځان می کی ء په تا خو نــی
دی دغم سند ری بو لــی
له حسر تی په غابښ لاس کړ
په هوس او په خندا ســو
دغــه سحــر کــه جا دو ۍ
داستا څوك ۍ رهنما یــه
دسلا م او دپیــغــا م ۍ
چی را کړی ء ها طوطــی ۍ
له قفســه نجا ت مو مــی
خلاص به نه سی له سو دا
دغه پند دی ښه سودمند ۍ
په زندان او په محبس دی
فقیر ی او خاکساری د ه
ما ته ښیښه لو خوار ی د ه
کاروان پــټ کله تیر یږی
پټ پټ ګر زه د زړه سره
بی کبر ی او کمینی کړ ه
که هوس ۍ نــو دی بس ۍ

# سپینه‌ږیره اوتورمخ

دا دږیری یوه قصه ده
مثنوی کی نوشته ده

یو چا وکړه دا پوښتنه
ای د لوږیری څښتنه

ته یې مشر که ستا ږیره
ځواب راکه ای زوړ پیره

ویل زه مشر یمه وروره
دا معلومه ده هرګوره

زه کچنی وم ږیره نه وه
زه هلکی وم ږیره نه وه

لغړ زنی وم څوکاله
ږیره نه وه زما لاله

پس له څو کلو نو بیا
شوه پرمخ ږیره پیدا

وم تور ږیری بیاشین ږیری
اوس نوشوم‌دایم سپین‌ږیری

زه یم مشر ږیره کشره
ستا مطلب څه دی ای مشره

ول مطلب می دا دی پلاره
یپلا وګوره هنداره!

مخ دی تور ږیره‌دی سپینه
ته لاکړی ددنیا مینه

زړه خیرن ږیره دی پاکه
ږیره پاکه ته ناپاکه

داوه توره ځان یې‌سپین‌کیء
ته‌وی‌سپین‌ځان‌دی‌چرکین‌کیء

که زه وکړم تا ته سپینه
زړه دی تور ږیره‌دی سپینه

ته هلك یې ناروا کړی
چی په سپینه ږیره غلاکړی

ږیره مشره ته یې کشر
دا ده مغز ته یې قشر

دی ځان‌سپین‌کیءته لاتوریې
نشوی پاك برګ‌یې اوبوریې

ستا مخ توردی داسپین‌دی
ږیره سپینه زړه دی‌شین‌دی

نو دا لوده ته کچنی یې
مشره دا ده ته کمکی یې!

ږیره سپینه مخ پرګور
زړه مین دی پر لاهور!

ږیره سپینه غابښ کنډول
زړه اتڼ غواړی هم ډول!

دا عجبه رسوا یې سوه
څومره لویه بدبختی سوه

دا سودا به وی ترکومه؟
دا هوا به وی ترکومه؟

سپینه ږیره ډول ترخنګ
غابښ وتلی وهم چنګ

نه دی شرم نه حیاء
کړی په سپینه ورخ لاغلا

نوله خدایه وبیریږه
لدی ږیری وشرمیږه

داتور مخ‌او زړه دی‌سپین‌کړه
مرګ او حشر دی یقین‌کړه

چی‌په‌سپین مخ‌خدای‌ته‌ورسی
اوسرخ رویه په محشرسی

# ګناه او غرور

دا قصه د مثنوی ده — چی ویلی مولوی ده
د شعیب نبی په وخت — یو سړی و ډیر بد بخت
دی خورا لوی ګنه ګار و — د ګناه په پیټی بار و!
یوه ورځ یی و شعیب ته — ویل ګوره دا زما عیب ته
زه ګناه کړم تل تر تله — خدای می نه نیسی هیڅ کله
شعیب وویل خدای وایی — تا ته دا وینا نه ښایی
تی نیولی په غضب یی — ته مغضوب مقهور درب یی
زړه دی تور او مخ دی توردی — چی ګناه و ته دی زور دی
تردی نور نیول به څه وی؟ — تردی زیات تر تل به څه وی؟
چی مغرور یی ګناه کاندی — او مسرور پر ګناه خاندی
ندی شرم نه حیا سی — ندی بیره له مولا سی
زړه دی توردی او خیرن دی — مردار سوی او چنجن دی
چی پروا په ګناه نکړی — او حیا له مولا نکړی
نیول تور وی او که سپین — تی نیولی یی یقین
تور کالی چی خیرنیږی — لکه نه پر معلومیږی
حبشی که آهنګر وی — په سیاهی کله خبر وی
مخ یی تور وی لکه سکور — خبر نه په دود داور
که رومی وی یا شامی — او وی دی لکه سپین وری
که تور تکی پر پیداسی — خو را ډیر به په سو داسی
تکه سپینه د کور خونه — تکه توره داور خونه
په لږ دود د خو د کور خونه — شی خیرنه لغوړنه
داور خونه نه توریږی — که تل اور پکښی بلیږی
دا ستا زړه دی داور خونه — دګناه په دود دودنه
دا ستا زړه دی ګناه وړی — په مثال دی لکه مړی
په ګنه کله خبریږی — مړی کله ژوندی کیږی
ډیر بد بخته او شقی یی — په ګناه چه ته راضی یی
که تکرار پر صغیره وی — صغیره یی کبیره وی
که دوام پر کبیره وی — بوی د کفر تری ښکاره وی
چی په جهر ګناه کیږی — هیڅ توبه یی نه قبلیږی

دتو بی معنی خو د ا — چی زا تو ل کړی خپل گناه
مجا هر که تو به وکړی — تو لیده به یی په شه کړی
چی مرغه وا لووت له لاسه — بیا خو نه را ځی له پاسه

## اخلاص

که چاتل کاوه اخلاص — له بلا به کی ځان خلاص
بی اخلاصه هیڅ عمل — نه گرزی د سړی مل
په هر کار کی چی اخلاص وی — هغه کار له ریا خلاص وی
ها عمل پورته قبلیږی ! — چی اخلاص ځینی ښکاریږی
په اخلاص که دوا ړه لاس — پورته و نیسی لو ړ پاس
خالی نه پاتیږی ورو ره — څه در ځی د خدای له لوره
داخلاص مقام بلند دی — ډیر عالی او ارجمند دی .
په اخلاص سړی تیریږی — ومطلب و ته رسیږی
هغه څوك چی مخلصان دی — دوی د پاك الله دوستان دی

## حکایت

مولانا ښه حکایت کړی — مثنوی کی روایت کړی
چی په وخت کی دعمر (رض) — ؤ (چنگی) په کرو فر
دا و یو پیر چنگی — چنگی نوم دی د سړی
دی په اصل سازنده ؤ — او خورا ښه خواننده ؤ
ښه آواز او ښه یی ساز ؤ — تل پرده به مجلس ساز ؤ
آواز و نه بې کوله — ښه بیتو نه بې ویله
څوسپین ږیری زوړسړی سو — بد آواز ه خوار کی سو
غا ښ یی ولوید ه کنډوډل سو — ډیر بی قدره دسپی ډول سو
سو مفلس او خورا وږی — وچ خلق گرزید وږی تږی
نه یی کسب نه یی روز گار ؤ — نه دهیچا دی په کار ؤ
په زحمت او په تکلیف ؤ ! — ډیر خورا ضعیف نحیف ؤ
ویل ای پرور دگار ه ! — ته زما و کړی یو چار ه
او یا کا له می گنا ه ! — کړ یده یم رو سیا ه
زه خو تا یم پیدا کړی — ژوند خو تا ما ته را کړی

خوك څه نه را كوي ما ته !
نو نن چنگ و هم وتا ته.

چنگ یی واخیست نورهی سو
هدیری ته په زاری سو

په اخلاص یی چنگ واهه
خپل الله یی یاداوه

ویل خدایه ستا میلمه یم
نظر وکړه درمانده یم

په اخلاص تا ته را غلی
په اخلاص یم ږغیدلی

آخر چپ سو چنگ یی کښیښود
سو بیده اوسر یی کښیښود

هم پردی وخت پر عمر
راغی خوب ښه برابر

نو حضرت عمر بیده سو
د بادار حکم پرده سو

چی څه هلته زما بنده دی
خوار و زار او افتاده دی

هم اوه سوه دیناره
ده ته ور وړه په تلواره

چی دا واخله دا عطاده
دا عطاء د پاك مولا ده

چی دی خرخی کړی بیا راشه
نوری واخله سمد لاسه

چی حضرت عمر را کښینوست
هم پر ده ډیر هیبت پریووت

همیانی یی کړه تر ملا
هدیری تی کړه آلا

شا و خوا چی وگوری
بل خوك نه ؤ بی چنگی

ویل دا به هغه نه وی
ها سړی به ترده ښه وی

ها خو دوست ؤ دمولا
دا چنگی نغمه سراء !

بیا یی وکتل عمر (رض)
شبا و خوا یی کړ نظر !

بل خوك نه و بی چنگی
ویل دغه دی نبنبانی !

عمر راغی ورته کښینوست
چی یی ونیول چنگی کښینوست

چی عمر یی ولیده !
چنگی خوار و ړین دیده

ویل ای خدایه باداره !
محتسب دی دره داره

چی عمر یی ولیدیٴ
چنگی ډیر و بیریدیٴ

ویل مه بیریږه وروره !
معتبر یی ته هرگوره

خدای پر تا سلام ویلی
زی یم تا ته رالیږلی

چی دا واخله ستا خلعت دی
دخالق پر تا رحمت دی

دغه ستا د چنگ صله ده
داخلاص دی ثمره ده

چی دی خرخی کړی نو بیا
راسه نور واخله له ما

چی چنگی واوریده دا !
سو خجل او په ژړا

په نارو او واویلا سو
شرمنده او په ژړا سو .

ډیر یی وژړل چنگی .
چنگ یی مات کړ سمدستی

ویل ته وی زما حجاب
ته مانع وی زما په باب

او یا کا له دی محجوب کړم — شر منده دی ترمحبوب کړم
ای ها دی پر وردګار ه ! — ای غفا ر ه ای ستا ره !
پر تیر سو ی عمر زما — ر حم و کړ ی ا ی مو لا
په اخلا ص چی پیر چنګی — رب ته را غی په زا ر ی
با دار خپل فضل پروکی — خورا ډیر رحم یی پرده کی
لوی نظر پرده د ر ب سو — په در ګا ه یی مقر ب سو
په یوه پلا لوی سړی سو — ګو یا مړ و بیا ژو ندی سو
چی په رحم نظر کړ ینه — توری خاوری به زر کړ ینه
ته پر ما و کړ ی نظر — تو ری خا وری می کړ ی زر
هم اخلا ص می په نصیب کړی — محبت می دحبیب کړ ی
چی چنګی غوندی اخلاص کړم — او خپل ځان له بلاخلاص کړم

په اخلاص، که څوك اخلاص کړی
له بلا به خپل ځا ن خلا ص کړ ی

## سیال او ناسیا ل

هغه څوك چی سره سیال وی — تل مدا م سر ه خوشحال وی
خبیثا ت للخبیثین و ی — طیبا ت للطیبین و ی
دهر چا ز ور وخپل جنس ته — دنا جنس دا و نا جنس ته
نور و نور ته نار و نارته — د هر چا مخ وخپل یارته
کا فرا نچی دوږخیان دی — پر دنیا بنه عا شقا ن دی
انبیا چه جنتیا ن د ی — د جنت پر لو ر روا ن د ی
هر څو ك خپل جنس کشوینه — و خپل ځان تی رسو ینه
دعقبی چی طا لبا ن د ی — له دنیا نه ګریزا ن دی
څه ذر ی چی پر دنیا د ی — دخپل جنس بنه کهربادی
هر یو خپل جنس ته ورځی نو — له هم جنس سر ه کبنیني نو
دبد ن ز ور و خوړو ته — شنو و لو او بنو باغو ته
د رو ح زو ر د ی وحکمت ته — او و علم و معر فت ته
دبد ن زور کبنته خوا ته — و سبزو د بنت وصحراته

دز ړه میل و پورته خوا ته
عبا دت د پا ك مو لا ته

# حکایت

مثنو ی کی حکا یت دی | په دا شا ن ښه روایت دی
یو دباغ را غی با زار ته | په با زار کی و عطار ته
پرده را غله بیهو ښی | په اثر د خو شبو یی
اوږ د او ږدپر یوت لکه مړی | دده ز ړ ه خوشبو یی وړی
خلق ټو ل سو ه پرده باندی | هر یو بیل بیل علاج کاندی
چایی لاس موښود چا پښی | چا یی سر چا یی او ږ ی
چا به گل و ر لندا و ه | دده پز ی تی نیو ه !
چا گلا ب و رته را وړل | هم پر ده به یی پا شل!
هیڅ علا ج یی نه کید ه | بلکه لا بتر ید ه !
یو چا و ویل چی ژر کړیء | ها خپلوا ن یی راخبر کړیء
ژر یی و رور را غی له کوره | لو ی د باغ ؤ دی هرگوره
دسپی غو ل یی و رته راوړه | ده کړی بو ی بیهوښی ولاړه
نورا کښینوست مړژوندی سو | هم جگ جوړ اوروغ رمی سو
دی عا دت په بد بو یړه ؤ | د ی همجنس د نا پا کی ړ ؤ
ښه له بد بو ی سرمیار ؤ | له عطار ه پر کنار ؤ
دی همجنس د بد بو یی ؤ | دی خو سیا ل دناپاکی ړ ؤ
دنا جنسو په صحبت ؤ | په بد بو ی د ده عا دت ؤ
خو شبو یی ده ته بلاسوه | بد بو یی دده دوا سو ه
له ښه بو یه د ی بیهوښ سو | په بد بوی خو بیاپرهوښ سو
ددباغ دماغ وروست سویء | په بدبوی ؤ عا دت سو ی
خوشبویی و رته بلا سوه | بد بو یی د ده شفا سو ه
بد ن ختي او او به د ی | ځکه خو ښی هم دده دی
رو ح له پا سه دی را غلی | په زندا ن کی دی لویدلی
دده میل د ی پو رته خوا ته | دبد ن دا کښته خوا ته
رو ح اعلی علیین غواړی | بد ن چر ب او شیرین غواړی
دبد ن عشق و او خور ته | دروح عشق دده ولور ته
داامیر ند یم وزیر و ی | دفقیر دا خوار فقیر وی!

دپسه میل و پسه ته
دلیوه دا و لیوه ته

دانسان میل و انسان ته
د حیوان دا و حیوان ته

دعابد میل عبادت ته
دفاسق دا شقاوت ته

دعالم میل و عالم ته
دجاهل دا و جاهل ته

و هر چا ته خپل تبر دی
زمونږ دین دپیغمبر دی

دهندوانو بخت خانی دی
دفرنگو کار خانی دی

دمجنون عشق د لیلوږ
د آدم داد درخوږ

مسلمان خی و کعبی ته
کافر خی و بت خانی‌ته

بلبلان خی و باغچی ته
تپوسان ، سلخانی ته

بوراگان خی و باغو ته
بمان خی وکنډوالو ته

دملك همجنس ملك دی
دهلك دا خو هلك دی

دهر چا میل دخپل اصل
هم یی غواړی دده وصل

تورکارگان سره‌خوشال وی
شنه طوطیان‌سره‌خوشال وی

مار خی مارته وخپل غار ته
یار خی یار ته و دربار ته

گلخنی خی و گلخن ته
شین طوطی خی وچمن‌ته

سردا ران خی دربارو ته
مردا ران خی خرابو ته

لیونیان خی و یرانو ته
پرسد خی خپلو کورو ته!

دمریض په خوله خواږه
داسی دی لکه ترخه

دخولی خوند چه سی‌خراب
ترخه سی قند و گلاب!

سرسام تل وهی خپل سر
دی په خان نه وی خبر

که سرسام نه یی د لبوه
سر دی مه وهه له سخره

## دناجنس آشنایی

مثنوی کی دا قصه ده
یوه عجبه افسانه ده

دیوی والی پرغاړه
وه چنگښه موږك دواړه

یوله بل سره آشنا سوه
آشنایان هم په رشتیاسوه

یوه ورخ موږك و یل
وچنگښی تی کتل!

ته آبی یی زه خاکی
نو مشکله سوه بازی

چه زه ستا د دید هوا کړم
او هوس ستا دلقا کړم

مانع ما ته دی اوبه
ږغ می نسی رسیده

که هر شو ناری وهمه
ته یې نسې او رید لای
ارمانجن و لاړ سم ترکوره
زړه می غواړی ستا خبری
دی وی ښه وایی موږ که
چی هروخت سره لیدای سو
ول ریښکی به کو پیدا
د ریښکی یو سر به زه
په بل سر ته خپله پښه
دا زموږ تر مینځ یوتاردی
که هر وخت ږ زموږ کار
ددو ستانو تر مینځ تار وی
دمین زړه گرفتار وی
دعاشق په زړه کی لار وی
کله دا تار وی بی سیمه
یو له بله به خبر یږو!
دا خبر یی و منبله !
تل به تله سره را تله !
یوه ورځ موږك له غاره
نا بوبر کارگه پیدا سو
دموږك ښکار ور پیدا سو
ها چنگښه وه تړ لی !
چی چنگښه په هوا سوه
دهر چا ناری په زوره !
دایی خنگه عجب کار کی
ها چنگښی به نار ی کړی
چه زی نه یمه ښکار کړی
دا را پیښه له آشنا سوه
زه آبی وم دی خاکی
دنا جنس آشنا یی مکړه
هی تو به د نا جنسا نو

او هر شو فریاد کومه
او ته ما نسی لید لای
او نا مینده سم هر گوره
ستا خبری دی شکری
دد ی کار چاره نو وکه
او هر وخت سره کتای سو
چی ترمینځ وی زما وستا
غو ته کړم پخپله پښه!
ښه محکمه وتړه !
دا زموږ یو ښه روی بازدی
نو به کش کړو دغه تار
چی تار نه وی تار په تاروی
بند د زلفو په تو رتار وی
دمعشوق سره یی تار وی
تللی وی دیار تر سیمه
تل به موږ سره لید کیږو !
خپل ځا نو نوی و تړله !
ښه صحبت به یی کاوه
راو تلی ږ بی واره !
پر موږك با ندی را تا سو
ښکار یی وکی په هوا سو
په هوا وه څړ ید لی
جو ړه ښه یو تما شا سوه
دکار گه و حرص ته گوره
چی چنگښه کار گه ښکار کی
غلبلی نا ری سو بری کړی
ما نا سیال و آشنای کړی
دنا جنس آ شنا له خواسوه
څه مو وړه وه آ شنا یی؟
دی قصی ته نظر وکړه
هی تو به د نا سیا لا نو

چی دی‌سیال‌نه وی‌ای وروره / لیری لیری ځینی ښو ره
سیال‌له سیال‌سره ښه‌ایسی / دنا سیال سره بد ایسی
دسړی سیال خوسړ ی وی / دغوایی دا هم غو یی وی
سړی ځی نو رو سړ و ته / غویی ځی نو رو غو یو ته
که سړ ی یی څه سړ و ته / مخه مخه خرو غو یو ته
روح با دار بد ن مر یی / بدن مړ دی روح ژو ند ی
رو ح بد ن بدن کالی د ی / داکا لی خو بیا پردی د ی
کالی پاك بد ن نا پا که / ولی دا سی کړی بی با کهٔ!
بدن پاك زړه دی‌خیرن‌د ی / بدن خوړ زړه دی‌خوږمن‌دی
بدن ناست پر ښه چو کۍ / زړه پر اور او پر سلۍ
بدن سپور زړه دی پیا ده / زړه خزا ن بد ن تا ز ه
شهزاد ه پرو ت په گلخن / مر یی نا ست په ښه‌گلشن
عیسی مړ خر دی ژ وندی / مار دیء خپل یار دی پردی

دادی څه وکړه ای یار ه !
پو ر پر غا ړه میړ مر دا ره

## دبنده هیله

### پور و ړی اوبدر الدین عمر

حکا یت دمثنو ی د ی / روایت دمو لو ی د ی
یو سړ ی ؤ پور و ړ ی ! / دا فلا س بحر ؤ و ړ ی
پو ر یی نه ز ره ؤ ورو ره / پوره و رك دی‌کړه دوه‌کوره
را رهی سو له خپل کوره / بدر الدین عمر پر لو ره
بدر الدین عمر سخی ؤ / ښه کریم او لو ی ولی ؤ
و هر چا تی بخښښنو نه / ور کو ل ډیر انعا مو نه
دهر اړ سړ ی د ی یار ؤ / دمحتا جو مد دگا ر ؤ
ها غریب امو خته خور و / امید وار دده پر لو ر ؤ
په امید یی پو ر و دار که / وکر م تی انتظا ر که
چی بی را کړ ی بدر الدین / هم په زړه یی ؤ یقین
دعمر ښهر تېر یز ؤ / دکر م جا م یی لبر یز ؤ
په امید را غی تبر یزته / د شا هی ما نۍ دهلیزته

ویل چیرې دی عمر        دسخا دا حسان لمر
ویل فوت سو بدرالدین        جهان سو په ده نا ورین
بدرالدین مړ سوای وروره        بیرته څه تر خپله کوره
ها د بدر سپوږمۍ و لاړه        جهان ټول تیاره سو لاله
دغه لوی د غم خبر        پر ده ډیر و کی اثر
دبنده هیله څه نه ده        دمو لا هیله خو ښه ده
سو بیهو ښه خوار کی        دا خبر ده ته مرگی
چا گلاب ده ته پاشله        چا دده پر حال ژړله
دی بیهو ښی و تر ما ښا مه        کله ډوب کله سر سامه
چی پر هوښ سو ویل خدایه        تا ته گرم یم په سل گرایه
ځونه ډیره پره می کړی        دبنده هیله می کړی
بنده څه احسان یی څه ؟        طبیب څه درمان یی څه ؟
تا سر را کړ ده خولی!        تا پښی را کړی ده کپی
تا خوله راکړه ده ډوډی !        تا تن را کړ ده کوچی
تا مزه را کړه د خولی        ده یو څو دا نی خو بزی
ده څه را کړه ماته زر!        را کړ تا عقل و هنر
ده عینکی ما ته را کړی !        تادوی سترگی را عطا کړی
تا ژوند را کړ هم حیات        ده کالی را کړه خیرات
ده زر را کړه په منت        تا وعده د ښه جنت
تا پیدا کړم په احسان        را دی کړه مځکه آسمان
دا دده عطا هم ستا ده        دا سخا و رکړی تا ده
زر خو هم تا پیدا کړی        هم و ده ته دی ور کړی
غنم تا دی را شنه کړی        ده په ژرنده اوړه کړی
ور کړه تا ده ته و رکړی        سخا تا ده و ربخښلی
ټول له ته ور کوی خدایه        ټول له ته وربخښی خدایه
بی منته ښه احسان کړی        دا احسان پرهر انسان کړی
ما خو دی ژ را تیر کړی        ستا احسان خومی هیر کړی
ها سری پدی وینا ژ        په وینا په وا ویلا ژ
شا و خوا به گرزیده        دا بیان به یی کاوه
یو چا بوت دده و گورته        بدرالدین عمر و لورته
ویل زما و لی نعمه !        په کرم زیات تر حاتمه

زه خو ستا و م نمک‌خوره
ستا حق ډیر پر ما هرگوره

ستا دعا ده پر ما پور
چی زه وم ستا نمک‌خور

دبنده شکر چی نکړی
د مو لا شکر به څه کړی

ته زموږ په غم زهیروی
معاون د هر فقیر وی

ته زموږ لو امید گاه وی
ته زموږ پشت پناه وی

ته زموږ تر شا لوی غروی
ته زموږ ومخ ته‌سپروی

بخښی‌دخدای ته واسطه وی
زموږ تر میان ښه‌رابطه وی

ته مړ نه وی‌زموږ بخت‌مړسو
ستا بخت لوړ زموږ‌داځوړسو

را رهی سو و خپل ځای‌ته
ډیر خجل ژو خپل خدای‌ته

خو بیی و لیدیء د شپی
بدر الدین عمر هوری

ده تی و ویل ای وروره !
او ریده می ستا له گوره

دجواب اجازه نه‌وه
خو له می بنده ایله نه‌وه

چی خبر سو موږ له حاله
خو له مو بنده سوه له قاله

چی هاپڼ سر نسی فاش
او بر هم نسی معاش !

زه خبر وم ستا په پور
چی را څی زما پر لور

جوا هر می وه ساتلی
ستا دپور دا پر لیکلی

چی محروم نسی ای وروره
خالی و لاړ نسی تر گوره

ما ویل زه بی درکومه
خو اجل نه پری ښو ومه

په پلانی ځای‌کی ښخ کړی
ستا له پاره می ساتلی

ورسه وا خله پور ادا که
نو و ما ته ښه دعا که

وار ثانو ته سلام
وو ایه زما کلام

که څه ډیر سو له له پوره
هغه هم ستادی ای وروره!

چی‌راویښ‌سوډیر خوشال‌سو
په هاهااو قیل وقال سو

دا خوب نه ؤ بیداری وه
دا د شیخ مهربانی وه

دا عطا یی ربانی وه
دا عطا یی سبحانی وه

## ژړا

تل مدام کوه ژړا
په ژړا پسی خندا

او ریږ و ژاړی بارانسی
نو را شنه رنگه گلانسی،

څو ونه ژاړي هلکی — مور یې نه ورکوي تی
ژاړه ژاړه په ژړا — ژړا خو ښه ده مولا
په ژړا آدم قبول سو — په ژړا درب مقبول سو
چې او ریخی وژړله — او ښکلې سوه ښه مرغلره
د ژړا مخ وي روښانه — خورا رون او درخشانه
ژړا ډیره لږ خندا کړه — ځان دې پوه پدې وینا کړه
فلیبکو کړه کثیرا — یضحکو کړه قلیلا
په ژړا او ژړا ژاړه — خپل مطلب له خدا یه غواړه

مثنوی کې ښه قصه ده
تر حلوا لا هم خوږه ده

## حکایت

یو خورا لوی ښه سړی ؤ — په سخا کې حاتم طی ؤ
لوی عابد او ښه سخی ؤ — بزرگوار لوی ولی ؤ
پنامه شیخ خضرویه ؤ — لکه لمر داسې ښکاره ؤ
ښه لنگر یې چلاوه — پور ودار یه یې کاوه
یوه ورځ ټول پور وړی — هم ودوته راغلی
پور یې غوښت ویل یې کاوه(۱) — په بد نوم یې دی ستایه
څه ضرور چې خیرات کړي — او زمونږ پور نه راکوي
خانقاه ډک ؤ د هر چا — یو وار ږغ سو چې حلوا
ده را وغوښته چې راسه — دا حلوا دې ژر راباسه
ها خونچه یې د حلوا — ورکړه ده ته په بها
ده وخلقو ته ویل خوریء — خپل ځان ښه په مړویء
ټولو وخوړه حلوا — خورا ښه په اشتها
ها هلک حلوا والا — د حلوا غوښته بها
بها نه لرمه ورور ره — زه مفلس یمه هرگوره
هلک وژړل په زوره — زه به څنگه ځم تر کوره
دا حلوا زما دا ستا وه — دا زما نه وه د بل چا وه
هلک ژاړي ډیر په زوره — او ناري وهي هي گوره

(۱) ویل = ناخوالی ــ سپکی سپوری .

دعابد په زړه کی غم دی — که څه هم په خوله یو دم دی
چی څه وکړم ای باداره — «پور پر غاړه مېږ مر دا ره»
نا بو بره یو سړی — را لیږ لی حاتم طی
را اخیستی یی مجمه وه — په مجمه کی یو خلطه وه
په خلطه کی هم روپۍ وی — هم روپۍ او هم بتکۍ وی
په قدر د پور وړو ا — هم د دی خلقو حضورو
برابری ها روپۍ وی — هم هغومره ها بتکۍ وی
و ل هدیه ده د یو چا — دغه تهٔ له برخه ستا
ویل وا خلی پور وړو — پور مو خلاص کړیء ای وګړو
تهٔ ل حیران سوه کرامت ته — ددی شیخ و لوی عزت ته
چی دا څومره لوی سړی دی — زموږ پر ده بانده ی غرږی دی
موږ خو نه ؤ پیژندلی — دی په اصل لوی ښناغلی
سترګی پټی خوله مو خلاصه — بد ویل مو کړه له پاسه
هی توبه دده د زوره — پوره ورك دی کړه دوه کوره
که پام وکړی و ییډونکی — نو به نه وی ښو ییډونکی
حلوا فروش چی په ژړاؤ — اوس بیا بیرته په خنداؤ
څو چی نه وای ده ژړلی — نو بی کله وای خندلی
په ژړا چی حلوافروش سو — درحمت بحر په جوش سو
په ژړا پسی خندا ده — دا قصه خو ړه حلوا ده
څو ونه ژاړی په زوره — و به نه خاندی ای وروره
څو ونه ژاړی هلکه ! — د شیدو به نکړی څکه
چه شیدی غواړی نو ژاړه — او کنه نو څته ګاږه
په ژړا ژړا به ژاړو — خپل لالی به له خداغواړو
بی ژړا بله لار نسته — بی ژړا بله چار نسته
ژاړه ژاړه چی ادی — تا ته درکی ښی شیدی
ژاړه ژاړه و خپل مورته — نو به داکی تا ور پورته
که پر مڅکه یی و ژاړه — چی دی مور وا خلی پرغاړه
که ته غواړی چی زنګیږی — یا د پلار پر شا سپریږی
ژاړه ژاړه غلبلی کړه — غلبلی ناری سوری کړه
چی هلك ناره ور و کی — مور یی هم تی ور پخوله کی
د مریض مراعات کیږی — ښه طبیب ور حاضریږی

| | |
|---|---|
| ښه شڼ بت ور کول کیږی | هم خو را نا زول کیږی |
| د ژړا نـد او ښکی پاکیږی | هم پر مـخ یی لاس تیریږی |
| د ژړا ند آ واز چـی خیږی | پر هر چا یـی اثر کیږی |
| پـه ژړا سړ ی پا کیږ ی | پـه خندا او دس مـا تیږی |

ژاړه ژا ړ ه کـړ ه زار ی
خـدا ی به سی له تا راضی

## قضا

| | |
|---|---|
| چی قضا را سـی پـر چـا | نـی عـلا ج سته نی د وا |
| اسمعیل غوند ی سر کښیږده | ځان تسلیم کړه لویی پریږده |
| قضا نه په بلـه کیږ ی | خا مخـا هغـسی کیږ ی ! |
| که عا قـل یـی او دا نـا . | په قضـا که ځا ن رضاء ! |
| چـی رضا د ی د مـو لا | قبلـو ی بـی خـا مخـا! |
| دی پو هیـږ ی په هر چـا | پټ ښکـار ه هـم بر ملا |
| هر چی کاند ی هغه ښه دی | تر قندو نو هـم خواږه دی |
| دی با دار ز مو ږغمخوار دی | هم غفـار دی هم ستار دی |
| خپل بنده ښه پیـژ نیـنـه | امتحـا ن هـم پـه کو ینه |
| امتحا ن کی هـم حکمت دی | د با دار څو نـه قدرت د ی |
| از مویږ هم زما وستا دی | ده تـه هر کار هویدا د ی |
| پیش اوپس دوا ړه پر یودی | که زا ړه دی او که نو دی |
| څه حکمت دی نه پو هیږ م | په قدر ت یـی نه پو هیږ م |
| هر چی کاند ی هغه ښه دی | که ساړه او که تا و ده دی |
| ته تسلیم سه اوسر کښیږده | سر زو ری دی بالکل پریږده |
| نصا را خـو را مغر ور دی | پـه اسبا بو هم مسرور دی |
| پر اسلا م حملـی کو ینـه | خو را خو لـی په لگو ینه! |
| خپله لو گو لـه یـی بو لی | یو لـه بلـه سر ه بو لـی |
| ارو پـا ده غـمیـد لـی | پر ایشیـا یـی حمله کړی |
| لو گو لـه یی په خوله کړی | خو را ښـه یـی هضم کړی |
| ایشیا خوا ره ده ز خمـی | هم ده د یره په زگیـر وی |
| دغه ز خم یی د یء کا ری | نـه ر غیږ ی ځینی مر ی |

څه به کاندو دا قضاء ده | زما و ستا هم ابتلا ده
بې نیازی او کبریا ده | د بادار دا سې رضا ده
دی خو الله الصمد دی | هم دی الله احد دی
بې پروا دی بې پروا | بې پروا هم له هر چا
چه حاکم ؤ نن محکوم دی | چې ظالم ؤ بیا مظلوم دی
چې بادار ؤ نن مریی دی | چې ګیدړ ؤ نن زمری دی
کله غل عسس زندي کا | بیا عسس غل پر سولي کا
هر چه کاندي هغه کیږي | او چې نه کا ها نه کیږي
کې درحم دریاب جوش کي | ګنه ګاربه خلعت پوښ کي
سیئات به حسنات سي | حرکات به عبادات سي
فضل و رحم يې هر ګوره | ډیر دی ډیر دی زما و روره
دی غني دی هم کریم دی | هم حکیم دی هم رحیم دی
وبنده ته بندګي هم | ښایي ډیره عاجزي هم
خوار بنده يې عاجزي کړه | لو يې پر يږده بندګي کړه
خدای ارحم الراحمین دی | هم اکرم الاکرمین دی
تر هر چا دی مهربان دی | چې رحیم دی هم رحمان دی
چې تینه وي پیدا کړي | په هر څه يې آشنا کړي
بیا به ستا واري پیدا سي | په واله به او به راسي
ژر به تیر دغه خزان سي | بیابه شین ستا ګلستان سي
غمجن مه اوسه ای وروره | غل دی و باسه له کوره
غل چې غلا کړي ډیر بیریږي | په هیڅ کور کې نه پاتیږي
دا متل دی د پښتو | د بل کټ تر نیمو شپو
لیکن ته به هم هوښیاري | ودا غله ته به بیدار يې
تل به او سې لاس په توره | چې دغله مور کړي ور بوره
همت خنګه کړي وا رونه | پر دښمن کوي وا رونه
در پیاد کړه ها لو یان | در پیاد کړه پیشوا یان
شرق و خنګه غرب وخنګه؟ | غرق سو خنګه ضرب سو خنګه
اوس يو خنګه پخوا خنګه؟ | دښمن راغی په خوا خنګه
تاریخ وګوره خبر سه | له غفلته لاس پرسرسه
اروپا کې ځنګلیان وه | په ایشیا کې انسانان وه
موږ پر دوی بیاحاکمان وو | دوی ړانده موږ بینا یانوو

اوس نو ولی سر چپه سو چی خو شحا ل ؤبیاخفه‌سو
خدایه بیا موکړی خوشحال
را الیش مو کړ ی احوا ل

# ټینگ عزم

## امیر تیمور او میږی

## حکایت

دغـه نقـل د ی مشهـو ر چی یو و خت امیر تیـمو ر
ده په جنـگ‌کی و کړه‌ماتی تو ل لښکر سو ځینی پاتی
و تښتید و یو گو ښی تـه ور غی و کنډ وا لـی تـه
ډیر زهیر او انـد یښمن ؤ ز ښت‌غمجن اوهم خوږمن ؤ
شاهی څه سوه‌عسکرڅه‌سو؟ فتح څه سوه ظفر څه سو؟
خیمه‌څه سوه‌خرگاه‌څه سوه؟ پهره‌څه سوه‌بارگاه څه‌سوه؟
امیر څه سو تیمور څه سو؟ لویی څه سوه‌غرورڅه سو؟
هاشان څه سوهیبت‌څه سو؟ سلطان‌څه سوشوکت‌څه سو؟
اندیښنی او ډیر فکـرو نه سوه چار پیر پرده غمو نه
نا بـو بـره یـی نـــظر پر میږ و سو بـرا بـــر !
چه تر ځا ن یی لو دا نــه وه اخیستی پور تی و ړ ه
پر دیوا ل یـی خیـژ و له! دا وه لو ځینی لو ید لـه !
بیا بـه ده پو رتـه کـو له بیا بـه دا ځینی لو ید لـه!
تیمور ښـه و رتـه کتلـه چه میږ ی هـا دانه و ړ له
هـم هر وار بـی حسا بـله چـی میږ ی پور تـه کو له
او یا وار ی پو رتـه کړله په هر وار ځینـی لو ید له
دا میـږ ی نه ؤ ز مـر ی ؤ همتنـا کـه گړ ند ی ؤ !
اولو العزمـه بـا هـمت ؤ کلك ؤټینگ ؤباغیـرت ؤ
نه یـی عز م سـو خرا ب نه ور پیښ سـو اضطراب
نـه نا مینده سو هیـڅ‌کله که هر څو دا نــه لو یدله
نا میـنـد ی تو ره بـلا د ه پـه مذهب ز مو ږ نا روا ده

دا مـژ ده ده د الله
خو لا تيئسوا ښه وينا ده
لو ی رحمت دی د با دار
نا ميند ی مكړ ه د لبره
همت گو ره دميږ ی
او يا واره څيني لو يږی
دميږ ی همت ته گو ر ه
تر څا ن لو ی بار كشوی
تيمور وايی ما ليد له
دا متل د ی په پښتو كی
چه ته درو می خو بهٔومی
تيمور وايی سد می خلاص سو
نومی عزم كړ محكم !
چی ته ولی بی همت سوې
ميږی نه مأيو سه كيږ ی
را و لاړ سو م سمد ستی
پر عسكر می ښی ناری كړی
چی را وگرزیٔ يا را نو!
سره ټول می مات لښكر كیٔ
نومی الله اكبر كیٔ !
پر غليم می وار پيدا كړ
دا قصه د ه د عبر ت
اميد وار سه اميد و ا ر
كه هر څو يی گنه كار ه
مأ يوسی څه په كار نده
اما څه همت نو غوا ړ ی
خپله سعی به كوو ، نو
مات لښكر به ټو لو ی
د زړ ه ډاډ به ور كو ی
دا خپل قصد به ټينگو ی
د الله ښه همت خوښ دی

لا تيئسوا من رو ح الله
ښه وينا د پا ك مولا ده
نا ميند ی ند ه په كار
مأ يو س مه سه د ز ړه سره
لو ی بار پور ته خيژ وی
ميږ ی نه مأ يو سه كيږی
غير ت وكړ ه زما و رو ره
و مطلب تی ر سو ی
خو ميږ ی و خيژ و له
په قديمو پښتنو كی
چه نه درو می خو بهٔشومی
نو می ليری ها وسواس سو
دا خپل څان می كړ ډيرگرم
ترميږ ی لا بی غير ت سوی
كه او يا وا ره و لو يږی
عزم می و كړ سو م ر هی
ښی ناری او غلبلی كړ ی
را سی چير ی څیٔ زمريانو!
دزړه ډاډمی دوی ته وركیٔ
پر دښمن می جوړ محشر كی
خدا ی و ما ته بری را كړ
و خا و ند ته د غير ت
نا ميند ی ند ه پكا ر
سيئا ت دی و ی بی شماره
دكر م لمن اوږ ده د ه
ښه كوښښ او زحمت غواړی
خپل قدر ت به صرفو نو
او نار ی به پر و هی
تگ پر مخ به ژر ژرځی
نو پر خدا ی به يی سپاری
د بادار ښه غير ت خوښ دی

دانسا ن چی عزم ټینګ سی — او پر خدای یی ښه یقین سی
خدای به هم دی مظفر کی — په مقصد بی بهره و رکی!
نو میدی مکړه د لبره — ما یوس مه سه د زړه سره
در بار لوی دی د کرم — قسمت اخلی لوی او کم!
هم میږی کا میا بوینه — و مقصد تی ر سوینه!
هم سلیما ن پاچا کوینه — هم یی تخت په هواوړینه
اوه مځکی آسما نو نه — پیل او غر او دریا بو نه
د غو ماشی و ز رو نه! — دمیږ یا نو میږ تو نه
هیڅ فر ق نلری پر خدای — که مسکین وی که بادا ی

پر هرڅه الله قادر د ی
د هر چا معین ناصردی

# برخه

بر خی وا ړه از لی د ی — کسبی ند ی قسمتی د ی
په از ل چی وی کښ لی — ها به هیڅ نه سی ښاغلی
هغه څوك چی بختور و ی — دمو لا با ند ی نظر وی!
په ز ړه پا ك او بی کینی وی — نه یی بدی اند یښنی وی!
د هر چا په غم غمجن وی — د هر چا په خوږ خوږمن وی!
نه د چا سره کینه کړ ی — نه د بدو اندیښنه کړی!
پر ده فضل د سبحا ن وی — پرده رحم درحمان وی!
دا په کسب میسر نسی — په کو ښښ برا بر نسی!
دا په لا س نه پیدا کیږی — دا په زور نه حا صلیږی!
دا بخښښ د ی د پا چا — دا عطا د ه دمو لا
څه چی ټو ل پیغمبرا ن دی — خو را ښه بختو را ن د ی
دوی د خدای دی نازولی! — په از ل کی ۆ ښا غلی!
دا انعا م د ی د بار ی — دا احسا ن د ی خدا یی!
چی در ب نظر پر وسی — ټو ل عا لم عا شق پرده سی
دی پر هرچا باندی ګران سی — هر سړی پر مهر بان سی!
څوك چی ګران وی هغه ګران — چی ار زان وی ها ار زا ن!
دا بیا بل رنګه یو کا ردی — دابل سر دی بل روزګاردی
ځن اصیل وی څوك په ترخه — دهغه به و ی دا بر خه

ناز ولی خــو جـدا د ی
خینی خلق سوه انسا نا ن
خینی خینی خو بیا سپی‌دی
خنی خنی عـا بدا ن سـوه
با یزید هـم یو سـړ ی ؤ
فرقی شو نـه دی جا نا نه
هم د دی نعـمـت مـثا ل
بابا یو زا من یی ډیـر و ی
هاچی کران وی‌هاخوکرا ن
دا کرانښت اختیا ری ندی
ؤ یو سف نبـی هر گـوره
دگرا ن سی ډیر د ښمنـا ن
و دو لت ته هر سړ ی غـل
غلـه خـی تل و خزا نی‌ته
غل را خی تل و د ك‌کورته
پر نیـکا نو آ فتـو نـه
ته یو سف و ته و گور ه
ده جفـا مو نده له ورو ره
چه دی نه وی له خپل‌موره
دا بیان را خـه اوږ د یـږی
نو قلـم را گـر زو مـه
پاك رسول خوبش دهر چا ؤ
ها مقام چی خاص دد ه ؤ
هم عا شق معشوق در ب ؤ
صلـو تـو نـه ، سـلامونه
نا ز ولـی د بـا دار ؤ
ابو جهل خـو مره بـلا وه
مشر کا نو کـړ ی جفا وی
تـل بـی د ی‌آزا ر ا و ه
رب حا ضر و هـم قا در ؤ
دا جفـا و ی بی گا للـی

چـی خو بن کړی دمولادی
خینی خلق سوه حیوا نـان
خینی خینی بیا زمر ی د ی
خنی خنی فـا سقـا ن‌سوه
او یز ید هـم یو سـړی ؤ
نـظر وکړ ه پر ما کر انـه
دا سی د ی زما پـه خیال
خوك وی‌تیرخوك تیروبیروی
چی ارزان وی خوارزا ن ا
بخت په زور او زار ی ندی
دیعقـو ب دستر گو تو ر ه
تل مدا م وی پـر یشا ن
سلطنت ته خپل پر دی غل
دښه ما ل و قا فلـی تـه
نه و رخـی دمفلس لـور ته
تل را خی مصیبتـو نـه
شه بـلا سوه ور ته جو ړه
شا کی و اچا و ه‌پـه زو ره
دا سی مه وا یه چی وروره
خو مطلب رانـه پا تیږی
یو مثا ل تا تـه وا یـمه
نـازو لـی د مـو لا ؤ
هسی شا ن د هیچـا نـه ؤ
پـه در بار یـی مقر ب ؤ
تل د ی وی‌پرده درو دونه
د ی د دو کـو نو سردار ؤ
چی د پا ك رسو ل په خواوه
وو مانـع دد ه د لا ر ی
تـل بـی د ی ز هیـرا وه
پا ك رسو ل خوډیرصابر ؤ
دا بـلا و ی بـی ز غمـلی

د خالق پرده نظر ۆ
مصائب او آفتو نه
هم پدا کی لوی حکمت ۆ
خبر بیا راخه اوږده سوه
ای غنی پروردگاره
هغه خوك چی بختور دی
دوی پر تار و یدار و مه
موږ خواران که محروم مان
ستا کرم بهانه غواړی
ستا بخښښ هم ستا لخوا
ستا په ذات دی وه خالقه
ستا رحمت خو را ډیردی
موږ یو څه، برخه مو څه
فقیران یو برخه غواړو
دکرم سترخوان چی خپور سی
په یوه گوله مړ یږو
په یوه نظر ژوندی یو
برخه غواړو ای را تیره
ستا دربار ته امید وار یو

دی په صدق پیغمبر ۆ!
ده گالل ډیر زحمتونه!
دا دپاك الله رحمت ۆ
پر دعامی خاتمه سوه
نظر وکړی پر ما خواره
او خو ستا منظور نظردی
زه د برخی خواست کومه
امید وار ستا داحسان
ستا کرم، بهانه غواړی
داسی نه چی د بل چا
په صفات دی وه خالقه
له حسابه تر حد تیر دی
ستا دریاب ته قطره څه
مسکینان یو برخه غواړو
دکلو ودی به موږ سی
په یوه قطره او بیږو
ستا په لطف هم خوندی یو
که څه لږ وی او که ډیره
دکرم په انتظار یو

## زړه اوبدن اوساقی

زړه جوهر دی زړه گوهر دی
په زهیرو زړو لا سوز نه
که څوك زړه آزار وی
زړه د یار د مینی کور دی
پر جهان که شورماشوردی
تن صدف زړه یی گوهر دی
تن عسکر زړه یی افسر دی
بدن باغ زړه یی باغوان دی
دا بدن لکه د بلی دی

د مولا باندی نظر دی
مه وهه مکړه خونونه
نو کعبه به نړ وی!
د یار مخ پر دغه لور دی
دا د زړه دمینی اور دی
تن ساعت زړه یی فنر دی
تن جهان دی زړه یی لمردی
بدن کښت زړه یی باراندی
په د بلی کی زړه غمی دی

دا بدن لکه پتی دی — زړه بهار دی شین پسرلی دی
زړه پاچا بدن مریی دی — زړه دی خپل بدن پردی دی
دا بدن دی یو وطن ! — دی د زړه پکښې مسکین
دا بدن یو مملکت دی! — خورا ښه یو سلطنت دی
دریابونه او رودونه — واړه دی ستا شنه رګونه
پدی ملك کی ښه چینه ده — ها چینه خو ستا معده ده
د پاچا ډیر نوکران دی — هم آسان هم مهتران دی
دواړه پښې یی دی اسان — دوه لاسونه نوکران
داښې لاس یی میرزایی کا — او کیڼ لاس یی کناسي کا
حافظه یی خزانه ده — عاقله یی مشوره ده
ژبه ده ته ترجمانه — وهر چاته ده ګویانه
ټول حواس یی نوکران دی — وزیران مشاوران دی
قهریی توپ غضب عسکردی — عدالت یی ښه افسردی
هرچی ستاښې اندیښنې دی — دایی ټولې طیاری دی
خیال د فکرجا سوسان دی — ګرزیدونکی پرجهان دی
زړه پاچا د مملکت دی — ستا بدن ښه سلطنت دی
په فارسي کی یو متل دی — چی ددی مشکل ښه حل دی
وایی. آنچه در عالم است — همه واړه در آدم است
حرص یی خرس دی نفس یی سپی — دا غضب یی شین زمری
خورا ډیر نور حیوانان — رنګا رنګ درنده ګان
هر سړی یو مملکت دی — هر سړی یو سلطنت دی
فکر وکړه زما و روره — وخپل ځان ته ښه وګوره
چی ته خوك یی اوبیاڅه کړی — په دا کار کی فکر نکړی
یو جهان یی پر دنیا — یو عالم یی ای دانا
مملکت یې مملکت — سلطنت یې سلطنت
مملکت که دی ویران کیء — نو دی خو نه‌لوی تاوان کیء
ته مسئول په رعیت یی — ته مسئول په سلطنت یی
چی راعی سوی خو مسئول سوی — که یاغی سوی خو مقتول سوی
مملکت که دی کړ خبر — هم به ګرم سی هم به پړ
دا متل دی خورا لوړ — چی یی لوړ هغومره خوړ
که پاچا و طن خراب کی — خدای به دی ډیر په عذاب کی

ته پاچا یی زما زړ ګیه
ته خو یی اعلیحضرت!
که پاچا یو ښه سړی وی
چې پاچایی ښه بیدار وی
که پاچا ښه عدالت کړی
که پاچا وی با تدبیره
که پاچا صاحب دنیت وی
که پاچا وی بی تدبیر
که پاچا وی بد نیته
چې پاچا یی وی بی دینه
نو به تل کړو دا دعا
دپاچا دعا ده قرض
خدایه ښه زمونږ پاچا کړی
دحدیث شریف مضمون
په بدن کی یوه ټوټه ده
که ها ښه وی بدن ښه وی
هغه زړه دی زما وروره
نو زړه ښه کړه د زړه سره
زړه دی روح دی خان خبر که
بدن پاته روح باقی دی
جام خو محض کټوری دی
دساقی وایه د لبره
نور که مست کړی له شراب
که ساقی نه وی د لبره
د ساقی ستر ګی خماری
د آسمان جام به چپه سی
بیا به جوړه زلزله سی
وساقی ته به زاری کړم
چې دوره کړه برابره
که څه عمر وی باقی
ای ساقی زاسره ما یاد کړه

شهنشاه یی زما لا لیه!
د دی خپل ښه سلطنت
ټول وطن په ده ژوندی وی
ټول وطن ګل و ګلزار وی
خپل وطن به په راحت کړی
خو به دی سی عالم ګیره
پر وطن ښه برکت وی
ها وطن وی د ډیر زحیر
وطن ټول وی په کلفته
ها وطن وی په ناورینه
خدایه ښه مو کړی پاچا
پر هر چا ده لکه فرض
دا وطن مو په رڼا کړی
هم رنګین دی هم موزون
دا تو ته پته پر ته ده
بو کټه خراب وا ښه وی
دا مضمون دحدیث ګوره
دزړه وایم د زړه سبره
دبد نه لا بی پر سبر کنه
بدن جام روح یی ساقی دی
کټوری خو یو کودی دی
چې دوره کی پیاله سره!
زه ساقی کړمه کباب!
نو تش جام و لاله سره!
کی را وا ړوی بیماری
ټول جهان به سره لمبه سی
نو قیامت به را ښکاره سی
بیا ناری به عاجزی کړم!
لږ پر ما و کړه نظره!
ټول دی جارسی تر ساقی!
دا نا ښاد زړ ګی می ښاد که!

ساقي ما لره جام راوړه
هغه‌مي را کړه ساقـــي
خوله دې‌جام‌شونډې شراب
دغه اور که سره‌شونډاندي
داشو نډان دي‌که او رو نه
دشونډانـو کـړه خبر ی
دا اثر دي د شو نډ ا نو
مثنو ی مي سو رنګيـــن
زما بيا ن چې با اثر ســـو
دا دسرو شونډو تا ثير دي
دساقي تر شونډ و چار سم
که تعريف کړ م د سا قي
دسا قـــي د جا م مستي ده
زما پښتو چې سوه شيرينه
مثنو ی مـــي بالکل هيرسو
زړه مي بايلـو ليوني سوم
که مي زړه ؤ کـــه بـــد ن
مملکـت کـه پاچـهي و ه
که منصب ؤ که خا ني و ه
دساقي تر ستر ګو جارسوه
چې راسوي يې زما کور دي
دساقي د شونډ و مينـــه
په شونډا نو يې‌خوله‌سوزي
دقلم ژبـه تيره ســو ه
طا قـت نستـه‌چې با قـي
نو مـــي بس کي دا کـــلا م
هم تعـظيم هـــم احترا م

لاس را وا چاو ه پر غا ړه
چې نشه يې و ي با قـي
سره لبا ن دي مي نـــا ب
او که لعل بد خشان د ي
چې کباب يې کړ ه را زړونه
ښې خو ږ ي لکـه شکر ي
د سا قـــي د سر و لبـا نو
زما کـلا م چې سو شيرين
او قلـم مي ني شکر ســو
دسا قي د جا م تکبير د ي
په سل واره تر نـشار سم
سي به پـا تـه مـثنو ی
کـه پښتـو دمثنـو ي د ه
د سا قي خبر ی کـړ ينـه
چې ساقي پر زړه‌چا پيرسو
ساقي يو وړ مه پردي‌سوم
که پا چا ؤ کـه و طـن
سلطـنـت که سلطا ني وه
که عزت ؤ کـه لو يـي و ه
سا قي يووړه‌تار په تارسوه
دساقـــي د شونډو اور دي
راسپيره کړه زما مينـه !
که دشپې وي که د روځي
دکتا ب پـا ڼه په و سوه
زه تعر يف کړ م د سا قي
و سا قـــي ته‌کړ م سـلا م
والسـلا م و الا کـــرا م

# عشق

معشوق بو ي‌د ي زما ګله — رنګ‌صورت نه‌دي‌هيڅ‌ګله
چه‌صورت مړشي‌اي‌ورو ره — تره تري‌کاندي خلك ګوره

چه‌معشوق دی صورت ندی    زړه مین هم‌پر هغه دی
مړی هیڅا ندی ښکلی !    ولی روح صورت ناو لی
مړی ژر با سی له کوره!    رسوی یی تر خپل گو ر ه
دسا قی د جا م د لا سه    خاخکی ولو یده له پا سه
توره خاو ره زر غو نه سوه    دآدم و نه پر شنه سو ه
رنگارنگ شنه‌سوه گلا ن    ځوك غا ټوی ځوك ار غوان
ځوك منظور ځوك نامنظو ر    ځوك ذليل‌ځوك‌سوه منصور
ځنی والوته هوا ته !!!    ځنی سوه‌پر مځکه پا ته
یو خلیل سو بل ذ لیل !    یوطبیب سو بل علیل.
یو هابل سو بل قا بل    یو قا بل بل نا قا بل
ځنی مست سوه‌په‌شر ا ب    ځنی سوه پـه‌اور کبا ب.
ځوك‌صورت‌یوړه رنگین‌سوه    ځوك معنی‌یوړه‌خورین سوه
ځوك‌سوه مست‌په جام دمی    ځنی رون لکه غـمی !
ځنی ولو یده نا سو ت ته    ځنی و خا ته لا هو ت ته.
ځوك مین سوه پرخپل نس    ځنی یووړه لمو نځ او دس
ځوك په حب کـی دالله    مست پراته وايـی ا لله !
ځوك ډوب تللی په حیر ت    دباری په ښه صفت !
دقدرت تما شـی و ړ ی    ځنی ډوب‌په حیرت تللی
دالله عا شقا ن ډ یـر دی    ما سوا ئی با لکل هیر دی
هم دد ه په یاد مشغول د ی    په‌در بار کی یی قبول د ی
بی‌له ده بل‌هیڅ‌نه غوا ړ ی    له‌هر چا څخه ځان نغا ړی
ذکر اوفکر یـی وا ړه د ی    نه‌یی خپل نه‌یی پر د ی !
دو حد ت در یاب وی و ړی    پخپل ژوند وی لکـه مړ ی
وړی تږ ی خو ار حیر ا ن    خړ، پړ گر زی سر گر دان
خاص دده وی بند گــا ن    هم دز ړ ه و ی مخلصا ن.
عا شقان دخپل با دا ر وی    شپه او رو ځ یی طلبگار وی
نه‌څه خوری‌او نه څه وا یی    تل دده په ذ کر پا یـی !
کـه او یس قـر نـی د ی    بایز ید بسطا مـی د ی
کـه جنید بغـدا دی د ی    که فضیل عیا ضـی د ی !
دغه ټول ښه عا شقان د ی    هم دپاك الله دوستا ن دی
دايو لو يه سلسله د ه !    رابعه پکښی ښکـا ره د ه

امتیان د پاک رسول دی — دالله په در قبول دی

نوځو دوی رویدار و مه

زه هم څه هیله لرمه

# طلب

غواړه غواړه که دانا یی
هم په بحر هم په بر کی
هم په‌روڼ اوهم‌په شپه کی
تل طلب کړه همیشه یی
هم په ویښه هم په خوب
دبنده په غوښته خو ښ‌دی
غواړه غواړه‌تل یی غواړه
چه یی غواړی خو به در کی
استغنا دده خاصه ده
خوار بنده دی ډیر محتاج
عطا کیږی و محتاج ته
طبیب درومی و ناروغ ته
صدقه حق دسائل ده
اوبه درومی تږی غواړی
هلك ژاړی مور ورځغلی
ژاړه ژاړه په طلب کی
ځان ته مه گوره چه‌څه یی
خالق وایی په داشانه !

باید تل په واویلا یی
هم‌په‌دښت هم‌په سنگر کی
هم‌په جهر هم‌په‌خفیه کی
هر ساعت او دقیقه یی
تل‌یی غواړه بسیار خوب
په‌غفلت کی‌یی ناخوښ دی
له طلبه ځان مه نغاړه
چه‌نه غواړی و لی در کی !
دبنده اړه ماننده ده
و هر شی ته احتیاج !
اړ، مانده، ولا علاج ته !
نه‌چه درومی و جگ روغ‌ته
نه په برخه دکاهل ده
مړی گرزی و ږی غواړی
یې ور غواړی هم د کلی
په حصول د خپل‌مطلب کی
که‌څه بد یی خو دده یی
ما پیدا کړی ای انسانه

چه فایده مومی له مانه
ماپیدا کړی چه احسان
ته خو ما یی پیدا کړی
دبنده کار التجا ده
خو طلب‌یی په رشتیا کړه
ادعوا کار زما وستا دی
بایزید صاحب و یلی
چی‌یو‌څه در پیښ‌سی جانه

بل مقصد ندی له تانه
پرتاو کړم شان په شان
وکرم ته می ساتلی
دبادار د خوا عطا ده
هم‌دعا یی در ضا کړه
اجابت کار د مولا دی
په کتاب کی مالیدلی
صبر نسی کړای انسانه

بنده خوار ته عاجزی ده      اود خدای بی نیازی ده
نو زاری کوه او ژاړه      خپل حاجت‌له‌خدا یه غواړه
پرعاجز بنده رحمېږی      په هروخت کی ورر سیږی
لو خدا یی ده د بادار      هر وخت او سه امیدوار
نا مینده مسه مهربان دی      هم کریم دی،هم‌رحمان دی
دبنده خواست قبلو ینه
خالی لاس یی‌نه پرینږ دینه

## ذکر

یو چا تل ذکر کاوه      د خدای نوم یی یاداوه
الله، الله یی ویله      خپله خوله یی خوږوله!
ابلیس وویل وده ته      خوشی ذکرکړی پرڅه ته؟
لبیك نه راځی وتا ته      ته ناری وهی وچا ته؟
نو خوا شینی او خپه سو      سریی کښېښود نویده سو
ویی لید په‌خوب کی خضر      ویل ولی نکړی ذکر؟
آخر ولی سوی غافله      له‌خپل ذکره سوی کاهله؟
ویل نه راځی جواب      مگر زه یم رد باب
ول الله زما لبیك دی      ستا سلام زما علیك دی
داتوفیق چه‌الله وایی      زما له خوادی‌ته څه وایی
چه ته ذکر کړی ای ځوانه      توفیق ما درکړی جانه
چه دده توفیق یی نه وی      ذکر کله بیا په زړه وی
غافل ناست وی‌تل‌بی ذکره      په غفلت کی وی بی فکره
دغه ذکر خو عطا ده      ښه عطا د پاك مولا ده
اذکر الله دده ویلی      ذکر کاندی ښه ښیاغلی
دا الله د ده لخوا دی      چه په بر خه‌زما وستا دی
ذکر ذکر د دلبر کړه      ما سوانه‌لاس پر سر کړه!
تل مدام دا لله یاد کړه      دانا ښاد زړگی په‌ښاد کړه
چه ته وکړی لږ څه فکر      نوبه تل کړی دده ذکر!
ها به څنگه نیك مفاد وی      چه الله دده په یاد وی
بی له ذکره‌زړه خو مړ دی      غافل زړه هم مرهم پر دی
ځان کړه پاك دده په ذکر      وینښ یی وکړه یوڅه فکر
چه‌ته څوك یی اودی څوك      خپل دی‌څوك اوپردی څوك؟

چه ته ذکر دده نکړی
را ته وایه‌نو به څه کړی؟
څه‌مو کار څه مو روزگار
څه مو قول څه مو گفتار
چه هر کار کړی بسم الله کړه
په نامه یی دالله کړه
دده ذکر خو رحمت دی
ماو تا لره عزت دی
چه دده نوم یادوی نو
ته به هم څه وويني نو
دچاور چه تکوی نو
هم خاوند یی وويني نو
چه ته زغ وکړی وچاته
خو به وگوری وتاته!
چه الله الله لری نو
او هر وخت‌یی یادوی نو

تابه هم‌یووخت‌دی یاد کړی
دانا ښا درته‌به دی‌ښاد کړی

# دحیات دورونه

## عدم او وجود

چی وجود نه و عدم ؤ
هیڅ شی نه‌ؤ یو تور تم ؤ
نه آدم و نه حواوه
نه شیطان نفس و هواوه
نه سماز و نه ماښام
نه طعام ؤ نه کلام
نه جوړتیا نه ناجوړتیا
نه غذاوه نه دوا
نه دنیاوه نه عقبی
نه روا نه ناروا!!
نه فراق نه ابتلاوه
نه مجنون ؤ، نه لیلاوه
نه ژړاوه نه خنداوه
نه دعاوه نه ښراوه!
هم غم نه ؤ چه عدم ؤ
دوجود پر کلی غم ؤ!
چی پیدا سو په ژړا سوو
په غمونو مبتلا سوو
چی هر څه مو زلو پیدلو
په بلا ککړ یدلو!
ثنگه ښه ؤ چی کچنی ؤ
ثنگه ښه ؤ چی کمکی ؤ
دمورتی را ته خوا نچه وه
مور ته جوړه ما یده وه
نه دوده یه وه نه خواړه
نه تاوده وه نه ساړه
چی غا ښسو نه مو پیدا سو
دا خپل غاښ راته بلا سو
ها خوږی شیرینی مور
دتی سر کیء راته‌تور
نو گولی سوی او دوده یه
او ژوول مو دمړیه
چی ښنبی نه وی نازیدلو
پر اوږو به سپریدلو
چی و لاړسو خورا غوزارسو
داوږ و څخه د پلارسو

چی ولاړ سو و، سرگردان سو        خوار وزار سو، پریشان سو
بیا لا نه ځو نه مکتب ته        نه مو دپ نه موا دب ځو ا
چی مو نږ سوو دا ځو کا لو        تلو اخند ته په بغا رو ا
چی مکتب سو خوغضب سو!        هم مو دپه هم موا دب سو
امتحا ن سو او خواری سوه        کا میابی اونا کا می سوه
بیالا نه، مخاطب نه ځو و        دهیچا معا تب نه ځو و
چی با لغ سو مکلف سو        د ابلیس دوار هدف سو
فرا یض او وا جبات        زمونږ په خواسو له هیها ت
بار مو دروندسو زما جا نه        چی مسئول سو و زما جا نه
بیا لانه چی زلمی تو ب ځو        خو شحالی اوحیوان تو ب ځو
خو ها نه چی جره گی وه        بیغمی او تنها یی وه
چی کوزده سوه بیاوا ده سو        غم دپو ښی اود پسا له سو
بیا منصب بیامو خا نی سوه        ما موری اونو کری سوه
بیا دربار درباری سوه        جوړه لو گر فتا ری سوه
سیا لداری سوی دښمنی سوی        راته پیښی لوی خواری سوی
تمام عمر په جنگو کی        کښنیو تو په جنجا لو کی
هاد مرگ خواری لا بله        ز کند نڼ تلخی لا بله
خا تمه هم د ه مستوره        یو منظو ر که نا منظور ه
سوال به څه کړو جواب به څه کړو        هاد گور عذاب به څه کړو
کشکی نه وای پیدا سوی        یا کچنی وای فنا سوی
قبر توره تاریکه ده        بر زخ خو نه زمانه ده
په بر زخ کی دا حالت وی        انتظار بیا د قیامت وی
سوال جواب نکر منکر وی        تر ژوند هلته حال بتروی
نه تو به سته نه اعمال        څه به کړو پدا سی حال؟
پشیما نی او ندا مت وی        انتظا ر بیا د قیا مت وی
چی قیامت سی او محشر سی        دا سور لمرزمو نږ پرسر سی
مځکه سره ز مونږ پرشپه وی        ټول عا لم یوه ناره وی
نیک بختان به په سایه وی        بد بختان به په لمبه وی
هر سړی په غم د ځان        خوار حیران اوپر یشا ن!
له دو زخ څخه بیریږی        دسره اور څخه لړ زیږی
ځان ځانی وی ځان ځا نی        هر سړی پیښی پر خوا ری
کبر یا بی نیا زی وی        دخا لق لوی پا چهی وی

هم صراط وی هم میزان
هم دوږخ وی هم جنان

## مناجات

ای هادی پروردگاره!
مونږ خوار یو گنه گاره
مخ مو تور عمل مو نسته
هوښ مونسته ، فکر نسته
ددنیا په غم اخته یو
مرگ‌مو هیرحشرموهیردی
څه بلا سوه نه پوهیږو
نه مو دین نه مو دنیا سوه
نه دلی سو ونه هوری
هدایت را کړی ای خدایه
ستا کرم خو خورا ډیر دی
پر جهان باندی‌چار پیر دی
سر گردان یو پریشان یو
اوس دعا کوو تاته
ودعوا تا دی فرمایلی
مونږدرخواست کړو تی‌قبول‌که
هم دخوار خوی ژړا
لار راو ښیه هاسمه
چی ستا خوښ‌وی هغه‌کار
هدایت مو په نصیب کړی

ای ستاره ای غفاره!
ستا کرم ته امید واره
هیڅ د لاری مل مو نسته
ټول بیهوښ یو دکر نسته
گرفتار پدی ورسته یو
قبر هیر نشر مو هیر دی!
ددوږخ اورته ورلویږو
نه مو هغه نه موداسوه!
تردا منځ خاوری ایری!
ای هادی اورهنمایه!
له حسابه ترجد تیر دی!
ستاپه یاددی‌که‌زمونږهیردی
هک پک‌تللی ډیر حیران یو
ستا بخښښ دی وهرچاته
فستجب هم تاویلی
هم په‌رویی درسول که
هم ژړا وی هم دعا
هغه سمه هم محکمه
مونږ کړی ټول په‌گرفتار!
شفاعت مو په نصیب کړی

په طفیل د مصطفی
محمد مجتبی
وصلی الله‌علیه‌وعلی آله‌واصحابه‌اجمعین

## شاعراوچنجی

دا قصه ده ښه شیرینه
نقل نه دی دایو خیال دی

که یی ولو لی په مینه
دانبه خیال‌می‌په‌نیک‌فال دی

شاعرنا ست و په باغچه‌کی — د قدر ت په تما شه کـــی
و هر پا ښی تــی کتلـــه — یو غز ل بی جو ړ و له !
صنا یع بــی د قـــد ر ت — چی جو ړ سو ی په حکمت
هر یوه ته یی کتـــــل — ما خلقت یی و یـــــل
د قدر ت په تمـــا شه ؤ — دحکمت پـــه ننـــدا ره ؤ
ښه یو خیال یی‌ؤ اخیستی — ښه جمـــال ؤ ور اخیستی
فکر و ړی په ښه خیال ؤ — په ښه خیا ل دذا لجلا ل ؤ
د بلبلو آ وا ز و نـــه — دسرو گلو ښه بو یو نـه
د ښو و نو ښی سا یی وی — دگلا نو ننـــد ار ی و ی
د جنت یو ښه مشـــال ؤ — شا عر تللی په ښه خیال ؤ
هك پك ناست وړی حیر ت — ډوب په بحر د حیـــر ت
یو بلبل ؤ ډ یر خند ا نـه — نغمه خوان هزار داستا نه
وسره گل ته به گو یا ؤ — په خندا نغمـــه سر ا ؤ
آ وا ز و نه یی کو لــه — ښه ر یز و نه یی کو لـه
تل مدام پـــه ښو نار و ؤ — شام مدام پر ترا نـــو ؤ
شا عر غرق و حیرت و ړی — پخپل خیا ل ننـــو تلـــی
نا بو بر ه یـــو آ و ا ز — وا ر و یده په ډ یر نیـا ز
شاو خوا یی و کتـــلـــه — شا عر هیڅ و نه لید لـه
ډیر حیرا ن ؤچه دا څه ؤ — دغه ږ غ ما ته پر څـه ؤ
دغه ږغ د کمـی خــو ا ؤ — داز هـــیـــر آواز د چا ؤ
دشا عر فکر پر یشان سو — ودی ږغ ته ډیر حیر ا ن سو
بیایی ډیر غمجن او ا ز — وار و یده په خوږ من ر ا ز
شا عر و کتل چنجـــی ؤ — تور کی او خو ا ر کـــی ؤ
راو تلـی ؤ د غـــا ر ه — ده ژړل ؤ پـــه بغا ر ه
په حسرت به یی کتلـــه — سره گلان به یی لیـد لـه
بیابه پټ دی‌پخپل غار سو — بیا را ووت په گفتار سو
پـــه ار مان‌بـــه یـــی ژ ړ ل — و بلبـــل تـــه بـــی کتـــل
په حسر ت او په فغا ن ؤ — هم و یو ونکی پدا شان ؤ

**دچنجی ژړا :**

خدا یه زه او دا بلبـــل — ستا پیدا یو هم سور گل
دا بلبل ښنگه خو شا ل دی — تاور کړی پرو بـــال د ی

دا گل خنگه ښايسته دی — بلبل خنگه آراسته دی
ښاخ پر ښاخ بازی کوينه — سور گل اور را لگوينه
مست بلبل په خه نارودی — په نغمو په ترانو دی
کله الوزی هواته — کله خی دښت و صحراته
کله ولاړ سی وښاغو ته — ريزکوی وشگوفو ته
کله خی و چمنو ته — دگلانو تماشو ته
تاو ر کړی ښه آواز دی — تل مدام په ساز وناز دی
گل ته تا ښايست ور کړی — برگ اوښاخ دی وربخښلی
ښايسته په ده بوستان دی — زيب زينت دگلستان دی
هم خوش بويه هم خوش رنگ — هم خوش زيبه شوخ او شنگ
په خه ناز او په ادا دی — شنه خوله تللی په خندا دی
بلبل هم پرده شيدا دی — پر ښاخ ناست ده ته گويا دی
زه لځ پځ اوخوارخسته يم — هډمی نسته بو سيده يم
نه مې پر سته نه مې بال — پر تنی خم دا مې حال
تل په مځکی لټ پټ کيږم — په خپل ځان خورا شرميږم
نه مې لاس سته نه مې پښې — نه مې برگ سته نه جامې
سرتر پايه يوښوی شی يم — هيڅ شی نلرم لاشی يم!
غلی يم له خجالته — خوار و زار يمه بی پته!
نه رفيق لرم نه مل — پټ پټ گرزم لکه غل!
له هر چا خځه شرميږم — غار ته ځم چا بك پټيږم
آخر زه خوستا پيدا يم — داسی نه چه دبل چا يم
زه پدی سر نه پوهيږم — په حکمت يی نه رسيږم
چه دا ولی داسی خوار يم — هيڅ مې نسته خوارو زار يم
دبلبل خنگه ناری دی — دسره گل خه تماشی دی

* * *

چنجی خوار پدی وينا ؤ — په شکوه او په ژړا ؤ
نابوبره دری ځلميان — را غله دوی وه ښه خندان
هر يوه خځه قفس ؤ ، — هر يو مست اوپه هوس ؤ
هر قفس کی يو بلبل ؤ — چه شيداپر ها سور گل ؤ
دغه وارړه بلبلان — سوه د عشق نغمه گويان
په باغچه کی يو تور شخول سو — چه دعشق اور پکښی بل سو
تول گلان به خنديده — او مرغان به رقصيده!

زما حیرت سویو په سلـه — دچنجی غـم یو پـه ز ر ه
په‌با غچه‌کی بل‌سور اورسو — دبلبلو شو ر ما شور سو
دچنجی پر کلـی غـم سو — په ژ ړا او په ما تـم سو !
چه دا زه و لی محرو م یم — هیڅ شبی نلر مه شو م یـم

* * *

هـغـو درو تنـو یو د م — لومه کښبیښو ده پـه چـم
ها بلبل یی گر فتار کـی — په قفس‌کی یی‌را غو زارکی
در ی سر ه سو ه په خندا — یو وی زما دی‌بل وی زما
را غله گرد ته د گلا نـو — ډیر یی و شکو ل ز لمیا نو
هغه گل چه به بلبـــل — تل مد ام ور ته خنـد ل
او ما هم و ر تـه کتـــل — او چنجی ور تـه ژ ړ ل !
آخر پر ی کړه هاز لمیا نو — لاس په لاس یی‌کړځوانانو
آه بلبل سو پـــه قفس — نیمه خو ا یـی سو هـوس
گل یی‌پری‌کړ پاته خارسو — نشاط ولاړ پاتـه آزار سو

* * *

چی دا حال ولید چنجـــی — شکر یی وکیښ خوار کـی
نو را ووت له خپل غا ر ه — سوو خدای ته په بو غا ره
دا ئی و و یل پـــه ز و ره — دی‌پښیمان‌ژډیر هر گو ره:

**قطعه :**

خدایه شکر کړم در ا ز — بیاپه ډیر عجز و نیـــا ز
چه نه رنگ لرم نه بـو ی — نه آ وا ز نه می پر وا ز
نه نمود نه می خندا سته — نه می سوز زده نه می ساز
نه نرگس‌غوندی ښائسته‌یم — یم بی قدر ه لکه پیـــا ز
داد خدا ی مهر با نـی د ه — چه بدر نگ یم بد آو ا ز

* * *

چنجی ډیر په خجالـــتژ — دشکوو پـــه نـدا مـت ژ
ده ویـل پـدغـــه شا ن — پر شکوه و ډیر پښیما ن
دغه شو ونه لو ی ا حسا ن — کړی دی پر مـــا سبحا ن
چه ز ه نـلر م دا شا ن — چه هلا ك سی زما د ځان
دا یی وو یل چنجـــی — نو و غار ته سو ر هـــی
شا عـر و ړی ژ حیـر ت — ډ وب په بحر دقـــد رت
چه دا خنگه تـما شه و ه — او دا خنگه ننـــدا ر ه و ه

چی می و کتله بیا — چنجی سونا گه پیدا
کوږ و وږ به سو پر ملا — سو نالان په دی وینا
زما توبه ده له شکوی — د یوی پر ځای دوی دری
نه شکوه کړم نه ناری — نه گلی کړم نه مانی
زه ناپوه یم نه پوهیږم — په حکمت یی نه رسیږم
شکر کاږم پر دی حال — چه نه رنگ لرم نه بال
ته حکیم یی بر کمال — ته دانا یی ذوالجلال
ستا په هر شی کی حکمت — هم ښکاره یو ښه قدرت
شکر شکر چه بد رنگ یم — بد آوازه گډ او لنگ یم
شکر شکر چه لغړ یم — په هزار عیبو ککړ یم
ته راضی سی زه راضی یم — تو بی کاږم په زاری یم
اوس خو پوه سوم په حکمت — دباری په ښه صنعت
چی خلعت می د نیستی — دی سبب زما د هستی
دطاوس دښمن خو ځان سو — گل سو پری چی دی خندان سو
دبلبل دښمن هوس سو — چه بندی د تور قفس سو

رنگ و بوی دځان بلا ده
په خندا پسی ژړا ده

# جهان

دا جهان دی رنگ و بوی — شان پښان یو هیاهوی
یازرین دی یا خواږه — یار نگین دی یا پاسته
په غولیږی هر سړی — که کوچنی وی که زلمی !
تر دانه لاندی پټ دام — په سهار پسی ماښام
تر هر گل لاندی یو خار — تر نښاط لاندی آزار
په ښادی پسی بیا غم دی — په هوس پسی ماتم دی
په بهار پسی خزان دی — په هر سو دپسی بیازیان دی
سترگور به گټه کړینه — سترگور به برخه وړینه
ستر گه هوښ دی هوښ خو نور — نور حضور دی حضور نور
که ؤ زړه په نور روښان — جهان تو له گلستان
دا متل دی په پښتو کی — په موږ واړو پښتنو کی
هر هندو چه مسلمان سی — سر او مال یی په امان سی

دا کافر زړه مسلم کړه — سر او مال دی په امان که
داتا ریك زړه دی رو ښنا ن — کړه رو ښنا نه په ایما ن
ایمان نوردی‌ستا په زړه‌کی — نور حضوردی‌ستاپه‌زړه‌کی
دی جهان ډېر غو لو لـــی — هم تر ځان یی‌تیر ایستلی
دا جهان یـــو سینما د ه — هیڅ شی نسته تما شا د ه
که نا ری کـــه غلبلی د ی — دغه ټول له بلی خولی د ی
داپر تو له بلی خوا دی — لوی ما شین دده ترشا دی
سینما ته‌به یی تللـــی — تا به هم سیل و ی کړ یؤ
څه سړی او څه نا ری و ی — څه عجبی تما شـــی و ی
ډو ل ډو ل آ وا ز و نـــه — هم سا زونه هم ر قصو نه
هم لښکر هم‌توپخا نی و ی — رسا لی باجه خا نی و ی
لرو بر عسکـــر تیر یـږ ی — شاو خوا جنگو نه کیږ ی
لوی تو پونه دی خلاصیږی — هره خوا گولی اور یږ ی
یوتور شخول ډیری نا ری — درب ودروب او نغـار ی
یو لوی ښار و ی هم با زار — هر سړی مشغو ل پکار
یو عالم سره تیر یـــږ ی — یو جهان لرو بـــر کیږ ی
ته په غور ور تـــه گـــو ره — هیڅ شی‌نه‌وی زما ورو ر ه
دا مثال دی د د نیـــــا — خنکه گر ا نه سو ه و ینـا
جهان ټول یو ها یو هو ی — پلار و مور وی او که زو ی
هیڅ شی ندی‌واړه دی دیؤ — هم‌به ده جهان ژو ندی دی
دغه ټول دده قـدرت د ی — دخالق یو ښه صنعـت د ی
ټوله ده دی پید ا کـــړ ی — دجها ن گز د ه و گـــړ ی
پور ته کښته څـه شیا ن — پرو حد ت یی شا هـدا ن
دا قدر ت درب قدر ت د ی — هم‌پدی کښی‌لوی حکمت‌دی
هم دی الله الصـــمد دی — لم یلد و لم یـــو لـد دی

## ژوند اوجهان

دا جهان دی کـــه ا نسا ن — پر و حد ت یی شا هـدا ن
دغه ژو ند د ی که مر گـــی — دا ښا د ی د ه کـــه غمگـــی
دا ژړا د ه که خنـــدا — تار یکه د ه کـــه ر ڼـا
د غه بحر د ی کـــه بر — سمه لا ر کـــه لوړ ږهـر
دا یوروپ دی کـــه ا یشیا — ا فر یقه کـــه ا مر یکـا !

دا عرب دی که عجم    دار نا ده که تور تم
دا لاهور دی که ډیلی    داخپل کور دی که پردی
دا کابل که قندهار    دا هرات دی که مزار
نه پوهیږم چه څه شان    قطغن که بدخشان
دغه مرګ دی که قندز    دغه ژوند که هزار بز
دا دنیا که آخرت    دا دوږخ او که جنت
دغه نقد ده که پور    دا اوبه دی او که اور
دار ضا ده که قضاء    دا ژړا ن که تماشا
دغه غم دی که ښادی    دا ختمه که مهمانی
دغه زما دی اقارب    اقارب که عقارب
مال او لاد که ماندینه    دغه تول دی فتنه
دا غضب دی که رحمت    عداوت که محبت !
دا ګناه که عبادت    دار یا که صداقت
دغه دوبی دی که ژمی    دا پسرلی او که سوږمنی
دا ساړه دی که تاوده    دا زیږه دی که پاسته
دا تروه دی که خواږه    دا خواږه دی که ترخه
داپښتو ده که فارسی    داد عا که ناشکری
دغه ګل دی او که خار    دغه یار دی او که مار
دغه علم دی که جهل    نا پوهی ده او که عقل
دا عزت دی که ذلت    دا صحت دی که علت
دا جنون دی که سودا    دا سودا ده که صفرا ؟
سړیتوب که لیونتوب    انسانتوب که حیوانتوب
دغه کور دی او که ګور    دا میره ده او که مور
دغه پلار دی که پلندر    دغه قند که چغندر ؟
دغه کفر که اسلام دی    دغه شاه دی او که بام دی
دا سراب دی که دریاب    داو صال دی که حجاب
دغه پټ دی که ښکاره    دا ظلمت که ننداره
دغه خوب دی او که خیال    دا جلال دی که جمال
دا سهار دی که غرمه    دغه ورځ ده او که شپه؟
نه پوهیږم که پوهیږم    خبر نه یم چه څه کیږم
پوره ته کیږم او که لوییږم    کښته ځم او که لوړ ختیږم
خبر نه یم چه دا څه دی    دغه بد دی او که ښه دی

دغه زمایو خوار قسمت دی      که نظر د مرحمت دی
دا تور غر دی که کڼ دی      که ښه باغ که ښی مانی
دا سپو ږمی ده که تر ږ می      دا ابی ده که اخـــی ؟
دا شپا نه دی که لیوه      دغه میږ ده که مینده!
ښکر ه و ره کـــه کلـــی      دا سیر لی دماوکه وری!
دا شیدی دی کـــه مستی      دا خو ږی دی کـــه تر وی !
دا غزا ده کــــــه دوا      نا جو ړی ده که رو غتیـــا
دغه خپل دی که پر دی      دغه لوی دی که کو چنی ؟
دا زا من که پـــر کتیا ن      دا لمسیا ن که گړ و سیا ن
چما دات که نبا تــــات      انسا نا ن که حیوا نــات
اسما نو نه که لوی غر و نه      دریابونه که سیندو نـــه *
دغه ټــو ل پیدا دده دی      که زیږه دی که پا سته دی
خه شیا ن چه پر جهان دی      که پر مځکه پر آسمان دی
خه ذری چه تر دا میان دی      پرو جود یی شا هدا ن دی
په هر شی کی دی پید ا دی      هر شی هم په د ی و ینا دی
بل خوك نسته واړه دی دی      هر موجود په ده ژوندی دی
هم حاضر دی هم ناظر دی      هم پر هر خه دی قادر دی
دی ترلمرلا هم ښکاره دی      دا جهان په ده تا زه دی
که دنیا ده کـــه عقبـــی      هر ه یوه دده پـــیـــدا
دی لطیف دی هم حکیـــم      هم رحما ن دی هم رحیم
خه ذری چه پر جها ن دی      په ثنا دده گو یـــان دی
دی پر هر خه ښه قا در دی      هم باطن دی هم ظا هردی
تردالو خدایی یی جــار سم      جار قر بان یی په سل وارسم
زما قلم چه ښه چلیږی      مثنو ی په لیکـــل کیـږ ی
دبا دار صفت په کیږی      دقدر ت بیا ن یی کیږی
که هر خویی تعریف کیږی      زما زړه نه په سر یږی
خو نه لو ړ یو عا لی شان      انسا ن خوار ور ته حیران
په قدرت یی نه رسیږم      په حکمت یی نه پو هیږم

---

*مقصد له ذکره خخه ددی دو نه شیا نو دپښتو ژبی تعلیم اودنو مو زده کړه هم ده مطلب داچه قصداذکر شوی دی ٠

«مؤلف»

زه چه ستا یمه سبحا ن
دا خور حم در حمـا ن

داقدرت ورب قدر ت د ی
دا نظر د مر حمت د ی

داد خدای مهر با نی ده
دا عطا ی ر حما نی د ه

دخپل خدای صفت کومه
مثنو ی په د کو مه

تر د ه چارز ما مثنو ی کړی
ترده چارزمالوی کچنی کړی

زه په څه دده صفت کړ م
نو ښه دا چه معذ رت کړم

دخا لق بي لیا ز ي سو ه
دانسان خوار عا جزی سوه

لو خدایی ده نه پو هیږم
په صفت یی نه رسیږ م

کبر یا د ه کبر یـا
فضل و کړی ای مـولا

# اولیا

## (رحمة الله علیهم)

او لیا د خدای دوستان د ی
د عر فا ن دباغ گلا ن د ی

په ظا هره که خوا ر ا ن دی
په باطن کی بد ا یان د ی

دوی تار ک د ی دد نیـا
طا لبا ن د ی د عقبـی

په مطلب د ی پو هیـد لـی
په مقصد د ی رسید لـی

حقیقت یی پیژا نـد لی
د حق ږغ یی اور ید لـی

دی دخدای خاص بند گا ن
ځکه سوه تو ل محبو با ن

ځان یی هیر خدای یی په یاددی
هم په ذکر یی زړگی ښاد دی

کرا مت داو لیـا ؤ «رح»
معـجز ی دا نبـیا ؤ (ص)

خاو نډا ن د کرا مت د ی
ما لکا ن دښه عـز ت دی

هر ولی دی لکه لـمـر
دعز ت تاج یی پر سـر

او س یو څو زه یا دو مه
مثنو ی پـه ر نگو مـه

که اویس قر نـی د ی
بزر گواره لوی و لی د ی

بل جناب با یز یـد د ی
دخپل وخت شیخ فرید د ی

یو جنید بغـد ا د ی د ی
بل ولی سفیان ثو ری د ی

بل ولی ذوا لنون مصری دی
بل ولی شقیق بلخـی د ی

ابرا هیم بن ا د هـم د ی
بل و لی حا تم ا صـم د ی

لوی و لی بشر حا فی د ی
بل جناب داؤد طا یی د ی

فضیل خومره لوی ولی د ی
بل ولی معروف کر خی دی

پرجهان څونه و لیا ن د ی
لکه لمر داسی رو ښا ن دی

دو مری توان زه نلر مه
لوی امام ربانی دی
په ولیانو کی ښکاره ده
زه‌دد وی له نامه جار سم
زه خو دوی رویدار ومه
دغه لویه وسیله ده
دوی د خدای دی نازولی
معجزی د پاك رسول دی
پر جهان دی لکه ستوری
په پټ سر دی آگاه سوی
ښه یی کړی عبادات
خپل ځانونه یی خوار کړی
لوږی، تندی یی گاللی
په شپوشپو دی در ید لی
خپل ځانونی پیژاندلی

بدن خوار زره یی ساتلی
په بغداد کی‌ښه ولیان وه
تول‌شیدا پرسپین قرآن وه
ښه ولیان وه ښه ولیان
اوس لاهم‌نامینده نه یم !
په گوښو کی‌خوانا نشته‌دی
علماء که ملایان دی
داسلام ښه رهبران دی
هرو لی ښه معجزه ده
په احوال یی ځان خبر که
تذکره داولیاؤ
لاس ته راوړه ویی گوره
چه دا څه عالم تیر سوی
نو خپل ځان به ملامت‌کړی
خو زه هم آخر انسان یم
ولی لیری یم لویدلی
څه را وسوه‌چه خوار زاریم

چه دی‌تو له ولیکمه
مجدد الف ثانی دی
رابعه عدویه ده
بیا یی جار په وار و وارسم
وبا دارتی یادومه
در حمت ښه ذریعه ده
در حمت په او بو ولی
دمولا په در قبول دی!
ښه رو ښان‌پرهرو لری
په‌پټ راز دی آشنا سوی
ډیر یی کښلی ریاضات
خپل نفسونه یی وژلی !
ډیری شپی‌یی‌رو ڼی کړی
وبا دار ته یی ژړلی !
ودربار تیرسولی

حقیقت یی پیژاندلی
په گوښو کی‌ښه ځوانان‌وه
په اسلام کی څراغان وه
جهان ؤ پدوی روښان
که‌ښکاره‌په خبر نه یم
کتابو کی نوشته دی
زمونږ ددین ښه مشلان دی
دنبیانو وارثان دی !
در سول لخوا ښکاره ده
ودی لوری ته یو نظر که
تذکره دا صفیاؤ!
ځان‌خبر که څما وروره!
ولی زمونږ څخه هیر سوی
خورا ډیر به ندامت کړی
شکر شکر مسلمان یم
ولی پس یم پاته سوی
دگناه په پیتی بار یم

او ليا رو يدا ر و مه
دا يمان در خوا ست کو مه
فضل غو ا ړم د با ر ی
په دعا او په زا ر ی

## دقرآن شکایت

سپين قر آن به‌په قيامت
خدای ته وکړی شکا يت
چه زه تاوم را ستو لی
پر رسو ل دی نازل کړ ی
هدا يت و م د آ د م
معجز ه و م د خا تم
ټول ا مت يی پو هو لی
زه يی ښه وم ور ښو و لی
دوي ز ما ا حترا م نه کړ
زما ا حکا م يی انجام نه‌کړ
خو شی‌و مه غور ځو لی
له نظر ه و م لو يد لی !
زه يی نه ګڼلم مل
هر يو ځ و ما ته غل
زه اسباب د ګدا يی وم
يا يی دام د فقير ی و م
يا اسبا ب و م د قسم
يا سند و م د يو چم
ز ما احکا م و ه معطل
هيچا نکړ پر ی عمل
زه خودو ی ته هدا يت وم
ستا لخوايولوی رحمت و م
هر چه و ينی په جها ن کی
هغه‌ټول سته‌په قرآن کی
قر آن بحر د ی بهيږ ی
شنی و لی تری جلا کيږی
نور علوم يی دی ښا خو نه
شنه رو دونه او نهرو نه
پاك قر آن در ب کلام د ی
هدايت د خا ص و عام دی
چه قر آن يی ور هبر
ټول اسلام ځ لکه لمر
ګرد جهان‌پدوی رو ښان ځ
چه رهبر ددو ی قر آن ځ
دا صحا بو عصر ګو ر ه
ځا ن خبر که زما و رو ر ه
شرق او غرب يی مسخر ځ
چه قر آن دد و ی ر هبر ځ
په قر آن که په قر آ ن
عمل و کړی مسلما ن
ټول جها ن به مسخر کړی
دا اسلام به لکه لمر کړ ی
بد عتونه به ټول ور ك شی
کفره به ګر د ه سپك سی
نن چه توره در بيله د ه
اود کفر غلبه د ه
خو قر آن مو دی هير کړ ی
پسی شا مو غور ځو لی
نو ځو ځکه خوار حير ان‌يو
ډير زهير اوپر يشا ن يو
لار مو ور که سر ګردان يو
دکفارو ريشخندا ن يو
نه دلی شو ونه هو ر ی
شوو تر مينځ خاو ر ی‌ايری
دغه ځا ی خو د ژ ړ ا د ی
هم ژړا هم واو يلا د ی

یو څه فکر خو په کار دی — قرآن و لیداسی خوار دی
داد رب کلام دی وروره — رسو و یی ترخپل گوره
دا کلام حبل المتین دی — دا نظام حق المبین دی
دا قانون آلهی دی — دا کلام ربانی دی
هدایت د ټول بشر دی — سعادت د ټول ټبر دی
هم صراط مستقیم دی — ښه نظام درب کریم دی
اصحابانو ښه منلی — بیا یی ښه عملی کړی
تاریخ و گوره د لبره — خان خبر که دزړه سره
خلفاء راشدین — قرآن ؤپه وی سنگین
ښه یی و عملی کړی — ټول جهان یی ؤ نیولی
څه یی شان څه یی شوکت — دقرآن په برکت
عدالت یی برپا کړی — په قرآن یی عمل کړی
ټول جهان یی حیران کړی — ښه نظام یی چلولی
دا نظام قرآنی ؤ — دا قانون رحمانی ؤ
نن چه پاته سو قرآن — اسلام سو خوار و حیران
اسلامی ممالک ټوله — په زلت کی دی هر گوره
ای زما مسلمه وروره — قرآن و اخله و یی گوره
څه خدمت خود قرآن کړه — تر قرآن دی ځان قربان کړه
قرآن لوله دزړه سره — ولی گرزی دربدره
دا قرآن خو زموږ شفاده — د هر رنځ مو ښه دوا ده
ولی خوارو زار سوی پاته — پټ پټ وژاړه و خواته

**(اللهم نور قلوبنا بنور القرآن)**
**آمین**

## اسلام

سمه لار ده دا سلام — چه پر تلای سی ځاص و عام
خنگه پاک دا سلام دین دی — دیر عالی خو دا متین دی
ښه مذهب دی ښه آیین — زموږ دین حبل المتین !
وهر چا ته ښه رهبر دی — که غریب که معتبر دی
که زاهد وی که صوفی — که عالم وی که آمی
که فقیر وی که غنی — وهر چا ته لاربښئی
که پاچاوی که گدا — که کاسب وی که ملا

و هر چا ته ښه رهبر
ذهر چا يي کار ښو ولی
ښه صراط مستقيم دی
که يو فرد وی که ملت
که امير وی که وزير
که تاجر که حکمران وی
قرآن ده ته دی رهبر
چه اسلام يي دی منلی
دحضرت دربار ته گوره
هم سيد المرسلين ؤ
هم زاهد ؤ هم عابد
هم سلطان د سلطانانو
هم افسر دښو غازيانو
خلفای راشدين
دحضرت جانشينان ؤ
متقيان او زاهدان ؤ
هر څه سته زموږ په دين کی
قرآن راغی ټول بشر ته
هرانسان لره رهبر دی
قرآن خوان پدی پوهيږی
حاجت نسته بل قانون ته
اسلامی قانون دی
فاروقی دور په ياد کړه
که عرب ؤ که عجم
ظلمات يي بر طرف کړه
چه اسلام نه و ظلمت ؤ
يوه توره تاريکه وه
چه اسلام راغی رڼا سوه
جهان ټول په منور سو
ورك يي ټوله خرافات کړه
داسلام دين چه روښان سو
سمه لار يي کړه ښکاره

داز موږ د دين د پيغمبر
په قرآن کی دی ليکلی
غوره کړی رب رحيم دی
که عسکر وی که دولت
که مالدار وی که فقير
که د جنگ ښه پهلوان وی
دين روښان دی لکه لمر
و مقصد تی رسولی
تاريخ واوله زما وروره
هم خاتم النبيين ؤ !
هم قاضی هم مجاهد
هم امير دا ميرانو
هم رهبر د عارفانو
اميران زموږ دد ين
داسلام ښه اميران ؤ
اميران هم سلطانان ؤ
پدی سپين دين مبين کی
نه يو قوم اويو ټبر ته
پر جهان چه څه بشر دی
چی دا بحر دی بهيږی
نه دبل چا و مضمون ته
محمد زموږ رهنمون دی
دانا ښادزړګی په ښاد که
ټول يي کړه په اسلام سم
په اسلام يي مشرف کړه
بشر ټوله په غفلت ؤ
ټول په جهل کی غوټه وه
حق باطل سره جدا سوه
چه ښکاره داسلام لمر سو
سپك يي ټوله بدعادات کړه
جهان ټوله گلستان سو
جهان سو په ننداره

خه وسوه‌چه‌اوس‌نو خوارسو؟ … زموږ له‌لاسه‌خوار وزار سو
که شیخا ن که ملایان د ی … که خا نان که حا کمان دي
نن زموږ ر هنما یان د ی … پر ممبر که خطیبا ن د ی
مقتداء دوی بلـل کیـږی … هم گله له دو یه کیـږ ي
ولي دو ی نه مانع کیږ ی … ولـی دو ی نه و لا ړ یږی
غا یه خــه ده دا نسا ن … عبا دت دی در حمــا ن
اسلا می مملکت خــه سو … قر آنی سلطنت خــه سو
داسلام ا میر ا ن خـه سوه … دقر آ ن پیر وا ن خـه سوه
ها ددین غمخوا ران خه‌سوه … ها شیخان ملا یان خه سوه
په بنکاره گناو ی کیـږ ی … محتسب نه پـیدا کیـږ ی
احتساب‌خو نه لو ی شی دی … دین په‌ده‌سره ژو ند ی دی
ولی ورك سو ا حتسا ب … خه به کړودسوال جو ا ب
منع نشوه بــد عــا ت … بد عا دا ت او خرا فـا ت
اسلا می مملکت پا ك و ی … دهر چا خپل‌خان په‌و الكوی
نن نو ولی گــه وده سو ه … پراسلام توره تیاره سوه
هیڅ مانع نه پیدا کیـږ ی … په بنکا ره گناو ی کیږ ی
اسلا می هدف مو خه سو … قرآنی شر ف مو خــه سو
غا یه خه سو ه دا ســلا م … ولی گډ سو ه خا ص و عام
دین د نیا سر ه جــدادی … بنه او بد سره جــلا د ی
که عز ت دی دا سلا م د ی … که حر مت دی داسلام د ی
نن نو ولی موږ ذلیل ســو … رنځو را ن تږو له علیـل‌سو
اسلا می قو ا نین پــا تــه … اسلا می مضا مین پا تــه
تقلید کــړو د نصا ر ی … دیو رپ او ا مــر یکــا
هغه نور د اسلا م هیــر … ظلما ت سو ه را چار پیر
په پردی اتږ گــډ سو ی … تږو له یو تــر لــه و تلـی
دا په خه بلا ا ختــه یــو … تږول سر سام‌اوسر کافته‌یو
خدایه ته مو پــر ا ستلا م … بیرته سم کړی په بنه‌شان
اسلا می دو ره خو بیــا … را شیکا ر ه کی پر د نیــا
اسلام څا نته جدا دین د ی … بنه محکم حبل المتین د ی
بنه مذ هب اوبنه‌آ ئین د ی … بنه مسلك دی‌ډیر متین دی
هم پخپل څا ن کی پو ره‌دی … وهر چاتــه بسنــد ه د ی
اسلا می دین دی جاری‌سی … قر آنی دین دی جــاری‌سی

صدیقی دین دی جاری سی — فارو قی دین دی جاری سی
عثمانی دین دی جاری سی — حید ری دین‌دی جاری سی
ښه اصحاب‌دی لکه‌ستو ری — دین ښئی پر هر ه لو ری
اسلام دی عملـــی سو ی — په ښه شان دی جاری‌سوی
سمـــه لار ده دا سلا م — چه‌پر تلای سی خاص و عام
دغه لار ز مـــوږه لار د ه — را ښو لی هـــم‌با دار ده

که نجات غوا ړی د لبر ه
اسلام لار د ه بـــر ا بـــره

# علم

علم څه شریف هـنر د ی — چه میراث د پیـغمبر د ی
علم علم ، علم دیـــن د ی — دانور علم دنا ور یـــن دی
علم علم د رحمــــن د ی — دا نور علم دشیطا ن د ی
چه عالم نه وی جا هل د ی — جهل ز هر هلا یـــل دی
زړه په علم وی رو ښانـــه — علم زده کړه ز ما جـا نه!
علم فر ض‌دی ز ما و رو ره — زده کو ی به یی تر گو ره
معی کړ ه په علم دیـــن کـی — پسی څی که‌وی‌په چین کی
علم څو ر نگه د ی جا نـــه — ده دعلم معنی گـــر ا نـــه
که د ی علم سی پـــر سر — نو به تـــا کـــړ ی در بـــډ ر
اوکه علم ستا پر ز ړ ه‌سی — نو روزی به‌دی‌په خو له‌سی
نن عجبه معا ملـــــه د ه — شپه موورځ‌او ورځ‌موشپه‌ده
علم وزك دی تر دا میا ن — هر څه علم پـــر جهـــان
پر دنیا څینی علــو م د ی — او څنی څنی فنو ن د ی
علم نـــد ی معلــو مـــا ت — که هر څو وی خو را زیات
علم نـــد ی کتا بو نـــه — ناو لو نه ا خبـار و نـــه
علم نـــد ی فلسفـــه — نـــه هیئت نـــه هند سه
علم نـــه ، علم ا لا شیـــاء — نه فـــز یـــك او نه کیمیا
علم نـــد ی ر یـــا ضـــی — نه فلکلور ، فـــلا لـــو جی
علم نـــد ی عـــکا سی ! — رنگما لـــی او نـــجا ر ی !
د غه ټو له دی کسبو نـــه — دد نیا ښـــه صنعتو نـــه
دا فنو ن حیو ا نـــی د ی — د غه ټو لـــه جسما نـــی دی

مونږ هیڅ کله جولا یا ن
نه بو لو آ هنگـــر ا ن
معما را ن اودهقا نـــا ن
که‌حیو ا ن د ی که ا نسا ن
حیوان هم صنعت لـــرینه
حیوان خو نه جو ړ وینـــه
مر غان څا لی جو ړو ینه
په او بو کی ما هیـــا ن
په ځنگلو کی‌شنه زمر یا ن
مو سیقی کـــی بلبلا ن
دغا لبو ز و کنې گـــو ر ه
ښه څا لی د تو تکی د ه
څا لی گوره د مـر غا نـــو
څه عجبی معمار ی د ی
اسلحی خـــو علـــم ند ی
مسلح ټو لـــه لیو ا ن د ی
مار ، لړ م ز هر لر ینـــه
عقل بیل دی شعور بیـــل
حیوا نا ن ښعو ر لر ینـــه
مینږ یا ن‌جو ړ کی گدا مو نه
دوی په‌دوبی‌کی خو اری کی
دمینږ یانو لوی لښکر د ی
دمچخو لښکر گـــو ر ه
دمر غا نو کو چیان گو ر ه
دا شعو ر بو لی نـــه عقل
علم څه شی دی حکمت د ی
علم هغه د ی د لبـــر ه
علم نور د ی در خشا نـــه
علم لار د ه د عـــمـــل
علم علم قر آ نـــی د ی
علم سر د ی سر خفـــی
زړه محل د ی د ر حمـــت

نه بو لو دو ی عا لما ن
زر گـــر ا ن او نجا ر ا ن
دغه ټو له کـــا سبا ن
پیدی دوا ړ و کی یکسا ن
حیوا ن هم حر فت لرینـه
غنې هم جو لا یی کړ ینـه
خورا ښې‌هند سی کـړینه
پورته الو زی مـر غـــا ن
خورا ډیر در نده گـــا ن
بورا گان دی استا د ا ن
صنعت گو ره کور گی‌گوره
ښه ما ښـــی دمچمچی د ه
آشیا نـــی د بلبلا نـــو
ځنگه ښې مهند سی د ی
ښې و سلی خـــو علم ند ی
دز مری تیره نو کا ن د ی
سپی هم خو لی را لگو ینه
ظلمت بیل دی او نور بیـــل
خپله مور ښه پیژ نینـــه
د کوی ټو له غا رو نـــه
ښې د ژ می تیا ر ی کـــی
په مورچو کی پټ عسکردی
هی توبه د خدا ی له ز و ره
ځی را ځی پر هره لـــو ره
دا بیا ن لـــر ی لو ی نقل
دالله ښه معـــر فت د ی
چه د ی ز ړ ه کـړی منوره
چه دی زړه کاندی رو ښانه
ښه عمل د لاری مـــل
علم علم ا ســـلا مـــی‌دی
پټ په زړه کی لار لـــر ی
زړه مظهر دی د قـــدر ت

زړه دی روح، روح دی یو امر　　را غلی در ب په امر
بیر ته شی و خپل مکان ته　　بحضور وا لا مکان ته
چه هلته دی پکار سو　　دغه علم د ی چه یار سو
پاك رسول ز مونږ نبی ؤ　　ملقب د ی په امی ؤ
ظاهر ی علوم یی نه وه　　باطنی علوم یی ښه وه
حقیقی علوم یی تړو له　　دالله لخوا و بو له
دد نیا علوم جدا د ی　　د عقبی علوم جدا دی
دد نیا علوم فنا د ی　　د عقبی دا په بقا د ی
چه تو ښه د آ خرت و ی　　او په ښه‌ستا په‌قیامت و ی
دغه علم ، علم دین د ی　　دا هم دین اوهم آئین د ی
علم ها چه در سره و ی　　پس له مرګه ستاپه ښه‌دی
دغه علم ، علم بو لی　　چه ورب ته د ی ور بو لی
دا بیا ن خو را اوږ د یږ ی　　کی لیکمه خود را ز یږ ی
الحا صل چه علم د ا　　چه تو ښه شی د عقبی
علم خاص‌د‌روح صفت دی　　وا یمان ته تقو یت د ی
دنیا هم یو شی ده ورو ره　　ر سو ی به یی تر ګو ره
ښه ر حمن با با و یلی　　ماد لاندی د ی لیکلی :
« ښه دمښه‌ده دا دنیا　　چه تو ښه د ه‌د عقبی »
ددنیا کسبو نه ز ده کړ ه　　ځان خوراښه‌په‌ښا یسته‌کړه
که‌فنون که صنعتو نه　　که دا نورښه ښه کسبو نه
دغه ټول‌به زده ه کو ی　　ستاپه کار دی کی منی(۱)
ددنیا تو له کا رو نه　　هر یو بیل لر ی کسبو نه
ښا یسته چه داد نیا د ه　　په صنعت ر عنا ز یبا ده
کما لدار سړی‌خوشال و ی　　بی کماله په بد حال و ی
کمال ښه دی ښه هنر دی　　ښا یسته په‌ده بشر د ی
علم بیل د ی کما ل بیل　　جلال بیل دی جمال بیل
علم څه شی دی حکمت د ی　　دالله ښه معر فت [illegible]

## دنس غم

غم‌مو تل له غم د نس سو　　پر د غه مو همت بس سو
مثنو ی کی حکا یت د ی　　ودا نا ته بصیر ت د ی

---

(۱) دکند هار په محاوره کـــ ی‌د(که یی منی) معنی ور کوی .

# مثال

پر دنیا یو شین پټی دی
در سته ورځ دی څرګوینه
تو له شپه دصبا غم خوری
چه به څه خور مه صبا
صبا بیا هاپټی شین وی
بیا غو یی‌و خوری ها تو له
دشپی بیا غم د سهار کړی
په کلو کلو غویی
په‌ورځ‌خوری دشپی یی هیر
زموږ مثال دها غوایی دی
شپه وورځ دنس په غم
په کلو بنده خوا ړه خورو
فکر نه کړو چه دا څه ؤ
پسله دی به یی هم خورو
ها رازق مو با لکل هیر دی
ها پرون ساعت چه تیر سو
چه لا ته نه وی زو کړی
ته دی خپل‌کار کړه تر سره
داستا رزق دبل‌چا کار دی
ته مسئول یی دخپل کار
هغه چاچه غا بښ در کړی‌ء
رزق پرتاتر تاعاشق دی
شین پسرلی‌تاته خوانچه ده
که خزان سی‌بیا بهار سی
دقدرت ننداره وکړه
څه مرغان که په هوا دی
په‌او بو کی‌چه ما هیان دی
تو له خوری دده له خوا نه
نو ته ولی اضطراب کړی ؟
هاچه ستا دی هغه ستا دی

چه پکښی‌یو لوی‌غو یی دی
شنه وا ښه یی تو لو ینه
دزړه وینه په‌ماتم خوری
کړی ژړا او وا ویلا !
په و ښوسره‌تك شین وی
ځان په‌موږ کاندی هرګوره
دغه‌شان یی په تکرار کړی
په دغه رفتار وی هی
حرص پرده‌با ندی چار پیر
کار مو تو له حیوا نی دی
یو پرا ته پدی ما تم
هم او به بیا پر چیښو
دا سا ړه ؤ که تاوده ؤ
خو شی غم و لی کو و ،
چه ترهر چا دی را تیر دی
هاچه تیرسو و لی هیر سو
دمور تی دی ؤ ډك کړی
ای زما دزړ ګی سره
ستادبل په کار څه کار دی
ستا ډوډی ده پر با دار
تاتی رزق مقرر کړی‌ء!
اضطراب کله لا یق دی
جوړه کړی مایده ده
ستا پرځه زړه ناقرار سی
شاو خوا تما شه وکړه
حیوا نان که پر صحرا دی
که‌په غرو کی حیوا نان دی
با دار دی پر مهر با نه
دنس غم ډیر په عذاب کړی
ستا دا کله د بل چا دی

دبل رزق نسي خوړای
بيهوده مکړی های های
هغه شي چه ما حضر دی
هغه تا ته مقرر دی

نه به زیات سی نه‌به کم
نو پر څه خوری دنس غم

# پښتو ژبه او محاوری

زه د یار کړمه خبری
ښی خوږی لکه شکری
ښه پښتو وایه د لبره
که‌هر څو وی لرو بره !
قند هاری که ورد گی وی
مشر قی که جنو بی وی
هر چی وایه وا یه وا یه
معشوقه می ښه را ستا یه
عربی وی که فارسی
که ترکی وی که هندی
چی د عشق کوی خبری
هغه وا ړه دی منظوری
مثنوی کی ښه قصه ده
ترا نگورو لا خوږه ده
یو ترکی ؤ یو عرب
وددوا ړو یو مطلب !
یو او زوم وی بل عنب
ؤ ددوی ترمینځ لوی گړب
هر چا خپله وینا کړله
په مقصد نه پوهیدله
دریم پیښ‌سو ور حضور
ورته را یی وړه انگور
نو نزاع یی فیصله سوه
پرا نگورو ښه میله سوه
مقصد یو دی پر جهان
دد لبر غوا ړو نښان
هر سړی بیله یی لار
څی سلام ته د بادار
یو بادار مودی د ټولو
یو له بل به سره بولو
که څه بیل‌مودی ښارونه
هم جدا کلي ، کورونه
محراب یو دیء و قبلی ته
د معشوق و مدینی ته
دد لبر څه ښه جمال‌دی
زما په زړه کی‌دده خال دی
گوره ستن د قطب نما
که هر څو سي شاو خوا !
په آخر کی بیا سمیږی
مخ و قطب و ته دریږی
خیال در سم کړه برادره
خال ته گوره دزړه سره
خال دور ځوتر مینځ گوره
مخ دی کړه دیار پر لوره
خال نقطه ده دوحدت
دالفت او محبت
زړه دی یو دی یو دی حال
زړه دی داغ په شنکی‌خال
ننداره د یار دخال کړه
په دا حال‌دی‌خورا خیال کړه

سړی یو وینا وی ډیری    لمر سو یو رڼا وی ډیری
امام یو مقتدیان ډیر    قاری یو سامعان ډیر
باغ وی یو میوی یې ډیری    باغوان یو ونی یې ډیری
پیروی یو مریدان ډیر    نبی یو امتیان ډیر
یو کتاب ډیری خبری    یو رباب ډیری بدلی
یوه ژبه سل وینا وی    یوه ناوی شل یې ورا وی
یو وی پلار ډیر یې زامن    کور وی لوی یوه میرمن
پښتون یو دی نه بیلیږی    که هر څو وینا وی کیږی
خه خه، ښه ښه دواړه یو دی    وکړه، وکه دواړه یو دی
څه کې، څه کړی دواړه یو دی    هو کې هو کړی دواړه یو دی
که مو چنې که پښی دی    که کپی که کوسری دی
ته له یو دی کی منی    ښه سامان دی ستاد پښی
موږ که مونږ که دی که موږ    ښه پښتو ده دا زموږ
مطلب یو کلمات ډیر    حرف وی یو حرکات ډیر
که پختو ده که پښتو    ژبه ده د پښتنو!
ښه شیرینه افغانی ده    افغانی که پټانی ده
رباب یو تارونی ډیر    مقام یو ږغونی ډیر
وطن یو ښارونی ډیر    کلی یو کورونی ډیر
دلبر یو اداوی ډیری    مین یو ژړاوی ډیری
پښتو وایم دلبر ستا یم    ته له ستا یم ته له ستا یم
بل څوك زه نه پیژنمه    خپل لالی خو ښه ستا یمه
زما مطلب هغه پښتو ده    چه د ټولو پښتنو ده

پښتون یو پښتو یوه ده
پر جهان زموږ نازه ده

## ددنیا مثال

ښه مثال ددی دنیا    دا ساحره اروپا
ساحره ده فاجره ده    مکاره ده فاحشه ده
ټول عالم یې غولولی    دخپل ځان په ټول یې کړی
جادو گوره د فرنگ    ټول یې کړه دځان په رنگ
دعفت کور یې خراب کړ    دعصمت آب یې بی آب کړ

شرم ولاړ بی حیایی سوه    بی پتی بی ناموسی سوه
په هیڅ بند ندی ایله دی    بنځی نر سره اخته دی
حیوانی صفات یی ډیر کړه    انسانی صفات یی هیر کړه
نه یی عقل سته نه دین    نه یی هوښ سته نه آئین
نه طاعت نه بندګی سته    نه د خدای پیژندګلوی سته

لو خدایی یی کړله هیره    شهوات یی کړه برسیره
آخرت دچا په یاد دی    په دنیا یی زړګی بناد دی
بطن وفرج یووړه خراب سوه    په شراب پسی کباب سوه
ټول شیدا پر رنګ و بوی    دشیطان په خو یو بوی
بنی مانی بنه سړکونه    بنی ګاډی بنه موټرونه

بنه ګلان بنه یی باغچی دی    په هوا یی طیاری دی
تجارت دی کارخانی دی    زیب زینت دی تماشی دی
عالی خیال د مسلمان    کښنته پاته سو ویران
همت ټول دلی تمام سو    ددنیا د کار انجام سو

لویان هم لکه کوچنیان    پټی سترګی دی روان
مر دهغه چه نس یی موړ کی    په شهواتو یی ځان سوړ کی
یا هوټل یا سینما ده!    یا ناټک یا تماشا ده!
که کار، کار دی ددنیا دی    ددین کار ټول پس شا دی

یا فیشن دی یا سینګار دی    یا شراب دی یا قمار دی
عمر می یو تور غفلت دی    تاریکه ده او ظلمت دی
خدایه کله به رڼا سی    چه بنه بد سره جدا سی
نن د کفر غلبه ده    خواره زاره کلمه ده

دکفارو جنډه هسکه    داسلام جنډه ناهسکه
ته قادر یی زما خدایه    ای هادی او رهنمایه
چه بیا بل عمر پیدا سی    او اسلام باندی رڼا سی

فاروقی دور له سره    ژر تر ژر کړی برابره
چه ظلمت د کفر ډیر سو    اسلام میدوران مو هیر سو
صدیق څه سو عمر څه سو؟    عثمان څه سو حیدر څه سو؟

هاد بدر غاز یان څه سو ه؟ — داحد شهیدا ن څه سو ه؟
در سول صحابانڅه سوه؟ — ها دشام فاتحان څه سوه؟
هاد دین عاشقان څه‌سوه؟ — اسلامی توریا لانڅه سو ه؟
خالد څه سوضرار څه‌سو ؟ — هاد تورو گـذار څـه‌سو ؟
همت څه سوغیرت څه سو؟ — هغه شان وشوکت څه‌سو؟
هغه‌ښه‌سر داران څه شوه؟ — ها زموږ ښه‌خانانڅه سوه؟
هاددین غم خوران څه‌سوه؟ — رښتینی امتیان څـه سوه ؟
هغه‌ښه‌ښه شیخان څه‌سوه؟ — هغه‌ښه‌ښه صوفیانڅه‌سوه؟
هغه‌پټ زاهدان څه سو ه ؟ — هاښکاره عا لمان څه سوه؟
داسلام پاچهان څه سوه ؟ — هاد تاج خاو ندان څه‌سوه؟
ها ترکی سلطانانڅه‌سو ه؟ — عربی امیرا ن څـه سو ه؟
ها دننگ‌ښه‌زلمیانڅه‌سوه؟ — هادجنگ‌ښه‌زمریان څه‌سوه؟
حافظان دقر آن څه سوه ؟ — هاددین طا لبان څه سوه ؟

توره شپه ده تاریکـــه د ه — دجنگ بده طر یقه د ه !
په اتوم مو بیر و ینـــه — خورا ډیر هـو زو ر وینـه
ریشخند و نه را و هینـــه — رنگا رنگ مور بر و ینـه
دوی‌ته گوره‌چی مغرو ر دی — په اسبا بو ښه معمو ر د ی
موږ ته‌برگ برگ‌گوری‌ډیر — زیات‌نفوس یی دی په‌شمیر

لویه خدا یه ته‌قادر یـی — هم‌اول وی هم آ خـر یـی
ته‌هاخپل قدرت ښکاره کړه — جهان بیا په ننډ ا ره کـړه
دانا ښاد زړگی‌مو ښاد کړه — داوران کورمو را آباد کړ ه
احــــمدی دور دو را ن — بیا ښکاره کړی پر جها ن
چی‌عالم په ننډ اره ســی — ورك دوران مو‌بیا ښکاره‌سی

او کفار په ز لز له ســی
او اسلام په د بد به ســی

پحر مت د مصطفی ستـــا — په حر مت د مجتبی ستـــا
پحر مت دی د کعبـی و ه — په‌حر مت دی درو ضی و ه

په‌حر مت دی دقر آن و ه
هم دی ستا په عظیم شانوه

# ژمی او پسرلی

## کل یوم هو فی شان

جانه لوخدایی ته گوره
هره ورځ درب یو شان دی
نن دی داسی داسی هاسی
څونه لوی قدرت درب دی
څومره شان څه عظمت دی
دغه مځکه که آسمان دی
دغه غرونه که دامان دی
په دی ټولو کی حکمت دی
څونه لویه لوخدایی ده
زه یی جار تر ښه قدرت سم
نظر وکړه و آسمان ته!
یو وار ژمی سی باران سی
دباغ ټول گلان خزان سی
بیا اوریږی بارانونه
یو وار جوړ لوی انقلاب سی
واوری وی او هم ژلی وی
دا سوړ ژمی زمهریر وی
په کور کی صندلی وی
هم خواران ټوله لړزیږی
داشته من نه په خبر یږی
داخو ټوله ابتلا ده
رحم وکړیء پر خوارانو!
ای زما بډایه وروره!
دی خوتار نگه انسان دی
داخپل ځان دی په خبر کړه
ته یی ناست و بخاری ته
خدای خوته یی غنی کړی
خوار غریب یی مسکین کړی

فکر وکړه زما وروره
بله ورځ یی بیابل شان دی
بیا وی هاسی هاسی داسی
څونه لوی حکمت درب دی
څه یی شان څه یی شوکت دی
دغه بحر که طوفان دی!
دغه واوره که باران دی
شان په شان ده رحمت دی
څونه لویه پاچهی ده
زه یی جار تر ښه حکمت سم
وگوره داټول جهان ته
هر سړی لړزان په ځان سی
بیا خراب هم گلستان سی
چلیږی ساړه بادونه
خواران ټوله په عذاب سی
هم تناوی هم سلګی وی
هر سړی په ځان زهیر وی
په قصرو کی بخاری وی
هم اور نه ور پیدا کیږی
چه غریب څنگه لړزیږی!
په خوا هم زما وستا ده
زړه سوی وکړیء بډایانو!!
خوار غریب ته هم وگوره!
که څه نن دی پریشان دی
هم یو څه وده ته ور کړه
دی و یخ او و سیلی ته
هم یی پټ پوښیده کړی
هم وتاته یی اړ کړی

داد خدای یو ابتلا سوه
داخو تول درب کاروته
هابل یو یی امیر کړی
ها یو خان یی بدای کړی
بیانو یپلا(۱)خوار بدای سی
جوړ سړی هم سی نا جوړ
یو ظالم سړی مظلوم سی
دا درب یو بنه نظام دی
یو وار ژمی سی پسرلی سی
تکه شنه مځکه سپیره سی
توره مځکه زرغونه سی

بیا رنگه گلان غوړیږی
خنگه بنه صافه هوا سی
خنگه صافه بنه فضا وی
تول کوچیان لروبر کیږی
سپینکی وری هم هو سیږی
دا آسمان خنگه شرخیږی
یو ساعت یی قرار نسته

دغه لوی کاروان چلیږی
چه پسرلی وی بیا سی منی
چه گرمی وی بیا سی ژمی
چه گرمی وی بیاساړه‌سی
دغه تول جهان تیریږی

هر گړی ساعت تیریږی
هم شپی ورځی‌مو تیریږی
خوار انسان نه‌په پوهیږی
هم و گورته نږدی کیږی
آخر و لی نه پوهیږو

نن صبا په ماو تاسوه
هم‌پدی کی حکمتونه
هابل یو یی فقیر کړی
ها بل خوار یی گدا کړی
بیا بدای مسکین گدای سی
بیانا جوړ سړی سی جوړ
بیا حاکم سړی محکوم سی
دا بیا بل رنگه مقام دی
مړ جهان توله ژوندی سی
بیا هم بیرته تکه شنه سی
هم‌چمن سی هم مرغه سی

بنه مرغان ورته چونیږی
هره خوا سپینه رڼا سی
هره خوا بنه تماشا وی
میږی وزی تولی لنگیږی
شین‌دامان تول غوړیږی
شپه وورځ تری‌پیدا کیږی
یو گړی یی بدار نسته!

هره شپه او ورځ تیریږی
کله دوبی بیا سی ژمی
کله دوبی وی بیا منی
چه زیږه‌وی بیا پاسته سی
هم هیځ شی نه پاته کیږی

ژر ژر دروی نه دریږی
دا خوږ عمرمو کمیږی
چه داخه را باندی کیږی
هم له کوره لیری کیږی
آخر کله به پوهیږو

---

(۱) یپلا ـ یوه پلا .

دادي مر گ‌راغی و خوا ته
داد ژوند گا روان تیرین ی
ځا ن دی‌پوه او خبر دار که
تل‌تر تل اوسه بید ا ر
دا بر زخ بیا بل عا لـم دی
نه دلمر هلته ر نـا سته
تکه تو ره در بیلـه د ه

دنیا پاته سوه و شا تـه
وبر زخ ته روا نیـږ ی
ودی تگ ته یی تیار کړ ه
هر گړی او سه هو ښیا ر
هم تاریك دی هم تورتم دی
نه دهیچا آ شنا ستـه
ستا غریب هلته‌پر شپه د ه

نه‌خو سوداونه سو دا سته
شمعه اخله لد ی ځا یـه
څوری اخله له د ی دا ر ه
په ژو ند د لته‌امتحا ن د ی
داجهان جهان دکښنت د ی
دلته هر څه‌چه کر ی تـه
آخر داد نیا د ه تیـر ه

نه درمل اونه دوا ستـه
رڼـا و ړ ه لد غـه سرا یه
مخ پر لو ی سفر دیندا ر ه
دلته سوددی اوهم زیان‌دی
داجهان دآز مو ینښت د ی
هم هلته بی ریبی تـه
که څه لږ ده او که ډیر ه

نو خو غم دد نیا مـه خوره
اصل ځای مو آخر ت د ی
فکر و کړه‌ځا ن بید ا ر که
ستا په مخ کی لوی.سفردی
په تور قبر کی‌به څه کړ ی
هاد سوال جواب‌به‌څه کړی
ولی فکر نکړ ی جا نـه

بلکه غم د عقبی‌و خو ر ه
داد نیا ځا ی د عبر ت د ی
وعقبی ته ځا ن تیا ر کړ ه
هم قیامت دی هم محشردی
ها نکر منکربه څه‌کـړ ی
هاد گور عذاب به‌څه کړ ی
ولی ذ کر نکړ ی گر ا نـه

هغه سخت ساعت‌چه‌را سی
تول به خرنگه پښیمان سو
هلته بل خوك نه راځـی
راشه نن د عـمل وار د ی
نوو خدای ته‌به زاری کړو
سخت سا عت‌مورا آسان‌کی

تول به‌خنگه په هاها سـی
تول به خنگه په ارمان سو
نیك عمل په ښه را ځـی
تل‌په ښو باندی تلوار د ی
دا زار ی‌په عا جز ی کړ و
ها تور قبرمو رو ښان کی

تو فیق را کړی پر طا عت
چه تل ستا کړو عبا د ت

# ژبه او خبری

خپله ژبه دی نګاه کړه     بدو يلو يی پناه کړه
خورا ډيری يی آفتونه     تر حد تير يی ضررونه
پټه خوله سړی سنګين وی     خموش ناست سړی متين وی
په پښتو کښی يو متل دی     چه ددی خبری حل دی

خپله خوله دی ده قلا     هم قلا ده هم بلا
ډير نقصان دی د خبرو     ډير يی زيان دی د خبرو
پټه خوله لری معنی     چی يی نلری وينا
دوه دی غوږ ژبه يوه ده     دا نکته پکښی پرته ده
دوی خبری به غوږ باسی     او يوه به له خولی باسی

سترګی دوی ژبه يوه ده     هم پکښی بله نکته ده
اروه دوی خبری جانه     يوه کړه شيرين زبانه
دا خدايی حکمت وګوره     ډير ويلو دی خان ژغوره
زما ژبی شه بلا يی     هم دښمنه هم آشنا يی
په يوه خبر خپلوان     بيګانه سی په يوآن

ژبی ته آفت زما يی     هم رعنا يی هم زيبا يی
په خبرو کی آفات     په سکوت کی دی نجات
دعاقل ژبه په زړه کی     دجاهل زړه وی په خوله کی
پس له فکره بياويل کړه     هاويل په تامل کړه

په يوه خبر برباد سی     ددښمن زړګی په ښاد سی
په يوه خبر هوښيار سی     دښمنان ته له بيدار سی
ياوه ګوی سړی خوبد وی     هرزه ګوی سړی هم دد وی
لږ ويل ډير اروېدل کړه     لږ ويل او ډير ليدل کړه

دا مثل دی د خبری     ښی خبری مرغلری
ښی خبری کړه د لبره     ژبی جار سم دزړه سره
بدويل مکړه هيڅ کله     خزان مسی زما ګله!
ډير ويل دقرآن ښه دی     ذکر کړل دسبحان ښه دی

# دلویانو نظر

بایزید شمع دد یــن ؤ
دالله یو ښه بنــــده ؤ

هم سلطا ن العار فین د ی
لوی و لی بر گزیده ؤ ا

دا دده یو ه قصـــه د ه
دلو یا نو چه گـذ ر وی

په کتا ب کښې نو شته د ه
په هر شی یی ښه نـظروی

دی پر لار را تیر یـــد ه
سپی را تی دده و خوا ته

و یوسپی ته یی کا تـه !
ده کا ته د سپی و خوا ته

لار و ه تنګه دی ګو ښه‌سو
چه دسپی دو مر ه عزت

یو مر ید په اند یښنه سو
ولی و کړ زمو ږ حضر ت

شیخ و لسپی‌ما ته په حال
زما ګنه څه‌وه چه سپی‌سوم

دا سی وو یل فی الـحا ل
سپک حیوان‌اوخوارکی‌سوم

تاڅه کړی‌چه سړی سوی
زه یی سپی کړم ته سړی

بایز یدښه آ د می سو ی
زه ګیدړ سوم ته ز مر ی

تی(۱)انسان کړی‌عا لیشان
دا خو فضل د سبحا ن ؤ

زه‌یی کړ مه بـد حیو ا ن
چه پر تا یی دا احسا ن ؤ

په اثر دد ی گفتـــا ر !
چه دی‌تیرسوبیازه‌تیر سوم
ما څه کړی چه سړی سوم
دازل بر خه جـــدا د ه

نو ما ور کړ ه سپی ته لار
ډوب په فکرتیرو بیر سوم
اوسپی نسوم آدمی سو م
دبا دا ر دا سی عـطا د ه

چه نظر دپاك سبحا ن سو
دلو یا نو څو مره خیال دی
په عبرت ګوری هر شی ته
چه هر شی باندی ګذر و ی

با یزید سوهم سلطا ن سو
په هر شی‌کی دزړه حال دی
په عزت ګوری و سپی ته
ها ګذر یـــی معتبر و ی

(۱) تی ـ ته یی

دا لله چه پر نـظـر و ی　　ها سلطا ن د بحرو بر وی
دلو یا نو لوی نظـر و ی　　په اسرا رو چه خبـر وی

دی قصی ته گو ر ه جا نه
فکر و کړ ه پر ما گرا نه

# (۲)

# د جامعی کارونه

زما دې یری مودی را هیسی پـه‌زړه کی وه چه که‌یو داسی څه پـه نظم و لیکل سی ـ چه د جا معـــی‌کارو نه او تعاو ن او مد نیت‌وښئی اوهم داځینی ښکاره سی چـه یـوسړی او فرد گذاره نسی کولای ۰
انسا نان یو له بله سره اړ دی‌او احتیا جات سره لری . هغه وُچه دغه‌څه می دهر چاله خولی ولیکل‌ـ که‌څه‌هم دامنظومه لږ څه او ږ ده سوی ده خو ددی لپاره چی‌هرڅوک‌په وپو هیږی دغسی تفصیل پکاردی
بل مطلب داوٌ چه که چیری کـم‌فار سی ز بان ورور یی و لو لـــی ډیر لغات به زده کړی او هر را ز نومونه به وا وری چه دا هـم‌دپښتو دتعلیم دپاره مفیده خبره ده ۰
حقیقت همد غه دی چه انسان‌باید خپل ځان پر بل ونه کنجوی‌په هر حال ځان محتاج او کښته وبولی‌البته چه دا لولی ښه‌به وربنکار ه سی چه انسا نان یوله بله سره‌اړدی‌نو هیچا ته به په سپک نظر نـــه گوری مقصدهم‌دغه تکی دی‌اوبس!!!

(صالح محمد)

# بزگر وایی

زه چې بزگر یمه نو د ټولو سر یمه نو
سوی په لمر یمه نو پر د ښت و غر یمه نو
تا ته دوه دی در کوم
د سته گیډی در کوم

لوی وظیفه ده زما پیشه قولبه ده زما
سپاره سپره ده زما مځکه ماله ده زما
هم انسانان روزمه
هم حیوانان روزمه

زه لوی لوی لوی لرم غوا یی خلور لرم
غوبله ته نور لرم در من پر کور لرم
هم او مالی کومه
هم ښه باد ی کومه

ښی ښی غلی در کوم ښی ښی دانی در کوم
ښی خر بوزی در کوم ښی هندوانی در کوم
ښه ترکاری در کوم
ښه شنه سوزی در کوم

که زه کرنه نه کم د کښت روزنه نه کم
ښه یې پالنه نه کم یا یې ساتنه نه کم (۱)
انسان حیوان به څه خوری
دا ډیر مرغان به څه خوری

زحمت می ډیر دی نو راحت می هیر دی نو
ساعت می تیر دی نو کار می تیر بیر دی نو
کړم جامعی ته خدمت
هری شعبی ته خدمت

زه نفقه در کوم زه خوراکه در کوم
غله دانه در کوم هم علوفه در کوم

---

(۱) کم ــ کړم

تو له ژوندی یاست په‌ما
تو له خوندی یاست په‌ما

## بنا (خټگر) وایی

زه بنا نی کومه — تل آبادی کومه
تا ته خواری کومه — ستا غمخواری کومه
تا ته کلا جوړوم
تا ته بنا جوړوم
بنا بنا جوړوی — تا ته پنا جوړوی
خونه رڼا جوړوی — دالان زیبا جوړوی
ستا د مسکن د پاره
د نشیمن د پاره
که بنا نه وی جانه — حال به دی شه وی جانه
ساړه تاوده وی جانه — ټول به پراته وی جانه
لغ پر صحرا باندی
پر وچ بیدیا باندی

بنا کوټی جوړوی — لوی لوی ماڼی جوړوی
تا ته خونګی جوړوی — ښی زیرمینی جوړوی
که بنا راکی جواب
موږ به سو ټول په عذاب
مهمانخانی جوړوی — آشپزخانی جوړوی
بالاخانی جوړوی — هم زیرخانی جوړوی
لوی عمارت جوړوی
ښی په زینت جوړوی
ښار مو آباد په بنا — دکور بنیاد په بنا
جهان ندی ښاد په بنا — قصر ایجاد په بنا
موږ یو احتیاج بنا ته
هر یو محتاج بنا ته

## ترکان (نجار) وایی

زه چی نجار یمه — خورا په کار یمه
تل گرفتار یمه — ستړی آزار یمه

اره تیشه وهمه
رنده سکنه وهمه

تاته ارسۍ جوړوم — ښی الماری جوړوم
میز و چوکۍ جوړوم — کټ صندلی جوړوم

ښی ښی پیړۍ جوړوم
ور او کړکۍ جوړوم

دپیل پالکۍ جوړوم — د سین بیړۍ جوړوم
جو پان ډولۍ جوړوم — جوغ او ښاخۍ جوړوم

ډیر احتیاج وماته
عالم محتاج وماته

## جولاوایی

زه چې جولا یم وروره — اړ ترهرڅا یم وروره
تل په سودا یم وروره — غرق په بلا یم وروره

چې تا نسته جار باسم
تا ته جامه را باسم

پټ په جامو یاست په ما — پټ په کالو یاست په ما
پټ له تودو یاست په ما — پټ له سړو یاست په ما

که نه وم لغ به گرزۍ
لغړ لغ پخ به گرزۍ

هر آدمی وماته — ښځه سړی وماته
لویو کمکی وماته — اړ خوارکی وماته

په ژوند چپن درکوم
په مرگ کفن درکوم

که زه در نکړم جامه — ته به سی لغ برهنه
نو زما ممنون نه اوسه — زما احسان ومنه

ستر عورت دی په ما
زیب و زینت دی په ما

زه لوی خدمت کومه — ستر عورت کومه
ستا حفاظت کومه — هم دی زینت کومه

د کور کالی درکوم
پرده پوښی درکوم

د ناوی پو ښی در کوم — هم تاخچه پوښی در کوم
هم پتنوس پو ښی در کوم — هم خو نچه پو ښی در کوم
جل و جا می در کوم
خور ا یی ښی در کوم

# پوونده وایی

زه ما لد اری کومه — تل چو پا نی کومه
ستا سی شپنی کومه — خوا ر ه خوا ر ی کو مه
تل پر صحر ا گر ز مه
کور می په شا گر ز مه

تا ته ر می پیا یمه — پسو نه و زی پیا یمه
او ښا ن گلی پیا یمه — هم هر چیر ی پیا یمه
دمیږ و پیی در کوم
د پسو و ړ ی در کوم
ته په ښار و کی گر زی — په با زا ر و کی گر ز ی
تل په کو خو کی گر ز ی — په ښو کو رو کی گر ز ی
زه په صحر ا یمه تل
زه پر بید یا یمه تل
گا ته شید ی در کوم — خو را خو ږی در کوم
کلکی مستی در کوم — تر وی شلو مبی در کوم

کر ت او غو ړ ی در کوم
پا ستنه کو چی در کوم
تغر نیمخی د ی له ما — وا ښی ؤ وا ښکی د ی له ما
کو چی کو سی دی له ما — لاندی اووری دی له ما
زند گا نی دی له ما
تن آ سا نی د ی له ما
که ما لد ا ر ی و نه کړ م — د پسو شپنی و نه کړم
غو ښی کو چی در نکړ م — کو ر ت اوغوړ ی در نکړ م
سپو ره ډو ډی به و ی‌ستا
و چه مړ ی به و ی ستا

ستا گند را ن دی په ما      کور دی و دا ن دی په ما
مو ږ ښار ستا ن دی په ما      ښایسته داما ن دی په ما
څه ښه کو سی در کو م
څه ښه نیمخی در کو م

## سوداګر وایی

ز ه تجا ر ت کو مه      تل سیا حت کو مه
تا ته خد مت کو مه      غم د ملت کو مه
کله پر کو ر یمه ز ه؟
پر هر ه لو ر یمه زه؟
تا ته سا ما ن را و ړم      ښه ښه شیا ن راو ړ م
سا ن وا لو ا ن را و ړ م      لو ښی چینما ن راو ړ م
ملت خو ښا د دی په‌ما
دو لت آ با د دی په ما

تو له ثرو ت دی ز ه یم      وا ړ ه عزت دی ز ه یم
ز یب و ز ینت دی زه یم      شان و شو کت دی ز ه یم
ته آ را م نا ست یی پرکور
زه ستړی یم لو ر په لو ر
که تجا رت و نه کړ م      او سیا حت و نه کړم
تا ته خد مت و نکړ م      پر خا ن زحمت و نه کړم
کمر ك به خو ك د کو ی ؟
با زا ر به خو ك چلو ی ؟

## خرکاراوپاروکښ وایی

ز ه چه خر کار یمه      خو را په کا ر یمه
ډ یر گر فتا ر یمه      هم خو ا ر و زا ر یمه
تل ستا با رو نه و ړ مه
تل ز حمتو نه و ړ مه
خاو ری ایر ی چلو م      خس و خا شی چلو م
تل غر ا ر ی چلو م!      انبا ر خا نی چلو م
تو له کو څی پا کو م
هم طو یلی پا کو م

در انه بارونه وړمه ټول انبارونه وړمه
ډیر زحمتونه وړمه ستا محنتونه وړمه
که څه هم خوار یم زه
خو راپه کار یم زه
یم خوار بدای ته په کار که څه هم یمه خرکار
بی ما مونسی روز ګار بی ما چټل ټول ښار
زه صفایی کومه
جارو کښی کومه
د ښار زینت زه کوم حفظ صحت زه کوم
ستا سی خدمت زه کوم ښی په رغبت زه کوم
بی ما صحت نه لری
هیڅ مسرت نه لری
که زه خواری ونه کړم او صفایی ونکړم
جارو کښی ونه کړم او خاکښوری ونکړم
خلق به مو تنګ سی ډیر
ملک به بدرنګ سی ډیر

## نانوای وایی

غلبیلول زه کوم اوړه اخښل زه کوم
هم مشتیدل زه کوم هم پخول زه کوم!
تا ته ډوډی درکوم
توده مړی درکوم
لوی مهم کار دی زما همتو د بازار دی زما
تنور تیار دی زما هر وږی یار دی زما
ډوډی پخه ده هر وخت
توده پرته ده هر وخت
ډوډی خوږه پخوم ښی برشته پخوم
هم یی په شپه پخوم هم یی غرمه پخوم
وږی سړی مړوم
لوی او کچنی مړوم
د نس خدمت د بشر اخیستی ما دی پر سر
ګر زمه زه لروبر چه اوړه کړم برابر

زه خبازی کومه
ستا نانوایی کومه
قوت له دوډۍ څخه دی — قوت له مړۍ څخه دی
قوت له ټکي څخه دی — قوت له تبۍ څخه دی
د ژمي اورموزه یم
رڼا د کورموزه یم
د بنی نوع غذا — ورکوم زه هر بیگا
لو وظیفه ده زما — خو مړه خواری می په خوا
څونه لوی شان لرم
غم دانسان لرم

## خارکښ وایي

زه چه خارکښ یمه — خو را زیار کښ یمه
ستا په غم خښ یمه — په خواری خوښ یمه
د څو زو غزی راوړمه
تیره اغزی راوړمه
حمام په ما تودیږی — تنور په ما گرمیږی
دا ښ مو په ما چلیږی — اور مو په ما بلیږی
پیلو څی زه درکوم
تاو خانه زه تودوم
ټول گذران مو په ما — دغریب توان مو په ما
هر کور ودان دی په ما — تود مو دیگدان دی په ما
د ژمي اورموزه یم
رڼا د کورموزه یم
څونه زحمت کومه — ستا سی خدمت کومه
کله راحت کومه — ډیر مشقت کومه
څوزان په شا راوړمه
ډیری وړیا راوړمه
کړم جامعی ته خدمت — وړمه هرگوره زحمت
دا می وجدان و همت — نیولی یمه غیرت
راحت یی تاته پاته
زحمت یی ماته پاته

ستړی ستو ما نه یم ډیر خوړا نا توا نه یم ډ یـر
خو نه پر یشا نه یـم ډ یر ډ یر سر گر دا نه یم ډیر
ماقبله کړی ستړ یـا
چه تا سی او سی هو سا
ما چه تړ لـی ده مـنـلا د خو زو غو زی می پهشا
راو ړم یی گـا و بیگـا خد مت کو م د هـر چـا
داو ظیفـه د ه ز مـا
ستا څـه چا ر ه ده له ما

## کلال وایی

ز ه چه کـلا ل یمـه په تـا ملا ل یمـه
ا ړ په سفـا ل یـمـه ستا پـه جنجا ل یـمه
تا تـه کـو ر ی پخـو م
گـړ ی کو ز ی پخـو م
تا ته کا سی جو ړ و م هم بنی پیا لـی جو ړ وم
منگی کـو زی جو ړ و م بنی آ فتا بی جـو ړ و م
هر کو ر و ماتـه محتا ج
هر سړی ما تـه ا حتیا ج
ز ه سړ و بی جـو ړ و م ز ه بنه گـړ ی جو ړ و م
زه او خو ر ی جـو ړ و م زه چلمچی ، جـو ړ وم
لو بنیی د کو ر جو ړ وم
ډیر شیا ن نو ر جو ړ وم
کتهو کـا شین در کـو م بنه لو ی خور ین در کـوم
بیا بنه کور تین در کو م تا غا ر سنگین در کـو م
که لو بنی نه وا ی جا نـه
حال به دی څه وا ی جا نه
خو نه شیا ن در کـو م بنه مر تبا ن در کـو م
څه بنه تو نگا ن در کو م بنه کتهو ر یا ن در کـوم
غسل ؤ او دس چـه کوی
خو د به نـو مـا یا دو ی
شو نه سا ما ن ستا کـره ز ما ددو کا ن ستا کـر ه
گو ره هر آ ن ستا کـر ه دی شا ن په شان ستا کر ه

هرآن اړیږی ما ته
هم ا حتیا جیږ ی ما تـــه
بی ما چا ر ه نه لـــری چه کو ر کو زه نـه لر ی
یا چه پیا له نه لـــر ی یا چـه کا سه نـه لـر ی
اود س به خنگه کـــو ی
او به بـــه خنگه سا تـی

## کنبی باف وایی

زه کنبی بـــا ف یـــمه بنه پـه ا نصا ف یـــمه
په ز ړ ه کی صا ف یمه هر خـا ی معـا ف یـمـه
بنه تغر و نـــه او بـــم
دستر خوا نـو نـه او بم

کو رو نه ز ه پټـــو م فر شو نه ز ه جو ړ و م
جو ا ل هم زه در او بـــم خو نه مو ز ه فر شو و م
تو له ا حتیا ج ما تـــه
گرد ه محـــتاج مـا تـه
لو و ظیفه ده ز مـــا لو عـلا قه د ه ز مـــا
هر چیر ی شپه د ه زمـــا کمبله شتـــه د مز مـــا

تغر گلیم هـــر چیـــر ی
جوا ل د غنم هر چیـــر ی
که ز ه جار تکړ م کنبـــی نو به پر خاو رو کنبینـی
تو بـه لـه‌داسی خوا ری هی هی لد ی بد بختـی
په لا ف و شا ف یمـــه
چه قا لین بـــا ف یـمـه

## طبیب وایی

زه طبا بت کـو مـــه حفظ صحت کـــو مـــه
خر ق عا دت کـو مـــه ستا سی خد مت کـو مه
علم علـــما ن و او ر ه
علم ا بـــدا ن وا و ر ه

چه ته ر نخور سی جـا نـه — د یر په ضرو ر سئ جـانه
یا په نا سو ر سی جا نه — ما ته مجبو ر سی جـا نـه
دارو در ما ن دی ز ه یم
دخو ږو تو ا ن دی ز ه یم
ز ه بنه دو ا در کـــو م — زه بنه غـــذ ا در کـو م
هم مر با در کـــو م — هم تسلی د ر کـــو م

در نخ طبیب دی ز ه یـــم
دو ست و حبیب دی ز ه یم
د ضعیف یـــا ر ز ه یـــم — مل د بیـما ر ز ه یـــم
پر ر نخ په کا ر ز ه یـــم — د سختئ چـا ر ز ه یـــم
بی ما علا ج نـــلـــر ی
که تخت و تـا ج لـــر ی
ته چه ز کا م سی جا نه — تبجن سر سا م سی جانه
او یا جذ ا م سی جـا نه — او نا آ را م سی جـا نــه

ما تـــه ز ا ر ی کـــو ی
هم عا جز ی ی کـــو ی
ز ه خیسا ند ی در کـوم — ز ه جو شا ند ی در کو م
سفو ف کپی در کـوم — او بنی نسخی در کـــو م
چه رو غ ر می سی نـــو
له ما پـر د ی سی نـــو

## جناب ملا صاحبوایی

زه چـــه مـــلا یـــمـــه — لـو ړ تـر هر چـا یـــمـه
هـم مقتـد ا یـــمـــه — هـــم ر هنما یـــمـــه
خد مت دد ین کـــو مـه
هـــم د آ ئین کـــو مـه

ز ه کلمه د ر بنیـــم — بنـه عقیـد ه در بنیم
لمو نخ و رو ز ه در بنیم — حج صد قـه در بنیـــم
تا ته ا ز ا ن کـــومه
دد یـن بیا ن کـــو مـــه

زه آخرت در بنیم — لار د جنت در بنیم
فرض او سنت در بنیم — او بنه خصلت در بنیم

یمه وارث د نبي
پر دین باعث د نبي

زه خو قرآن در بنیم — لار د سبحان در بنیم
رحیم رحمن در بنیم — صراط میزان در بنیم

چه مسلمان پاته سي
او په ایمان پاته سي

حلال حرام در بنیم — درب کلام در بنیم
سنت سلام در بنیم — د دین امام در بنیم

چه بنا یسته سي په دین
هم آراسته سي په دین

زه دي نکاح ترمه — پر زوی دي نوم ایږدمه
هم دي یاسین وایمه — هم دي په گور کي ږدمه

ژوند و حیات دي په ما
مرگ و ممات دي په ما

هم طهارت در بنیم — هم جماعت در بنیم
د شاه بیعت در بنیم — هم اطاعت در بنیم

دین و دنیا دي په ما
سود و سودا دي په ما

که ملا نه وي جانه — حال به دي خه وي جانه
ټوله به خره وي جانه — سړي به نه وي جانه

تاسي عوام بللي
بل کالانعام بللي

زما عزت ډیر کوي — زما حرمت ډیر کوي
بنه مي خدمت ډیر کوي — شکر نعمت ډیر کوي

زه مقتدا یمه
چه مو ملا یمه

## عسکر وایي

زه چه عسکر یمه نو — ستاسخ ته سپر یمه نو
د ټولو سر یمه نو — چه تیر تر سر یمه نو

یم فدائی د وطن
یم قربانی د وطن

په ورځ پهره یمه زه    په شپه گزمه یمه نو
کمر بسته یمه زه    تل آماده یمه نو

چه وخت د کار راسی
عسکر تیار راسی

پر دښت و غر یمه زه    پر سنگ و سخر یمه زه
یا په سنگر یمه زه    د ښمن ته سپر یمه زه

په لاس توپک لرمه
جاغور یی ډک لرمه

زه ښه رهبر لرمه    قاید زړه ور لرمه
تیره خنجر لرمه    الله اکبر لرمه

تگ پر مخ دروم ژر ژر
نصرت به مومه ژر، ژر

زه پاسبانی کومه    نگهبانی کومه !!
پهلوانی کومه    سرحدداری کومه

د ښمن له ما بیریږی
رهزن له ما تیریږی

زما د برچی په اثر    زما د نیزی په اثر
زما د پهری په اثر    زما د گزمی په اثر

پر کار تاو ده یاست مدام
دشپی بیده یاست مدام

هر خوک چه کار کوی    یا بل روزگار کوی
کښت و گذار کوی    یا میله ښکار کوی

دی د عسکر برکت
چه شو حاصل امنیت

## حاکم او مامور وایی

زه چه مامور یمه    ډیر په ضرور یمه
بند په دستور یمه    خو را مجبور یمه

مسئولیت لرمه
خوف و وحشت لرمه

که تاسی لړه لري / یا بله اړه لري
یا وړ نا وړه لري / او یا جگړه لري
زه یې چاره کومه
ښې فیصله کومه

که واقعه پیښه سي / یا یو فتنه پیښه سي
یا غلبله پیښه سي / یامو دعوه پیښه سي
زه یې انتظام کوم
ښه یې انجام کوم

که چیری نه وی مامور / تاسی به یاست په ضرور
هر یو بدی ته مجبور / تل وی په وینو تك سور
نو په عذاب به یاست
خراب تراب به یاست

زه اداره کومه / ستا سرشته کومه
خورا یې ښه کومه / دغم چاره کومه
غل او غلیم موترتم
بد او لئیم موترتم
دمظلومانو مل یم / دعاجزانو مل یم
دغریبانو مل یم / دکمزورانو مل یم
پر ظالم جور کوم
دمظلوم غور کوم

## پاچا وایي

زه چه پاچا یمه / لوړ تر هر چا یمه
ستړی خورا یمه / تل په سودا یمه
غم د ملت دی پر ما
غم د دولت دی پر ما

غم د عسکو دی پر ما / غم دا فسر دی پر ما
غم د نوکر دی پرما / غم د چاکر دی پر ما
د ټولو غم گلوم
د ټولو هم گلوم

هم خارجي ادار ه — هم داخلي ادار ه
هم د نيوي ادار ه — هم مو ديني ادار ه
دا تو له زما پر ذمه
هر يو لري مظلمه
ستري ستومان يمه — د ير هر اسان يمه
هم پر يشان يمه — خوراحير ان يمه
خو نه زحمت دي پرما
خو نه خدمت دي پرما
دهر سړي غم پر ما — د لوي کچني غم پر ما
دخپل پر دي غم پر ما — هم د هر شي غم پر ما
د تول وطن امنيت
هم دي زما پر ذمت

زه يو سړي څه وکم — زه خوار کي څه وکم؟
خپل او پر دي څه وکم — مړ او ژوندي څه وکم
زه چه شپا نه شومه بيا
مسئو لخو زه شومه بيا
که پا چا نه وي ساعت — خراب به سي امنيت
خو د به تباه وي ملت — بر هم در هم سي دولت
وطن به اور سي نو
ستا به پر کور سي نو
تو له ملت ماته اړ — تو له دولت ماته اړ
هر رعيت ماته اړ — تول جمعيت ماته اړ
زما اطاعت به کوي
زما بنه خدمت به کوي

## جناب پير او مرشد وايي

تا ته ارشاد کوم — شپه ؤ ورځ داد کوم
غم د معاد کوم — تل د بنو ياد کوم
مرشد او پير يمه زه
ستا جلو گير يمه زه
زه حقيقت د ر بنيم — زه طريقت در بنيم
زه محبت د ر بنيم — د زړه الفت در بنيم

تا ته اسرار وایم
دزړه گفتار وایم
مراقبی در بنیم	بنی رابطی در بنیم
بنی اندیبنی در بنیم	دزړه پردی در بنیم
ستاو ناسوت ته زوردی
زما و لاهوت ته زوردی
زه خاص و عام در بنیم	عالی مقام در بنیم
خینی د بام در بنیم	دکار انجام در بنیم
بی ریایی در بنیم
ذکر جاری در بنیم
ته په ذلت اخته یی	په معصیت اخته یی
په شقاوت اخته یی	په عداوت اخته یی
ستا تصفیه کومه
ستا تزکیه کومه

## زاهداوگوبنه نشینوایی

زه زاهدی کومه	پته خواری کومه
هم عاجزی کومه	ربته زاری کومه
زه ریاکار نه یم
زه هوادار نه یم
نه په چاکار لرم	نه له چا عار لرم
نه کورودار لرم	په غره کی غار لرم
غریب بنده یم مسکین
ډیر افتاده یم مسکین !
پټی خلی کاږمه	خدای ته توبی کاږمه
خواری د شپی کاږمه	آه له سینی کاږمه
نه مریدی کړم دچا
نه خو پیری کړم دچا
نه قلقلی کومه	نه غلبلی کومه
نه مسئلی بنیمه	نه شك شبهی بنیمه
بنه قناعت می کړی
صبر و طاقت می کړی

نه طالبان لرم          نه مریدان لرم
نه دښمنان لرم          نه مخلصان لرم

گوښه نشین یمه زه
عاجز مسکین یمه زه

زه د هر شي محتاج          د هر سړي محتاج
د لوی کچني محتاج          د خپل پردي محتاج

زه د هیڅ کار نه یم
د هیڅ روزگار نه یم

نظام گوره د رب          زه هم په کار سوم عجب
خلق راځي په ادب          را څخه غواړي مطلب

زه هم دعا ورکوم
ښې بې ریا ورکوم

چې هر سړی سي مضطر          ما ته راځي برابر
حال یې خراب خوڅ جگر          په دواړه لاس وهي سر

ښه التجا کوینه
خواست د دعا کوینه

## معلم وایي

ته چه کچني وې جانه          نادان کمکی وې جانه
یو محض شی وې جانه          بلکه لا شی وې جانه !

ستا تربیت مې کاوه
ستا ښه خدمت مې کاوه

ما «الف» ب درښووه          ما «ت» او «ث» درښووه
ما «ج» او «ح» درښووه          ټول مې تر «ی» درښووه

علم وادب مې درښود
وقت د مکتب مې درښود

اوس خو انشا درښیم          یا ښه املا درښیم
لیکل اعلا درښیم          سمه وینا درښیم

خط کتابت درښیم
لوست قرائت درښیم

علم و حکمت در ښیم    انسانیت د ر ښیم
علو همت د ر ښیم    لوړ شرافت در ښیم
خوی د سړی در ښیم
آدم گری د ر ښیم

فضل و هنر د ر ښیم    نفع و ضرر د ر ښیم
هم بحر و بر د ر ښیم    هم لرو بر د ر ښیم
له تا سړی جوړ وم
تا آدمی جوړ وم

مدنیت د ر ښیم    جامعیت د ر ښیم
آدمیت د ر ښیم    ادبیت د ر ښیم
چه ښه فاضل سی جانه
او ښه کامل سی جانه
نور ظاهری خدمت کا    ستا جسمانی خدمت کا
د باندنی خدمت کا    هم سرسری خدمت کا
زه روحانی خدمت کړم
هم وجدانی خدمت کړم

نو خو حق د یر لـــر م    تر هر چا تیر لـــر م
خدمت نه هیر لـــر م    نه تیر و بیر لـــر م
ټول جامعی ته خدمت
کوم په ښه صداقت

## مهندس وایي

زه هندسه در ښیم    زه زاویه د ر ښیم
کنج و گونیه د ر ښیم    هم رقبه در ښیم
ښه مساحت د ر ښیم
زه مسافت د ر ښیم
متوازی د ر ښیم    خط مساوی د ر ښیم
جریب کښي د ر ښووم    مهندسی د ر ښیم
هم پیمایش کومه
هم ښه سنجش کومه

خنګه شی کارم        ښی دایری کارم
هم زدنی کارم        ښی قایمی کارم
هم مثلث جوړوم
هم مسدس جوړوم
- ته کوټی جوړوی        یا ښه ماڼی جوړوی
یا حویلی جوړوی        یا ښه خونګی جوړوی
زه بی نقشه کومه
زی پیمانه کومه
که یو لوی ښار جوړوی        یا کم بازار جوړوی
یا سمه لار جوړوی        بی ما هیڅ کار نه کیږی
اول په کاریمه زه
کله ازګاریمه زه
زه د هر چا یم په کار        زه خامخا یم په کار
هم د پاچا یم په کار        هم د ګدا یم په کار
بی ما چاره نلری
بی مارجه نه لری

## ادیب وایی

زه چه ادیب یمه        نو ستا حبیب یمه
زه عندلیب یمه        ادیب لبیب یمه
زه خو ملت ویښوم
زه خودولت ویښوم
نازک خیالونه لرم        تازه فکرونه لرم
څه ښه شعرونه لرم        ښه بیانونه لرم
تنویر د فکر کوم
د هر شی ذکر کوم
ښی قصیدی جوړوم        ښی ترانی جوړوم
ښی رسالی جوړوم        ښی مجلی جوړوم
وطن پر شوق راولم
وطن پر ذوق راولم
ادبیات لیکم        ښه بیانات لیکم
ښه مقالات لیکم        لوړ عنوانات لیکم

خدمت کوم په قلم
بیان کوم په ښه چم
زه چه ناری وهمه    یا غلبلی وهمه
یا مضامین لیکمه    در و گوهر پیيه
دا ټوله ستاد پاره
د خپل آشنا د پاره
عصری آداب درښیم    لار د مآب درښیم
هر پیچ و تاب درښیم    سم و خراب درښیم
ستا د ویښتیا د پاره
دارتقاء د پاره
گاه مضامین ادبی    کله علمی ـ سیاسی
اجتماعی او عصری    د زړه په وینو لیکی
کار دا دیب دی دا
د پوه طبیب دی دا
خوب و آرام نه لرم    تل په فکر و نو ډوبیم
ټول خیر و شر سنجوم    لار د ښیگڼی ښیم
د خپل قلم په قوت
ولاړومه ملت

## نتیجه

د رب نظام ته گوره    فکر و کړه و روره
ما خو په تا چلوی    تا هم په ما چلوی
دادی رفتار د دنیا    دادی روز گار د دنیا
یو سړی نه چلیږی    په هر کار نه رسیږی
معاونان غواړی    خدمتگاران غواړی
ډیری شعبې غواړی    ډیری پیشې غواړی
هم نانوایان غواړی    هم قصابان غواړی
هم نجاران غواړی    هم معماران غواړی
هم بزگران دی په کار    آهنگران دی په کار
هم جولایان دی پکار    هم خیاطان دی پکار
هم ملایان دی پکار    هم ادیبان دی پکار
دولت ملت غواړی    ملت دولت غواړی

هر سړی بیل دی پکار
بنار او بازار دی پکار
هم دکاندار دی پکار
هم خرخوونکی په کار
هم تجار و کښ دی پکار
دا تعاون بولی!
لکه‌چه تیر سو بیان
ټول آدمیان سره اړ
نو نتیجه یی وروره
چه سره اړیو جانه!
زما بی تا نه رغیږی
ته بی وما ته احتیاج
نو محبت به کوو
زه به تا ورور بولم
د زړه الفت به کوو،
نو تکبر څه پکار
زه به ځان نه کنجوم
چه زه پلانی یمه!
ټول سره وړیوو روره
نو تیر و بیر څه پکار
نو عداوت څه پکار
زه به تر تا جار یږم
چه زما په کار سوی ته
ته به تر ما جار یږی
زه دی په کار یمه
بی ما چاره نه لری
ټول سره اړ یو نو
هر سړی کار لری
هر یو په کار دی جدا
نو یی عزت کوه تل
هم یی حرمت بنه کوه
ځان ترده به مه بوله

کلی او خیل دی پکار
بزاز سیمسار دی په کار
هم خریدار دی پکار!
هم رانیوونکی په کار!
هم امبار کښ دی په کار
دا تمدن بولی
وتاته بسو بنه عیان
ټول انسانان سره اړ
داده دلاندی ګوره
نو سره وړیو جانه
ستا بی ما نه رغیږی
زه یم وتاته احتیاج
بنه شفقت به کوو
هم دی غمخور بولم
ټینګ صداقت به کو
نو تجبر څه پکار
زه به ځان نه پړسوم
زه بستانکی یمه!
چه سره اړیو وروره
نو زور و زیر څه پکار
نو شقاوت څه پکار
هم به‌په تا نازیږم
نو خو می یار سوی ته
بنه په رښتیا جاریږی
زه خو ستا یار یمه
هیڅ وسیله نه لری
ټول سره وړیو نو
جلا روزګار لری
ستا مددګار دی جدا
هم یی خدمت کوه تل
هم یی الفت بنه کوه
بلکه یی که وبوله

که خه بادار یی نن
که خدمتگار دی ستا
تر ده ته اړ ووده ته
که لږ څه فکر وکړی
که تخت و تاج لری
چه احتیاج لری
نو عاجزی کوه تل
پر چا منت مه کوه
هر سړی زړه لری نو
هر سړی خیال لری
هر یو نفس لری
هر یو دماغ لری
تا رنگه خان لری
قدر و قیمت لری نو
خلقت مو یو رنگه دی
که مو رنگونه بیل دی
هر یو دی بیل آدمی
نو یی خپل ورور بوله
چه هم انسان وی جانه
هم بیا افغان وی خانه
نو دزړه سر یی بوله
دغه دی ورور دی نو
نو که غلجی وی وروره
آغا لالا یی بوله

خوار ناچار یی نن
خو ډیر پکار دی ستا
مکړه کبر پروده ته
او د حق ذکر وکړی
خو بیا احتیاج لری
څه لوړ مزاج لری ؟
ښه منصفی کوه تل!
جبر و محنت مه کوه
هر سړی خوله لری نو
هر سړی سیال لری
هر یو هوس لری
په زړه کی داغ لری
ښه عالی شان لری
د خان عزت لری نو
نسبت مو یو رنگه دی
یا مو کارونه بیل دی
هم دی تا ونگه سړی!
د بهتر گوتو رور بوله
هم مسلمان وی جانه
او زموږ په شان وی خانه
نور البصر یی بوله !
هم ستا د کور دی نو
که درانی وی وروره
کاکا، بابا یی بوله

هم زما هم ستا یی بوله
تر خان بالا یی بوله

(کندهار ـ ۱۳۵۱ هـ ق)

PROPERTY OF ACKU 9337

# THE PAXTO MATHNAWI

By

M. SALEH MOHAMMAD KANDAHARI

of

AFGHANISTAN ACADEMY
KABUL

1971